# لومړی فصل

## موضوع: ديني او اخلاقي ارزښتونه

## ژانر: روايتي (حکايت)



**دين او اخلاق مو د ژوند لوری سموي.**



١. د ژوند سم لوری کوم دی؟
٢. دین او اخلاق مو پر ژوند کومې اغېزې پرېباسي؟
٣. دین او اخلاق ولې مهم دي؟
۴. دین او اخلاق څه رابطه سره ده؟
۵. ښه اخلاق انسان ته کومې ګټې لري؟



**په کیسو کې د ژوند درسونه نغښتي دي.**

Ketabton.com



١. حکایتونه او کیسې زموږ له ژوند سره څه رابطه لري؟
٢. په حکایتونو او کیسو کې د ژوند درسونه څنګه معلومولی شو؟
٣. لیکوال د حکایتونو کرکټرونه څنګه لوبوي چې د واقعي کسانو غوندې ښکاره شي؟
۴. په حکایتونو کې حیواني یا غیر ژوندي کرکټرونه د څه شي تمثیل کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دې فصل هدفونه

گرانو زده‌کوونکو! تاسې به د دې فصل تر پایه پورې وکولی شئ چې:

۱. د عنوان او انځور له مخې د کیسو په اړه وړاندوینه وکړئ.

۲. توضیح کړئ چې د کیسو صحنې مو په ذهن کې څنګه مجسمې کړې.

۳. د کیسې د چارټ په ډکولو سره  د کیسو پیل، منځ، او پای تشخیص کړئ.

۴. د کیسو په اړه استباطي پوښتنې ځواب کړئ.

۵. د کیسې د کرکټرونو عملونه وارزوئ.

۶. د کیسو په اړه خپل نظر بیان کړئ.

## لومړۍ اونۍ

### د درس هدفونه

گرانو زده‌کوونکو! تاسې به د دې درس تر پایه پورې وکولی شئ چې:

۱. پر برخو د وېشلو له لارې، د ۴ داسې کلمو معنا پیدا کړئ چې د «تیا» روستاړی لري؛

۲. په ډله‌ییز بحث کې د ملګرتیا په اړه خپل نظر څرګند کړئ؛

۳. داسې مفردې کلمې په جمع واړوئ چې په (ي، ی، ـه) سره جمع کېږي؛

۴. د اوس مهال جملې مطلق او جاري تېر مهال ته واړوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| مهـ - ـر - با - ني | و - فر - ما - يل | خوا - شيـ - ـنۍ |
| گـ - ـنا - هو - نه | گـ - ـنا - هو - نو | اسـ - ـويـ - ـلی |

عرض وکړ | وفرمایل | خواشینی | اسویلی

اټکل وکړئ: د کیسې عنوان او انځور ته وګورئ او اټکل وکړئ چې په کیسه کې به څه کېږي.

ولولئ: کیسه په ټيټ غږ ولولئ او د هرې برخې تر لوستلو وروسته يې په ذهن کې مجسم کړئ.

## د الله ﷻ مهرباني

يو ماښام، موسی علیه سلام د طور په غره کې خدای ﷻ ته عرض وکړ: «یا الله! غواړم ستا تر ټولو بد بنده ووينم.»

الله ﷻ وفرمايل: «سبا سهار وختي د ښار دروازې ته ورشه. هر څوک چې تر ټولو مخکې له ښار څخه ووت، هغه مې تر ټولو بد بنده دی.»

موسی علیه سلام سهار وختي د ښار دروازې ته ولاړ. ويې ليدل چې لومړی يو سړی له خپلې لور سره له ښاره څخه وځي. موسی علیه سلام په زړه کې وويل چې دا غريب خبر نه دی چې د الله ﷻ تر ټولو بد بنده دی.

بيا يې الله ﷻ ته وويل: «یا الله ﷻ ! اوس غواړم ستا تر ټولو ښه بنده هم ووينم.»

الله ﷻ وفرمايل: «ماښام د ښار له دروازې سره ودرېږه. هر څوک چې تر ټولو وروسته ښار ته ننوت، هماغه مې تر ټولو ښه بنده دی.»

موسی علیه سلام ماښام د ښار دروازې ته ولاړ. که ګوري چې هماغه سړی او لور يې تر ټولو وروسته ښار ته ننوتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موسی علیه سلام حیران شو. پوښتنه یې وکړه: «ای مهربانه ربه! څنګه کېدای شي چې هماغه یو کس هم تر ټولو ښه وي، هم تر ټولو بد؟»

[تصویر: د شرق له لوري د لمر څرک، د لرغونو زمانو د ښار دروازه چې ځینې خلک د ښار څخه د وتلو لپاره د دروازې خوا ته روان دي. تر ټولو مخکې یو په عمر پوخ سړی چې توره پګړۍ یې په سر او اوږد سپین کمیس یې په تن دی، له یوې (۱۰- ۱۱ کلنې) نجلۍ سره روان دی.]

الله جَلَّ جَلَالُهُ وفرمایل: «زه به یې حال درته ووایم.»

دی چې له خپلې لور سره له ښار څخه ووت، غرونو ته ولاړ. لور یې د غرونو په لیدو سره پوښتنه وکړه: «بابا! تر دې غرونو لوی به څه شی وي؟»

هغه ځواب ورکړ: «تر غرونو لوی آسمان دی.»

لور یې بیا پوښتنه وکړه: «تر آسمان لوی به څه شی وي؟»

هغه په خواشینۍ سره وویل: «ستا د پلار ګناهونه.»

لور یې وویل: «او ستا تر ګناهونو لوی به څه شی وی؟»

پلار یې سوړ اسویلی وکیښ، ویې ویل: «د خدای مهربانی تر هر څه لویه ده. زه په خپلو ګناهونو پښېمانه یم. زه به توبه وکړم او خدای به مې وبخښي.»

**کورنۍ دنده:** د کورنۍ له مشرانو یا د جومات له ملا امام صاحب څخه وغواړئ چې د الله د مهربانۍ په اړه نور معلومات درکړي. تاسې دغه معلومات ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| فصل ۱ | اونۍ ۱ | درسي ساعت ۲ |
|---|---|---|

**ووېشئ او معنا يې کړئ:** د چوکاټ کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکئ. بیا مو د څنګ له ټولګیوالو سره، هره کلمه د مثال په شان پر برخو (اصلي برخه او روستاړي) ووېشئ او معنا یې پیدا کړئ.

| کلمه | اصلي برخه ـ روستاړی | د کلمې معنا |
|---|---|---|
| خواشیني | خوا ـــ شین ـــ ي | **خوا** = زړه، **شین** = د خوږېدو نښه، **ي** = د حالت روستاړی<br>**خواشیني** = هغه حالت چې د چا زړه وخوږېږي او خپه وي |
| خواخوږي | | |
| خواګرځي | | |
| خوابدي | | |
| خواتوري | | |

**د کیسې چارټ: د کیسې چارټ په خپلو کتابچو کې رسم کړئ. بیا مو د څنګ له ټولګیوالو سره د کیسې پیل، منځ او پای پیدا او چارټ ډک کړئ.**

| پیل | | منځ (د کیسې خوکه) | پای | |
|---|---|---|---|---|
| کرکټرونه | | | د ستونزې حل | |
| ځای – زمان | | | | |
| ستونزه | | | نتیجه/ پیغام | |

**ویې ارزوئ: د کیسې د کرکټرونو په اړه فکر وکړئ. د هر کرکټر په اړه دغو پوښتنو ته ځواب ووایئ:**

۱. څه يې وکړل؟

۲. ولې يې وکړل؟

۳. کار يې سم او منطقي و، که نه؟ دلیل مو څه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بحث وکړئ:** تاسي به په ډلو کې د «مهرباني» په اړه بحث وکړئ. هر څوک به په خپله ډله کې د لاندې پوښتنو په اړه خپل نظر څرګندوي. د بحث په پای کې به د ځینو ډلو استازي د خپلې ډلې د بحث نتیجه نورو ته ووايي.

**د بحث پوښتنې:**

۱. مهربان چا ته وایو؟

۲. مهرباني څه ګټې لري؟

۳. له چا سره څنګه مهرباني په کار ده؟

**په بحث کې به په خپل وار خبرې کوو او د بل په خبرو کې به نه ور لوېږو!**

**لیکنېې وکاروئ:** لاندې جملې په خپلو کتابچو کې ولیکئ او د [! . : « » ؟] لیکنښې په مناسبو ځایونو کې وکاروئ.

۱. الله ﷻ وفرمایل : «سبا سهار وختي د ښار دروازې ته ورشه.»

۲. موسی علیه سلام عرض وکړ _ یا الله _ غواړم ستا تر ټولو بد بنده ووینم _

۳. پوښتنه یې وکړه _ ای مهربانه ربه _ هغه څنګه پیدا کړم _

۴. هغه ځواب ورکړ _ تر غره لوی آسمان دی _

۵. لور یې بیا پوښتنه وکړه _ تر آسمان لوی به څه شی وي _

**کورنۍ دنده:** نن مو له ټولګیوالو سره د مهربانۍ په اړه بحث وکړ. په دې بحث کې چې مو څه زده کړل، هغه په کتابچو کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وويېشئ او ويې ليکئ:** د ټولګيوالو سره مو لاندې کلمې پر برخو وويېشئ او په خپلو کتابچو کې يې وليکئ.

| | |
|---|---|
| ګناهونه | ګناهـ ـونه |
| ګناهونو | |
| غرونو | |
| خواشينۍ | |
| مهرباني | |

**فکر وکړئ:** دلته د کيسې په اړه داسې پوښتنې لولئ چې ځوابونه يې په کيسه کې نشته. بيا مو د ښځګ له ټولګيوالو سره د پوښتنو ځوابونه پيدا او په خپلو کتابچو کې يې وليکئ.

۱. موسی عليه سلام د خورا بد او خورا ښه بنده پوښتنه ولې له خدای څخه وکړه؟

۲. الله ﷻ د هغه ګناهکار سړي ګناهونه ولې وبخښل؟

۳. هغه سړي ولې وويل چې ګناهونه يې تر آسمان لوی دي؟

**ويې ارزوئ:** د کيسې د کرکټرونو کارونه وارزوئ او په خپلو کتابچو کې د دې پوښتنو ځوابونه وليکئ.

۱. د خپلو پوښتنو د ځواب د موندلو لپاره د موسی عليه سلام چلند څنګه و؟

۲. د هغه ګناهکار سړي کار ستاسو په نظر څنګه و؟

**خپل نظر وليکئ:** د کيسې کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ د کيسې تلوسه څنګه ده؟ له دې کيسې څخه مو څه زده کړل؟په کتابچو کې مو د کيسې په اړه خپل نظر وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهمه اونۍ

## د درس هدفونه

**ګرانو زده‌کوونکو! تاسې به د دې درس تر پایه پورې وکولی شئ چې:**

**۱. پر برخو د وېشلو له لارې، د ۴ داسې کلمو معنا پیدا کړئ چې د «جن» روستاړی لري؛**

**۲. په ډله‌ییز بحث کې د احسان په اړه خپل نظر څرګند کړئ؛**

**۳. د [. : « » ؟] به په جملو کې سمې وکاروئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

فصل ۱ | اونۍ ۲ | درسي ساعت ۱

| | | |
|---|---|---|
| ژغو – رېـ – ـد – لی | رغـ – ـيا – نه | وا – ړَ – و – له |
| و – کینـ – ـد – له | ما – ڼېـ – ـجن | ړنـ – ـگـ – ـو – لو |

احسان | رغیانه | بیابان | ماڼېجن

اټکل وکړئ: د کیسې عنوان او انځور ته وګورئ او اټکل وکړئ چې په کیسه کې به څه کېږي.

ولولئ: کیسه په ټیټ غږ ولولئ او د هرې برخې تر لوستلو وروسته یې په ذهن کې مجسم کړئ.

## احسان

د اوړي په یوه توده ورځ کې دوه خواره ملګري په بیابان کې په سفر روان وو. د مزل په منځ کې یې څه خبره سره واړوله. دا یوه ملګري بل ملګري ته کلکه څپېړه ورکړه. دا بل خوږ شو، خوابدی شو، خو څه یې ونه ویل. هغه یوازې د بیابان پر شګو باندې ولیکل: «نن خپل خواږه ملګري پر مخ څپېړه راکړه.»

دوی بیا په بیابان کې روان شول، خو لکه یو بل چې بښخي نه پېژني، خبرې یې نه کولې. وهل شوی لا هم ماڼېجن و. وهونکی هم په خپل کار پښېمانه او غمجن و. دوی ښه مخ ته لاړل او یوې رغیانې ته ورسېدل. د دواړو سخته ګرمي شوې وه. د اوبو په لیدو د لامبو وهلو هوس ورولوېد. اوبو ته ورغلل. دا یو چې په څپېړه وهل شوی و، اوبو ته وښوییږد. اوبه ډېرې وې او د ده لامبو نه وه زده. اوبو لاندې کاوه چې هغه بل ملګري یې اوبو ته ورټوپ کړ. ځان یې ور ورساوه او هغه یې وژغوره. ژغورېدلی یو شېبه د اوبو په غاړه کې پرېوت چې ساه یې سمه شي. بیا راپاڅېد، چاقوګی یې را

(c) ketabton.com: The Digital Library

وایست او پر یوې ډبرې یې دا جمله وکیندله: «نن خپل خواږه ملګري له لاهو کېدو څخه وژغورلم.» بیا یې په موسکه خوله ملګري ته ور وکتل.

ملګری یې هم موسکی شو او ویې وویل: «هغه بل ځل دې د څپېړې خبره پر شګو ولیکله او اوس دې د ژغورېدلو خبره پر تیږه وکیندله، چې دا ولې؟»

ده ورته وویل: «د نورو د ناسم چلند خاطره باید پر شګو ولیکو چې د بخښنې له نري باد سره ختمه شي، خو د احسان خاطره یې باید پر تیږه وکیندو چې هېڅ باد یې د ړنګولو وس ونه لري.»

[تصویر: د لوی بیابان په منځ کې یوه رغیانه (واحه). یو ځوان هلک په اوبو کې د ډوبېدو په حال کې او بل ځوان د هغه د ژغورلو په حال کې]

**کورنۍ دنده:** د احسان کولو په اړه ستاسو تجربه څه ده؟ په اړه یې څو جملې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ووېشئ او معنا يې کړئ: د چوکاټ کلمې په خپلو کتابچو کې وليکئ. بيا مو د څنګ له ټولګيوالو سره، هره کلمه د مثال په شان پر برخو (اصلي برخه او روستاړي) ووېشئ او معنا يې پيدا کړئ.**

| کلمه | اصلي برخه ـ روستاړی | د کلمې معنا |
|---|---|---|
| ماڼېجن | ماڼې ـــ جن | **ماڼې** = ګيلې، **جن** = لرونکی<br>**ماڼېجن** = هغه څوک چې له چا ګيلەمن وي |
| زهرجن | | |
| کرکجن | | |
| قهرجن | | |
| غمجن | | |

**د کيسې چارټ: د کيسې چارټ په خپلو کتابچو کې رسم کړئ. بيا مو د څنګ له ټولګيوالو سره د کيسې پيل، منځ او پای پيدا او چارټ ډک کړئ.**

| پيل | | منځ (د کيسې څوکه) | پای | |
|---|---|---|---|---|
| کرکټرونه | | | د ستونزې حل | |
| ځای – زمان | | | | |
| ستونزه | | | نتيجه/ پيغام | |

**ويې ارزوئ: د کيسې د کرکټرونو په اړه فکر وکړئ. د هر کرکټر په اړه دغو پوښتنو ته ځواب ووايئ:**

۱. څه يې وکړل؟

۲. ولې يې وکړل؟

۳. کار يې سم او منطقي و، که نه؟ دليل مو څه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

| فصل ۱ | اونۍ ۲ | درسي ساعت ۳ |
|---|---|---|

**بحث وکړئ:** تاسي به په ډلو کې د «احسان» په اړه بحث وکړئ. هر څوک به په خپله ډله کې د لاندې پوښتنو په اړه خپل نظر ښکاره کړي. د بحث په پای کې به د ځینو ډلو استازي د خپلې ډلې د بحث نتیجه نورو ته ووايي.

**د بحث پوښتنې:**

۱. کوم کارونه احسان بللی شو؟

۲. له بدو خلکو سره احسان څنګه وي؟

۳. د احسان نتیجه به څه وي؟

**کله چې بحث کوو، کېدای شي نظرونه مو سره توپیر ولري. خپل نظر باید په سړه سینه ووایو.**

**لیکنښي وکاروئ:** لاندې جملې په خپلو کتابچو کې ولیکئ او د بېلګې لـه مخـې د [. : « » ؟] لیکنښې په مناسبو ځایونو کې وکاروئ.

۱. پر شګو باندې يې وليکل: «نن خپل خواره ملګري په مخ څپېړه راکړه.»

۲. ملګري يې وويل _ د ژغورېدلو خبره دې پر تیږه وکیندله، چې دا ولې _

۳. پر ډېرې یې دا جمله وکیندله _ نن خپل ملګري له لاهو کېدو وژغورلم _

۴. ده ورته وويل _ د نورو د ناسم چلند خاطره باید پر شګو وليکو _

۵. هغه ځواب ورکړ _ د احسان خاطره يې باید پر تیږه وکیندو _

**کورنۍ دنده:** نن مو د احسان په اړه بحث وکړ. په دې بحث کې چې مو څه زده کړل، هغه په کتابچو کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وویښئ او ویې لیکئ: د څنګ له ټولګیوالو سره مو لانـدې کلمـې پـر برخـو وویشـئ او پـه خپلـو کتابچو کې یې ولیکئ.**

| ماڼېچن | ماڼېـ جن |
|---|---|
| خوابدی | |
| ژغورېدلی | |
| غمجن | |
| ور ورساوه | |

**فکر وکړئ: دلته د کیسې په اړه داسې پوښتنې لولئ چې ځوابونـه یـې پـه کیسـه کـې نشـته. د څنګ له ټولګیوالو سره مو د پوښتنو ځوابونه پیدا او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.**

۱. هغه چې پر تیرې یې جمله وکیندله، ولې یې خپل ملګري ته په موسکه خوله ور وکتل؟

۲. که د ډوبېدو او ژغورلو پېښه نه وای شوې، د دې ملګرو خپګان به څومره غځېدلی وای؟

۳. تر دې پېښې وروسته به د هغو دوو ملګرو ملګرتیا څنګه شوې وي؟

**ویې ارزوئ: د کیسې د کرکټرونو کارونه وارزوئ او په خپلو کتابچو کې د دې پوښتنو ځوابونه ولیکئ.**

۱. هغه کس چې خپل ملګری یې په څپېړه وواهه، څنګه انسان و؟

۲. ستاسو په نظر د وهل شوي ملګري چلند څنګه و؟

**خپل نظر ولیکئ: د کیسې کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شـوه؟ د کیسـې تلوسـه څنګه ده؟ له دې کیسې څخه مو څه زده کړل؟په کتابچو کې مو د کیسې په اړه خپل نظر ولیکئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریمه اونۍ

## د درس هدفونه

**ګرانو زده‌کوونکو! تاسې به د دې درس تر پایه پورې وکولی شئ چې:**

۱. پر برخو د وېشلو له لارې، د ۴ داسې کلمو معنا پیدا کړئ چې د «تیا» روستاړی لري؛

۲. په ډله‌ییز بحث کې د ملګرتیا په اړه خپل نظر ښرګند کړئ؛

۳. داسې مفردې کلمې به په جمع واړوئ چې په (ي، ی، ـه) سره جمع کېږي؛

۴. د اوس مهال جملې به مطلق او جاري تېر مهال ته واړوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| فصل ۱ | اونۍ ۳ | درسي ساعت ۱ |
|---|---|---|

| | | |
|---|---|---|
| کيـ - ـشـ - ـپه | خوشـ - ـحا - لي | او - سېـ - د - لي |
| با - را - نو - نه | غمـ - ـجـ - ـنې | ر - سېـ - د - لي |

پتکه | کړتنه | خورا | مشوره

اټکل وکړئ: د کيسې عنوان او انځور ته وګورئ او اټکل وکړئ چې په کيسه کې به څه کېږي.

ولولئ: کيسه په ټيټ غږ ولولئ او د هرې برخې تر لوستلو وروسته يې په ذهن کې مجسم کړئ.

## ملګرتيا

يوه کيشپه او يوه جوړه پتکې سره ملګرې وې. دوی په يوه ډنډ کې اوسېدلې او هر وخت به يې سره کيسې کولې. کيشپه ډېره کړتنه وه. مدام به يې خوله خلاصه وه او خبرې به يې کولې.

يو کال بارانونه کم وو او وچکالي راغله. د ډنډ اوبه په وچېدو وې. پتکو فکر وکړ چې که ډنډ بېخي وچ شي، دوی به څه کوي.

کيشپې مشوره ورکړه چې پتکې دې والوځي او چېرته بل ډنډ دې پيدا کړي. بيا به درې واړه هلته ولاړې شي.

پتکې والوتلې. ډېرې وګرځېدې او بيا راستنې شوې. دوی يو ښايسته ډنډ موندلی و، خو ستونزه دا وه چې ډنډ خورا لرې و. کيشپې ته خورا سخته وه چې تر هغه ځايه پورې لاړه شي. درې واړه انديښمنې وې چې دا به څنګه شي؟

خو کيشپې بيا هم مشوره درلوده: «ګورئ! يوه کلکه لښته راواخلو. دواړه سرونه يې تاسې په مښوکه کې ونيسئ او زه به د لښتې منځ په خوله ټينګ ونيسم. تاسې به والوځئ او ما به هم په هوا کړئ.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوې پتکې له خوشحالۍ ناره کړه: «واه! څومره ښه مشوره!»

بلې پتکې وويل: «مشوره خو ښه ده، خو ګوره ملګرې! ستا عادت دی چې خبرې ډېرې کوې. که ته په هوا کې خبرو ته خوله خلاصه کړې، نو بيا؟»

کيشپې وويل: «بې غمه شه. زه به تر هغې پورې خبرې نه کوم چې ډنډ ته نه يو رسېدلې.»

پتکو لښته په منبوکه کې ونيوه او کيشپې د لښتې منځ په خوله ټينګ کړ. درې واړه په هوا شوې.

واه! له پاسه هر څه څومره بدل ښکارېدل! کيشپې ته دا پېښه ډېره په زړه پورې وه. څو وارې يې زړه وشو چې څه ووايي، خو خپله ژمنه يې ور په زړه شوه. هغې ژمنه کړې وه چې خوله به نه خلاصوي.

له ډېر مزل وروسته، درې واړه ډنډ ته ورسېدې. لوی ښکلی ډنډ چې اوبه يې د آسمان په رنګ نيلي وې. کيشپې د ډنډ په ليدو سره ناره کړه: «واه! څومره ښکلی ډنډ!»

له دې خبرې سره له پاسه راخطا شوه. د ډنډ په غاړه کې پر تيږو ولوېده او سخته خوږ شوه. خوارکۍ کيشپه ځکه ولويده شوه چې بې وخته يې خبرې وکړې.

[تصوير: يوه جوړه پتکې په هوا کې، د لښتې دوه سرونه يې په منبوکو نيولي دي او يو کيشپ د لښتې منځ په خوله ټينګه نيولې ده. لاندې يو وچېدونکی ډنډ او شاوخوا يې مړاوې ونې ښکاري]

**کورنۍ دنده:** ستاسو ښه ملګری څوک دی يا ښه ملګرې مو څوک ده. په اړه يې څلور جملې وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ووېشئ او معنا يې کړئ: د چوکاټ کلمې په خپلو کتابچو کې وليکئ. بيا مو د څنګ له ټولګيوالو سره، هره کلمه د مثال په شان پر برخو (اصلي برخه او روستاړي) ووېشئ او معنا يې پيدا کړئ.**

| کلمه | اصلي برخه ـ روستاړی | د کلمې معنا |
|---|---|---|
| ملګرتيا | ملګر ــ تيا | **ملګر** = ملګری، **تيا** = د حالت وروستاړی<br>**ملګرتيا** = هغه حالت چې څوک سره ملګري وي |
| بلدتيا | | |
| خبرتيا | | |
| ژمنتيا | | |
| ويښتيا | | |



**د کيسې چارټ: د کيسې چارټ په خپلو کتابچو کې رسم کړئ. بيا د خپل څنګ له ټولګيوالو سره د کيسې پيل، منځ او پای پيدا او چارټ ډک کړئ.**

| پيل | | منځ (د کيسې څوکه) | پای | |
|---|---|---|---|---|
| کرکټرونه | | | د ستونزې حل | |
| ځای – زمان | | | | |
| ستونزه | | | نتيجه/ پيغام | |



**ويې ارزوئ: د کيسې د کرکټرونو په اړه فکر وکړئ. د هر کرکټر په اړه دغو پوښتنو ته ځواب ووايئ:**

۱. څه يې وکړل؟

۲. ولې يې وکړل؟

۳. کار يې سم او منطقي و، که نه؟ دليل مو څه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بحث وکړئ:** تاسې به په ډلو کې د «ملګرتیا» په اړه بحث وکړئ. هر څوک به په خپله ډله کې د لاندې پوښتنو په اړه خپل نظر څرګندوي. د بحث په پای کې به د ځینو ډلو استازي د خپلې ډلې د بحث نتیجه نورو ته ووایي.

**د بحث پوښتنې:**

۱. ښه ملګری/ ملګرې څه رقم وي؟

۲. مور د ځان ملګرې/ ملګری کېدای شي؟

۳. سمه ملګرتیا څنګه وي؟

**کله چې په بحث کې څوک خپل نظر وایي، باید ښه ورته غوږ ونیسو!**

**د کلمو جمع بڼه ولیکئ:** لاندې کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکئ. بیا د هرې کلمې مخې ته جمع بڼه یې ولیکئ.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ملګری – ملګري | سړی - | بریالی - | ښکلی - | ژوندی - |
| خوښي – خوښۍ | وچکالي - | خوشحالي - | وروري - | ښادي – |
| مل – مله | غل - | خر - | مږ - | شین - |

**تېر مهال ته یې واړوئ:** لاندې جملې په خپلو کتابچو کې ولیکئ او د بېلګې په شان هره جمله مطلق او جاري تېر مهال ته واړوئ.

| اوس مهال | مطلق تېر مهال | جاري تېر مهال |
|---|---|---|
| کیشپه لښته په خوله نیسي. | کیشپې لښته په خوله ونیوه. | کیشپې لښته په خوله نیوله. |
| پتکه ډوډۍ خوري. | | |
| د ډنډ اوبه وچېږي. | | |
| کیشپه پر تیرو لوېږي. | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ووېشئ او ويې ليکئ:** د خپل ښنګ له ټولګيوالو سره لاندې کلمې پر برخو ووېشئ او په خپلو کتابچو کې يې وليکئ.

| وچکالي | وچـ ـکالي |
|---|---|
| خوشحالي | |
| خواره‌کی | |
| غمجنې | |
| ملګرتيا | |

**فکر وکړئ:** دلته د کيسې په اړه داسې پوښتنې لولئ چې ځوابونه يې په کيسه کې نشته. د خپل ښنګ له ټولګيوالو سره مو د پوښتنو ځوابونه پيدا او په خپلو کتابچو کې يې وليکئ.

۱. کومه پټکه مشره وه؟

۲. په کيسه کې ولې هر ځل کيشپه مشوره ورکوي؟

۳. پټکو ولې نه غوښتل چې کيشپه يوازې پرېږدي؟

**ويې ارزوئ:** د کيسې د کرکټرونو کارونه وارزوئ او په خپلو کتابچو کې د دې پوښتنو ځوابونه وليکئ.

۱. د پټکو کار درته ښنګه ښکاري؟

۲. د کيشپې مشورې ښنګه وې؟

**خپل نظر وليکئ:** د کيسې کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ د کيسې تلوسه ښنګه ده؟ له دې کيسې څخه مو څه زده کړل؟ په کتابچو کې مو د کيسې په اړه خپل نظر وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم ټولګی – دوهم فصل

## موضوع: طبیعت

## ژانر: معلوماتي (مقایسي)



**طبیعت د رازونو، ښکلاوو، خوندونو، او ګټو سرچینه ده.**



١ .د طبیعت رازونه څنګه راسپړلی شو؟

٢ .ښکلا څنګه پېژندلی شو؟

٣ .د طبیعت له ننداري څخه ولې خوند اخلو؟

۴ .په طبیعت کې د انسان لپاره کومې ګټې دي؟

۵. د طبیعت ښکلا او خوند څنګه ساتلی شو؟



**هر شی له بل شي سره ځیني ورته‌والي او ځیني توپیرونه لري.**



١ .د شیانو تر منځ ورته‌والي څنګه معلوملی شو؟

٢ .د شیانو د توپیرونو وجه څه ده؟

٣ .دوه شیان څنګه هم سره ورته وي او هم له یو بله توپیر لري؟

۴ .که ټول شیان ببخي سره یو شان وای، څه به پېښېدلای؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د فصل عمومي هدفونه

گرانو زده‌کوونکو! تاسې به د دې فصل تر پایه پورې وکولی شئ چې:

۱. د متن په اړه وړاندوینه وکړئ.

۲. د دوو شیانو توپیرونه او ورته‌والي په ډیاگرام کې وښیئ.

۳. د متن په اړه استنباطي پوښتنې ځواب کړئ.

۵. متن وارزوئ.

٦. د متن په اړه خپل نظر بیان کړئ.

## د لومړۍ اونۍ خاص هدفونه

گرانو زده‌کوونکو! تاسې به د دې درس تر پایه پورې وکولی شئ چې:

۱. پر برخو د وېشلو له لارې، د ۴ داسې کلمو معنا پیدا کړئ چې د «ین» روستاړی لري؛

۲. په ډله‌ییز بحث کې د ملگرتیا په اړه خپل نظر څرگند کړئ؛

۳. [،] لیکنښه په جملو کې وکاروئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| فصل ۲ | اونۍ ۱ | درسي ساعت ۱ |
|---|---|---|

| | | |
|---|---|---|
| نو - رسـ - ـتانـ - ـيان | او - سپـ - ـدونـ - ـکي | و - لا - يـ - ـتو - نه |
| ځنـ - ـګـ - ـلو - نه | جلـ - ـغو - ز - يو | اق - ـليـ - ـمو - نه |

اقليم | طبيعت | تورغوړی | تورلمی

**اټکل وکړئ:** لاندې جملې ولولئ او په کتابچه کې مو د هرې جملې شمېره وليکئ. که د جملې خبره درته صحيح ښکاري، د شمېرې مخې ته يې (ص) او که يې خبره درته غلطه ښکاري، د شمېرې مخې ته يې (غ) وليکئ. بيا د هر پراګراف تر لوستلو وروسته، وګورئ چې اټکل مو سم و که ناسم.

۱. نورستان او هلمند دواړه د افغانستان مرکزي ولايتونه دي.

۲. داوړه ګڼ ځنګلونه لري.

۳. د دواړو اوسېدونکي پښتانه دي.

۴. د نورستان هوا ډېره ګرمه ده، خو هلمند سوړ دی.

۵. نورستان غرنی دی، خو د هلمند ډېره برخه هواره ده.

۶. د هلمند سيند لوی دی، خو د نورستان سيندونه واړه دي.

**ولولئ:** لاندې متن په ټيټ غږ ولولئ. د هر پراګراف تر لوستلو وروسته، د هماغه پراګراف په اړه د وړاندوينې جمله وګورئ. که مو اټکل سم و، مخې ته يې ( ✓ ) او که ناسم و، مخې ته يې ( X ) وکاږئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نورستان او هلمند

نورستان او هلمند دواړه د افغانستان سرحدي ولایتونه دي. دواړه له پاکستان سره سرحد لـري، خـو نورستان د هېواد په ختیځ او هلمند په جنوب کې پروت دی. نورستان کـوچنی دی خـو هلمنـد د هېـواد خورا لوی ولایت دی. د هلمنـد مسـاحت (۶۱۸۲۹) مربـع کیلـومتره، خـو د نورسـتان مسـاحت (۹۹۴۲) مربع کیلومتره دی. د هلمند اکثره اوسېدونکي پښتانه دي، خو د نورستان ډېر خلک په قـوم نورسـتانیان دي او ژبه يې نورستاني ده.

نورستان او هلمنـد دواړه ښـکلی طبیعـت لـري. نورسـتان غرنـی سـیمه ده او غرونـه يـې پـه طبیعـي ځنګلونو پوښلي دي. د نورستان په ځنګلونو کـې د نښـتر، لمنځـې، څېـړۍ، ښـوون (زیتـون)، جلغوزیـو، بادام، انځر او نورې ونې شته. د هلمند ډېره برخه هواره ده، غرونـه پـه کـې کـم او ډاګونـه زیـات دي. پـه هلمند کې طبیعي ځنګلونه خورا کم دي، خو د انګورو، انارو او بادامو باغونه په کې ډېر دي.

نورستان او هلمند دواړه ډول ډول وحشي ژوي او مرغان لري. د نوروستان پـه ځنګلونـو کـې واوریـن پړانګ، لېوه، وحشي پیشو، د مارکوپولو هوسۍ، غرنۍ وزه، یږ، خاپې، خرلمی، تورلمی، تورغـوږۍ، ببـزو، شادو او ځینې نور ژوي پیدا کېږي. په هلمند کې تازي پړانګ، سمانچه (وحشي پیشـو)، او تـري هوسـۍ پیدا کېږي. د نورستان ځنګلونه د ډېرو مرغانو ځالې دي، لکـه: زریـن مرغـه، سـپین سرې بلبلـه، څېـړۍ خوره مرغۍ، طوطي، او ډېر نور مرغان.

د نورستان او هلمند اقلیمونه سره توپیر لري. د نورستان هوا سړه ده او واوره په کې ډېره کېـږي، خـو د هلمند هوا ډېره ګرمه ده. په نورستان او هلمنـد دواړو کـې سـیندونه بهېـږي. د نورسـتان سـیندونه واړه دي، خو د هلمند سیند ډېر لوی او د افغانستان تر ټولو اوږد سیند دی. د هلمند پر سـیند د کجکـي پـه سیمه کې د برېښنا لوی بند جوړ شوی دی، خو په نورستان کې د برېښنا بند نشته.

نورستان او هلمند دواړه خپل خپل لاسي صنایع لـري. د نورسـتان خلـک لـه وړیـو څخـه ټغـر، پټـو، کوټ، پتلون، شړۍ، او کجـاوه اوبـدي. همدارنګـه دوی پـه لرګیـو کـې کینـدنکاري کـوي او ورنـه ښـکلې دروازې، کړکۍ، کټارې، زانګو او نور شیان جوړوي. د هلمند خلک بیا د خامکي غاړو په رغولو او له مرمـر

(c) ketabton.com: The Digital Library

او روخام ډېرو څخه د زينتي شيانو په جوړولو کې تکره دي. کولالي د نورستان او هلمند د خلکو ګډ صنعت دی.

منابع:

۱. درآمدی بر جغرافیای طبیعی افغانستان، محمد عظیم عظیمی، انتشارات خراسان، تهران، چاپ دوم، ۱۳۹۱

۲. جغرافیای ولایات افغانستان، پوهاند غلام جیلانی عارض، ۱۳۸۸

۳. جغرافیای اقتصادی افغانستان، پوهاند میر هارون احمدی، انتشارات نامی، کابل، چاپ سوم، ۱۳۹۳

۴. نورستان در گذرگاه تاریخ، معاون سرمؤلف سلیمان سون آرا، مؤسسه ثمر، ۱۳۹۵

۵. ویکیپیدیا، دانشنامه آزاد، نورستان

[تصویر: د افغانستان نقشه چې هلمند او نورستان په کې رنګ شوي وي. د نورستان د ځنګلونو او د هلمند د سیند او هوارې ځمکې عکسونه، د نورستان د ځینو وحشي ژوو عکسونه]

**کورنۍ دنده:** د کتاب او کتابچې په اړه فکر وکړئ. د دواړو توپیرونه او ورته‌والي پیدا کړئ. بیا د خپلې کتابچې یوه صفحه په یوې عمودي کرښې نیمايي کړئ. د صفحې په ښي خوا کې د کتاب او کتابچې توپیرونه او په بله خوا کې یې ورته‌والي ولیکئ.


(c) ketabton.com: The Digital Library



**ووېشئ او معنا کړئ:** د چوکاټ کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکئ. بیا له خپلـو څنګلوریـو ټولګیوالـو سره، هـره کلمه د مثال په شان پر برخو (اصلي برخه او روستاړي) ووېشئ او معنا يې پیدا کړئ.

| کلمه | اصلي برخه ـ روستاړی | د کلمې معنا |
|---|---|---|
| واورين | واوره ـــ ين | **واوره** = سپينې غونډارې چې په ژمي کې ورېږي، **ين** = صفتي روستاړی<br>**واورين** = څه چې د واورې غوندې يا له واورې څخه جوړ وي. |
| خاورين | | |
| ډبرين | | |
| لرګين | | |
| زرين | | |

**د مقايسې ډياګرام:** د مقايسې ډياګرام ته وګورئ او په کتابچو کې يې رسم کړئ. بیا د ښوونکي/ ښوونکې له لارښوونې سره سم، د نورستان او هلمند توپيرونه او ورته‌والي پيدا او ډياګرام ډک کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library


**ويې ارزوئ:** د نورستان او هلمند د مقايسې مقاله وارزوئ او دې پوښتنو ته ځواب ووايئ:

۱. کومې کلمې درته سختې او نا آشنا وې؟

۲. معلومات یې څومره په زړه پورې وو؟

۳. د کومې دعوې لپاره دليل او ثبوت وړاندې شوی و؟

**کورنی دنده:** د مقايسې ډياګرام په خپلو کتابچو کې رسم کړئ او بيا غوا له مېږې سره مقايسه کړئ. په ياد مو وي چې د دواړو ورته شيان د دايرو په تېره بېره برخه کې او توپيرونه يې د دايرو په آزادو برخو کې وليکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library



**بحث وکړئ: تاسي به په ډلو کې د «ښه او بد ملګري» په اړه بحث وکړئ. هر څوک به په خپله ډله کې د لاندې پوښتنو په اړه خپل نظر څرګندوي. د بحث په پای کې به د څینو ډلو استازي د خپلې ډلې د بحث نتیجه نورو ته ووايي.**

د بحث پوښتنې:

۱ .ښه او بد ملګری/ ښه او بده ملګرې په څه شي کې سره ورته وي؟

۲ .ښه او بد ملګري/ ښه او بده ملګرې کوم توپیرونه لري؟

۳. بد ملګری/ بده ملګرې په ښه ملګري/ ملګرې څنګه اړولی شو؟

**د دې لپاره چې د بحث نتیجه وباسو، د هر چا د خبرو مهم ټکي باید ولیکو!**

(،) **وکاروئ:** لاندې جملې په خپلو کتابچو کې ولیکئ او (،) لیکنښه په مناسبو ځایونو کې وکاروئ.

۱. د هلمند ډېره برخه هواره ده غرونه په کې کم او ډاګونه زیات دي.

۲. د نورستان سیندونه واړه دي خو د هلمند سیند ډېر لوی دی.

۳. په هلمند کې طبیعي ځنګلونه خورا کم دي خو د انګورو انارو او بادامو باغونه په کې ډېر دي.

۴. د نورستان هوا سړه ده او واوره په کې ډېره کېږي خو د هلمند هوا ډېره ګرمه ده.

۵. دواړه له پاکستان سره سرحد لري خو نورستان د هېواد په ختیځ او هلمند په جنوب کې پروت دی.

**کورنۍ دنده:** د مقایسې ډیاګرام په خپلو کتابچو کې رسم کړئ او بیا خپل دوه ملګري سره مقایسه کړئ. په یاد مو وي چې د دواړو ورته ځانګړنې د دایرو په تېره ببره برخه کې او توپیرونه یې د دایرو په آزادو برخو کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ووېشئ او ویې لیکئ: له خپلو ځنګلوریو ټولګیوالو سره لاندې کلمې پر برخو ووېشئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.**

| واورین | واور ین |
|---|---|
| زرین | |
| زینتي | |
| تورلمی | |
| تور غوږی | |

**فکر وکړئ: دلته داسې پوښتنې لولئ چې ځوابونه یې په متن کې نشته. له ځنګلوریو ټولګیوالو سره مو د پوښتنو ځوابونه پیدا او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.**

۱. په نورستان کې وحشي ژوي ولې ډېر دي؟

۲. باران په هلمند کې ډېر اوري که په نورستان کې، ولې؟

۳. سفر او تګ راتګ په هلمند او نورستان کې څه توپیرونه لري؟

**ویې ارزوئ:** لوستل شوی متن وارزوئ او په خپلو کتابچو کې د دې پوښتنو ځوابونه ولیکئ.

۱. د متن جملې د وضاحت په لحاظ څنګه وې؟

۲. د متن کومې جملې روانې لوستل کېدې او د کومو جملو لوستل ګران وو؟

**خپل نظر ولیکئ: د متن کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ په کتابچو کې مو د متن په اړه خپل نظر ولیکئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دې اونۍ خاص هدفونه

گرانو زده‌کوونکو! تاسې به د دې درس تر پایه پورې وکولای شئ چې:

۱. پر برخو د وېشلو له لارې، د ۴ داسې کلمو معنا پیدا کړئ چې د «هم» مختاړی لري؛

۲. په ډله‌ییز بحث کې د خوښولو په اړه خپل نظر څرګند کړئ؛

۳. [،] لیکنښه په جملو کې وکاروئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ژونـ - ـدي - سا - ري | نـ - ـبا - تات | را - جذ - بـ - ـوي |
| چا - پېر - يال | میـ - ـلي - متـ - ـره | زر - گو - نه |

ژوندي ساري | چاپېريال | د کمره گل | بندوکی

**اټکل وکړئ:** لاندې څو جملې ليکل شوې دي. تاسې هره جمله ولولئ او فکر وکړئ چې سمه ده که ناسمه. بيا په پنسل سره د سمې جملې مخې ته (ص) او د غلطې جملې مخې تـه (غ) وليکـئ. بيـا مـتن ولولئ چې ستاسو وړاندوينه سمه وه که نه.

١. ونې او بوټي دواړه يو شان ريښې، ساقې او پاڼې لري.
٢. ځينې بوټي زرګونه کاله عمر کوي.
٣. ونې تر لس مترو زيات نه جګېږي.
۴. ونې او بوټي دواړه اوبو ته اړتيا لري.
۵. بوټي تر ونو د هوا ډېر ګردونه او دوړې جذبوي.
٦. ونې او بوټي د اکثرو ژوو لپاره خواړه برابروي.

**ولولئ:** لاندې متن په ټيټ غږ ولولئ. د هر پراګـراف تـر لوسـتلو وروسـته، يـو ځـل د هماغـه پراګراف په اړه د وړاندوينې جمله وګورئ. که مو وړاندوينه ناسـمه وه، مخـې تـه يـې چليپـا وکـاږئ او کـه سمه وه، د جملې مخې ته د ( ✓ ) نښه وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ونې او بوټي

ونې او بوټي دواړه ژوندي ساري او دواړه نباتات دي. ونې او بوټي دواړه ريښې، ستڼه (ساقه) او پاڼې لري. د ونو ريښې غټې او اوږدې وي، خو د بوټو ريښې نرۍ او لنډې دي. د ونو ستې کلکې او پربړې دي، خو د بوټو ډنډر نرم او نري وي. د ونو پاڼې ډېرې دي او يوه ونه شاوخوا ۳۵۰۰۰ پاڼې لري، خو د بوټو پاڼې کمې وي.

بوټي معمولاً لږ عمر کوي، خو ونې سلګونه کاله ژوند کولی شي. اکثره بوټي يو کلن وي لکه: غنم، جوار، اوربشې، شولې، بينډۍ، روميان، کچالان او نور چې له زرغونېدو څخه تر رژېدلو پورې څو مياشتې وخت نيسي. خو داسې بوټي هم شته چې زرګونه کاله عمر کوي، لکه د کمر ګلان چې ۴۵۰۰ کاله ژوند کولی شي. ونې معمولاً ډېر عمر کوي. اکثره ونې ۲۰۰ – ۳۰۰ کاله پايي او د نښتر او لمنځې ونې بيا ان ۸۰۰۰ کاله ژوند کولی شي.

ونې او بوټي دواړه وده کوي. ونې معمولاً ډېره وده کوي او ډېرې دنګې وي، خو بوټي ډېره وده نه کوي او ټيټ دي. اکثره ونې تر ۵ مترو لوړې وي، خو ځينې يې ان تر ۱۰۰ مترو زياتې دنګې دي لکه ماموت ونې چې په امريکا کې دي. ځينې بوټي لکه د کمر ګلان يوازې څو ميلي متره جګ وي، اکثره بوټي بيا ۳۰ – ۱۰۰ سانتي متره وي، خو بندوکي داسې بوټي دی چې ان ۳ متره هم جګېږي.

ونې او بوټي دواړه د ژوندي پاتې کېدو لپاره اوبو ته اړتيا لري. بوټي ډېرې اوبه غواړي او ژر تږي کېږي، خو ځينې بوټي لکه د صحرايي سيمو ځوځان په ډېرو کمو اوبو پايي. اکثره ونې بيا د تندې په مقابل کې ډېر مقاومت لري، ځکه چې ريښې يې اوږدې دي او د ځمکې له ژورو څخه اوبه راجذبوي.

ونې او بوټي دواړه چاپېريال او طبيعت ته ګټور دي. دواړه د هوا کاربن ډای اوکسايډ جذبوي او د هوا د ډېرې تودېدو مخه نيسي. همدارنګه دواړه آکسيجن توليدوي چې د نورو ژوندي سارو لپاره، خورا مهم دی. ونې او بوټي د هوا په پاکولو کې هم ونډه اخلي. دواړه له هوا څخه ګرد او دوړې جذبوي. دا چې ونې لويې او دنګې دي او پاڼې يې خورا ډېرې دي، نو ډېر ګردونه له هوا څخه راټولوي او واړه بوټي دا کار چنداني نه شي کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونې او بوټي دواړه د انسان او نورو ژوو لپاره، خواړه برابروي. انسانان مختلف بوټي کري او مېوه يې خوري او پاڼې او ستې يې خارويو ته ورکوي. همدارنګه د ونو مېوې د انسانانو، ژوو او مرغانو، خوراک دی او د ونو پاڼې د اکثرو ژوو لپاره ښه خواړه دي. همدارنګه بوټي د مختلفو باکتریاوو، ژوو او مرغانو، خوراک دی.

منابع:

١. عمومي معلومات دوهم ټوک، یورګ پیلاوه، ژباړونکې اناهیتا روهي، د افغانستان د ماشوم د ادبیاتو ملي بنسټ، کابل، ١٣٩٨

٢. جغرافیای حیاتی، پوهاند میر هارون احمدي، پوهنتون تعلیم و تربیه استاد ربانی، ١٣٩٠

[تصویر: د صفحې په ښي خوا کې د مختلفو بوټو عکسونه او په چپه خوا کې يې د مختلفو ونو عکسونه]

**کورنۍ دنده:** په خپل کور یا سیمه کې دوه مختلف بوټي پیدا کړې. دواړو ته ځیر شئ او د دواړو توپیرونه او ورته‌والي پیدا کړئ. بیا په خپله کتابچه کې د مقایسې ډیاګرام رسم او د دوو بوټو ورته‌والي او توپیرونه په کې ولیکئ.


(c) ketabton.com: The Digital Library



**ووېشئ او معنا کړئ:** د چوکاټ کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکئ. بیا له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره، هره کلمه د مثال په شان پر برخو (مختاړي او اصلي برخه) ووېشئ او معنا يې پیدا کړئ.

| کلمه | مختاړی ــ اصلي برخه | د کلمې معنا |
|---|---|---|
| همدارنګه | هم ــــ دا رنګه | **هم** = سره يو شان، **دا رنګه** = دا رقم، دا ډول<br>**همدارنګه** = هغه مهال کاروو چې د يوې جملې خبره له تېرې جملې سره رابطه ولري. |
| همغږی | | |
| همفکر | | |
| همکار | | |
| همزولی | | |

**د مقایسې ډیاګرام:** د مقایسې ډیاګرام ته وګورئ او په کتابچو کې يې رسم کړئ. بیا د ښوونکي/ ښوونکې له لارښوونې سره سم، د ونو او بوټو توپیرونه او ورته‌والي پیدا او ډیاګرام ډک کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library


**ویې ارزوئ:** د «ونې او بوټې» د مقایسې مقاله وارزوئ او دې پوښتنو ته ځواب ووایئ:

۱. کومې کلمې درته سختې او نا آشنا وې؟

۲. معلومات یې څومره په زړه پورې وو؟

۳. د کومې دعوې لپاره دلیل او ثبوت وړاندې شوی و؟

**کورنۍ دنده:** د مقایسې ډیاګرام په خپلو کتابچو کې رسم کړئ او بیا وانښه له ګلانو سره مقایسه کړئ. په یاد مو وي چې د دواړو ورته شیان د دایرو په تېره بېره برخه کې او توپیرونه یې د دایرو په آزادو برخو کې ولیکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

| فصل ۲ | اونۍ ۲ | درسي ساعت ۳ |
|---|---|---|

**بحث وکړئ:** تاسې به په ډلو کې د «خوښولو» په اړه بحث وکړئ. هر څوک به په خپله ډله کې د لاندې پوښتنو په اړه خپل نظر څرګندوي. د بحث په پای کې به د ځینو ډلو استازي د خپلې ډلې د بحث نتیجه نورو ته ووايي.

د بحث پوښتنې:

۱. مور ځینې شیان ولې خوښوو؟

۲. د خپلې خوښې له کارونو څخه ځان څنګه اداره کړو؟

۳. که ملګري مو مختلفې لوبې خوښوي، څه وکړو چې ټول ملګري یوه لوبه خوښه کړي؟

**کېدای شي د یوې موضوع په اړه د هر چا نظر بېل وي، متفاوت نظرونه طبیعي دي!**

(،) **وکاروئ:** لاندې جملې په خپلو کتابچو کې ولیکئ او (،) لیکنښه په مناسبو ځایونو کې وکاروئ.

۱. ونې معمولاً دنګې وي  خو بوټي ټیټ دي.

۲. بوټي معمولاً لږ عمر کوي  خو ونې سلګونه کاله ژوند کوي.

۳. د ونو ریښې غټې او اوږدې وي  خو د بوټو ریښې نرۍ او لنډې دي.

۴. د ونو پاڼې خورا ډېرې دي، نو ډېر ګردونه له هوا څخه راټولوي.

۵. ونې د تندې په مقابل کې ډېر مقاومت لري ځکه چې ریښې یې اوږدې دي

**کورنۍ دنده:** د مقایسې ډیاګرام په خپلو کتابچو کې رسم کړئ او بیا دوې لوبې سره مقایسه کړئ. په یاد مو وي چې د دواړو ورته ځانګړنې د دایرو په تېره ښېره برخه کې او توپیرونه یې د دایرو په آزادو برخو کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ووېشئ او ویې لیکئ:** له خپلو ځنګلوریو ټولګیوالو سره لاندې کلمې پر برخو ووېشئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

| سلګونه | سل ګونه |
|---|---|
| زرګونه | |
| لسګونه | |
| چاپېریال | |
| ګټور | |

**فکر وکړئ:** دلته داسې پوښتنې لولئ چې ځوابونه یې په متن کې نشته. له ځنګلوریو ټولګیوالو سره مو د پوښتنو ځوابونه پیدا او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

۱. زړې ونې په څه شي پېژنئ؟

۲. د ونو وده څټکه وي که د بوټو، ولې؟

۳. ونې ډېر آکسیجن تولیدوي که بوټي، ولې؟

**ویې ارزوئ:** لوستل شوی متن وارزوئ او په خپلو کتابچو کې د دې پوښتنو ځوابونه ولیکئ.

۱. د متن جملې د وضاحت په لحاظ څنګه وې؟

۲. د متن کومې جملې روانې لوستل کېدې او د کومو جملو لوستل ګران وو؟

**خپل نظر ولیکئ:** د متن کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ په کتابچو کې مو د متن په اړه خپل نظر ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دريمه اونۍ

## د دې اونۍ خاص هدفونه

گرانو زده‌کوونکو! تاسې به د دې درس تر پايه پورې وکولای شئ چې:

۱. پر برخو د وېشلو له لارې، د ۴ داسې کلمو معنا پيدا کړئ چې د «بخون/ چک» روستاړی لري؛

۲. په ډله‌ييز بحث کې د غوښتنو په اړه خپل نظر څرگند کړئ؛

۳. په جملو کې د نومونو او صفتونو مغيره بڼه وکاروئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| میک - ـرو - بو - نه | زیـ - ـنـ - ـتي | تور - بـ - ـخو - نه |
| سور - بـ - ـخو - نې | ډو - لو - نه | مخ - ـتـ - ـلـ - ـفو |

طبیعي مواد | ذره | زینتي شیان | کانکرېټ

**اټکل وکړئ:** لاندې څو جملې لیکل شوې دي. تاسې هره جمله ولولئ او فکر وکړئ چې سمه ده که ناسمه. بیا په پنسل سره د سمې جملې مخې ته (ص) او د غلطې جملې مخې ته (غ) ولیکئ. بیا متن ولولئ چې ستاسو وړاندوینه سمه وه که نه.

۱. خاوره او شګه له تیږو څخه جوړېږي.

۲. سخت بادونه هم د شګو دانې هوا ته پورته کولی نه شي.

۳. شګه تر خاورې ډېرې اوبه جذبوي.

۴. له خاورې او شګې دواړو څخه زینتي شیان جوړولی شو.

۵. خاوره په مختلفو رنګونو پیدا کېږي، خو شګه یوازې یو رنګ لري.

۶. په شګو کې د ژوو او ونو بوټو ډېر ډولونه اوسېږي.

**ولولئ:** لاندې متن په ټیټ غږ ولولئ. د هر پراګراف تر لوستلو وروسته، یو ځل د هماغه پراګراف په اړه د وړاندوینې جمله وګورئ. که مو وړاندوینه ناسمه وه، مخې ته یې چلیپا وکاږئ او که سمه وه، د جملې مخې ته د ( ✓ ) نښه ولیکئ.

## خاوره او شګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاوره او شګه دواړه طبيعي مواد دي. دواړه جامد دي او د پوډر بڼه لري. دواړه په زرګونو کلونو کې له تيږو څخه جوړېږي. په شګه کې يوازې د تيږو ذرې دي، خو په خاوره کې نور مواد هم ګډ وي. خاورې د ځمکې د مخ ډېره برخه پوښلې ده، خو شګه يوازې د سمندر او سيندونو په غاړو او په ځينو ډاګونو کې وي.

خاوره پسته ده، خو شګه ځېږه ده. د خاورې ذرې ډېرې وړې دي، خو د شګو دانې نسبتاً غټې دي. د خاورې دوړې سپکې دي او باد يې په آسانۍ سره هوا ته پورته کوي، خو د شګې دانې درنې دي او کمزوري بادونه يې هوا ته نه شي پورته کولی.

خاوره او شګه دواړه اوبه جذبوي. خاوره ډېرې اوبه جذبوي او ساتي يې، خو شګه لږې اوبه جذبوي او ساتلی يې نه شي. خاوره چې لنده شي، ذرې يې سره نښلي او خټه کېږي، خو د شګې دانې سره نه نښلي. وچه او لنده خاوره په لاسونو او جامو پورې نښلي او سپېره کوي يې، خو شګه په څه شي پورې نه نښلي.

خاوره او شګه دواړه ګټور دي او د کورنو او نورو شيانو په جوړولو کې کارول کېږي. خاوره له بوسو سره ګډېږي او دېوالونه او بامونه پرې اخېر کېږي. شګه له سمنټو سره ګډېږي او د کانکرېټ لپاره مساله جوړوي. خاوره يوازې هم کارولی شو، مثلاً له خاورې څخه خښتې او خټين لوښي (کودي) لکه: منګی، چاټی، ګېلاس، کاسه، ګلدانی، او ځينې زينتي شيان جوړېږي. که له شګې سره چونه يا سمنټ ګډ نه شي، څه ورنه نه جوړېږي، ځکه چې شګه په يوازې سر نه ټينګېږي.

خاوره او شګه دواړه په مختلفو رنګونو پيدا کېږي. خاوره معمولاً خړه وي، خو تورې، سپينچکې، سوربخونې، نسواري او ژېړبخونې خاورې هم شته. شګه معمولاً توربخونه وي، خو سپينې، تورې، شنې، او نسواري شګې هم وي.

خاوره د کرنې لپاره ډېره جوړه ده او هر بوټی په خاوره کې ښه وده کوي، خو په شګو کې يوازې ځوځان او ځينې خاص بوټي، چې ډېره تنده او ګرمي زغملی شي، شنه کېږي. همدارنګه خاوره د ونو لپاره هم ډېره ښه ده ځکه چې اوبه ساتي او د ونو د ودې لپاره ضروري مواد په کې دي، خو په شګو کې ونې په آسانۍ سره نه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خاوره او شګه دواړو کې ژوي اوسېږي. په خاوره کې د ژوو خورا ډېر ډولونه لکه، میکروبونه، چینجي، خزدکې، میږي، موږکان، مږې او ډېر نور ژوي ژوند کوي. په شګو کې د ژوو لږ ډولونه اوسېدلی شي، لکه: ځینې کیشپان، ماران، لړمان، او کربوړي.

منابع:


1. Ask Dr. Universe Project, Washington State University, 2018
2. http://www.americangeosciences.org
3. http://www.javatpoint.com/sand-vs-soil
4. http://sciencing.com/animals live-sand


[تصویر: د صفحې په ښۍ خوا کې د خاورې عکس چې بوټي، ونې، چینجي، خزدکې او نور واړه ژوي په کې وي او په چپه خوا کې یې د ډاګ شګې چې یو نیم ځوځ او کربوړي په کې وي]

**کورنۍ دنده:** تیږې او لوټې ته ځیر شئ. بیا  په خپله کتابچه کې د مقایسې ډیاګرام رسم کړئ او د تیږې او لوټې ورتهوالي او توپیرونه په کې ولیکئ.


(c) ketabton.com: The Digital Library



**ووېشئ او معنا کړئ:** د چوکاټ کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکئ. بیا له خپلـو خنګلوریـو ټولګیوالـو سره، هـره کلمه د مثال په شان پر برخو (اصلي برخه او روستاړی) ووېشئ او معنا یې پیدا کړئ.

| کلمه | اصلي برخه ـ روستاړی | د کلمې معنا |
|---|---|---|
| توربخونه | تور ـ بخون ـ ه | **تور** = د تیارې رنګ **بخون** = غوندې، په رنګ **ـه** = د ښځینه نوم نښه<br>**توربخونه** = هغه شی چې نوم یې ښځینه وي او رنګ یې تور وزمه وي، خو بېخي توره نه وي. |
| سوربخون | | |
| ژېړبخونې | | |
| سپینچک | | |
| زرغونچک | | |

**د مقایسې ډیاګرام:** د مقایسې ډیاګرام ته وګورئ او په کتابچو کې یې رسم کړئ. د خاورې او شګې توپیرونه او ورته‌والي پیدا او ډیاګرام ډک کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library


**ويې ارزوئ:** د «خاورې او شګې» د مقايسې مقاله وارزوئ او دې پوښتنو ته ځواب ووايئ:

۱. کومې کلمې درته سختې او نا آشنا وې؟

۲. معلومات يې څومره په زړه پورې وو؟

۳. د کومې دعوې لپاره دليل او ثبوت وړاندې شوی و؟

**کورنۍ دنده:** غره او غونډۍ ته ځير شئ او د مقايسې په ډياګرام کې يې سره مقايسه کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library



**بحث وکړئ: تاسي به په ډلو کې د «غوښتنې» په اړه بحث وکړئ. هر څوک به په خپله ډله کې د لاندې پوښتنو په اړه خپل نظر څرګندوي. د بحث په پای کې به د ځینو ډلو استازي د خپلې ډلې د بحث نتیجه نورو ته ووایي.**

د بحث پوښتنې:

۱. مور ځینې شیان ولې غواړو؟

۲. منطقي او غیر منطقي غوښتنې څه توپیرونه لري؟

۳. له خپلو غیر منطقي غوښتنو څخه څنګه تېرېدای شو؟

**کله چې د بحث لنډیز او نتیجه وایو، موافق او مخالف نظرونه دواړه به یادوو!**

**سمې بڼې وکاروئ:** د لاندې جملو په تشو ځایونو کې په لیندیو کې د راغلیو نومونو او صفتونو اوښتې بڼه وکاروئ.

۱. میرې په مېړتانه کې اوسېږي. (میړتون)

۲. دا رمه د هاغه ............ ده. (شپون)

۳. د ............ موټر ماشین خراب شو. (زوړ)

۴. رڼا ............ ته منه واچوله. (شکونړ)

۵. د .......... بوټې ریښې نرمې دي. ( شین)

۶. غل په ........ کې نه ځایېږي. (غر)

**کورنۍ دنده:** د مقایسې ډیاګرام په خپلو کتابچو کې رسم کړئ او بیا خښته او تیږه سره مقایسه کړئ. په یاد مو وي چې د دواړو ورته ځانګړنې د دایرو په تېره ببره برخه کې او توپیرونه یې د دایرو په آزادو برخو کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| فصل ۲ | اونۍ ۳ | درسي ساعت ۴ |
|---|---|---|

**وویشئ او ویې لیکئ:** له خپلو ځنګلوریو ټولګیوالو سره لاندې کلمې پر برخو وویشئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

| لاسونو | لاس ونو |
|---|---|
| ډولونه | |
| رنګونو | |
| دېوالونه | |
| ډاګونو | |

**فکر وکړئ:** دلته داسې پوښتنې لولئ چې ځوابونه یې په متن کې نشته. له ځنګلوریو ټولګیوالو سره مو د پوښتنو ځوابونه پیدا او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

۱. تیږې ولې په شګو او خاورو اوړي؟

۲. ټولې خاورې یو رقم دي که سره توپیر لري؟

۳. په خاوره کې ولې د ژوو ډېر ډولونه اوسېږي؟

**ویې ارزوئ:** لوستل شوی متن وارزوئ او په خپلو کتابچو کې د دې پوښتنو ځوابونه ولیکئ.

۱. د متن جملې د وضاحت په لحاظ څنګه وې؟

۲. د متن کومې جملې روانې لوستل کېدې او د کومو جملو لوستل ګران وو؟

**خپل نظر ولیکئ:** د متن کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ په کتابچو کې مو د متن په اړه خپل نظر ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم فصل

## موضوع: تفکر

## ژانر: روایتي (حکایت)



**پوهه او فکر ژوند آسانه کوي.**



۱. فکر او پوهه له یو بل سره څه رابطه لري؟

۲. پوهه او فکر ژوند څنګه آسانوي؟

۳. د پوهې سرچینې کومې دي؟

۴. خپل فکر څنګه روزلی شو؟

۵. د انسان پوهه په څه شي زیاتیږي؟



**حکایتونه د ژوند هینداري دي.**



۱ .په حکایتونو کې څه وینو؟

۲ .حکایتونه زموږ ژوند څنګه رانښيي؟

۳ .له حکایتونو څخه څه شی زده کولی شو؟

۴ .خلک ولې حکایتونه جوړوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دې فصل عمومي هدفونه

گرانو زده‌کوونکو! تاسې به د دې فصل کې وکولای شئ چې:

۱. د عنوان او انځور له مخې د کیسو په اړه وړاندوینه وکړئ.

۲. توضیح کړئ چې د کیسو صحنې مو په ذهن کې څنګه مجسمې کړې.

۳. د کیسې د چارټ په ډکولو سره د کیسو پیل، منځ، او پای تشخیص کړئ.

۴. د کیسو په اړه استباطي پوښتنې ځواب کړئ.

۵. د کیسې د کرکټرونو عملونه وارزوئ.

٦. د کیسو په اړه خپل نظر بیان کړئ.

## لومړی اونۍ

### د درس هدفونه

گرانو زده‌کوونکو! تاسې به د دې درس تر پایه پورې وکولای شئ چې:

۱. پر برخو د وېشلو له لارې، د ۴ داسې کلمو معنا پیدا کړئ چې د «غیر» مختاړی لري؛

۲. په ډله‌ییز بحث کې د پوهې په اړه خپل نظر څرګند کړئ؛

۳. د ذات او معنا نومونه سره بېلې کړئ؛

فصل ۳ اونۍ ۱ درسي ساعت ۱

| | | |
|---|---|---|
| کو - لپـ - بـ - ړي | غیـ - رِ - معـ - مو - لي | پرا - نیسـ - تـ - لو |
| عـ - دَ - دو - نه | لو - یـ - وو | مُشـ - کِـ - لات |

حکیم مُلک معمولي طریقه

اټکل وکړئ: د کیسې عنوان او انځور ته وګورئ او اټکل وکړئ چې په کیسه کې به څه کېږي.

ولولئ: کیسه په ټیټ غږ ولولئ او د هرې برخې تر لوستلو وروسته یې په ذهن کې مجسم کړئ.

## ځلورم حکیم

په پخوا زمانو کې یو هوښیار پاچا و. هغه غوښتل چې د چارو لپاره یو تکړه وزیر وټاکي. د مُلک ځلور نامتو حکیمان یې راوغوښتل. دوی یې په یوه کوټه کې، چې دوه ورونه یې لرل، کېنول او ورته ویې ویل: دا یو ور له د باندې خوا درپسې کولپېږي. تاسې یې د خلاصولو وس نه لرئ. دا بل ور له دننه خوا بند شوی دی، خو کولپ یې معمولي کولپ نه دی، د ریاضي ډېر پېچلي حساب غواړي. که هر چا د کولپ د پرانیستلو طریقه تر نورو ړومبی پیدا کړه او له کوټې ووت، هغه به مې وزیر وي.

په کولپ باندې ګڼ عددونه لیکلي وو. په حکیمانو کې درې کسه پاڅېدل. د کولپ عددونه یې په خپلو کاغذونو ولیکل او حساب و کتاب یې شروع کړ. ځلورم حکیم نه قلم و کاغذ راواخیستل، نه یې په کولپ باندې لیکلي عددونه ولوستل. بس ناست و او فکر یې کاوه. هغه له لږ فکر کولو وروسته راپاڅېد، وره ته ورغی، ټېله یې کړ. ور خلاص شو او حکیم له کوټې ووت. له هغې خوا بېرته له پاچا سره راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا درې حکیمان دومره په حساب بوخت وو چې د ځلورم کس وتلو ته یې هیڅ پام شوی نه و. پاچا پر حکیمانو غږ وکړ: کار بس کړئ! وزیر مې وتاکه. سیالي دغه ځلورم حکیم وګټله.

هغوی وویل: موږ چې کار پیلاوه، دی هسې وزګار ناست و، نو ده څنګه سیالي وګټله؟

ځلورم حکیم وویل: زه مخکې له دې چې د وره د پرانیستلو لارې چارې ولټوم، په دې فکر کې شوم چې اول باید وګورم چې ور په رښتیا بند دی او که بند وي دا کولپ په رښتیا غیرمعمولي کولپ دی؟ کله چې ورغلم، پوه شوم چې کولپ نه غیرمعمولي دی او نه ور بند دی. بس دروازه مې ټېله کړه، د باندې ووتم.

پاچا وویل: اوس پوه شوئ چې ما ولې دی غوره کړ؟ موږ اکثره وخت په خپل ذهن کې مشکل تر واقعي اندازې ډېر لویوو او د حل لپاره یې لوی بندوبست کوو، حال دا چې اکثره مشکلات دومره لوی نه دي، لکه په ذهن کې چې مو لوی کړي دي.

[تصویر: یوه کوټه چې دوه ورونه لري. په یوه ور کې کولپ لوېدلی دی. درې حکیمان (له غټو پګړیو او اوږدو سپینو کمیسونو سره، ناست دي. کاغذ او دېوات یې مخې ته ایښې دي، پر کاغذونه یې عددونه لیکلي دي او د ریاضي عملیې ترسره کوي. بل حکیم له دوی څخه بېل لاس تر زنې ناست دی او فکر کوي.]

**کورنۍ دنده:** تاسو کله کوم ستونزه حل کړې ده؟ په دې اړه خپله تجربه ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| فصل ۳ | اونۍ ۱ | درسي ساعت ۲ |
|---|---|---|

**ووېشئ او معنا کړئ:** د چوکاټ کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکئ. بیا له خپلو ځنګلوریو ټولګیوالو سره، هره کلمه د مثال په شان پر برخو (مختاړي او اصلي برخه) ووېشئ او معنا يې پیدا کړئ.

| کلمه | مختاړی ـ اصلي برخه | د کلمې معنا |
|---|---|---|
| غیر معمولي | غیر ـــ معمولي | **غیر** = نا، سیوا **معمولي** = عادي، د نورو غوندې<br>**غیرمعمولي** = هغه څه چې د نورو غوندې نه وي. |
| غیر واقعي | | |
| غیر قانوني | | |
| غیر ارادي | | |
| غیر حاضر | | |

**د کیسې چارټ:** د کیسې چارټ په خپلو کتابچو کې رسم کړئ. بیا له خپلو ځنګلوریو ټولګیوالو سره د کیسې پیل، منځ او پای پیدا او چارټ ډک کړئ.

| پیل | | منځ (د کیسې خوکه) | پای | |
|---|---|---|---|---|
| کرکټرونه | | | د ستونزې حل | |
| ځای – زمان | | | | |
| ستونزه | | | نتیجه/ پیغام | |

**ويې ارزوئ:** د کیسې د کرکټرونو په اړه فکر وکړئ. د هر کرکټر په اړه دغو پوښتنو ته ځواب ووایئ:

۱. څه يې وکړل؟

۲. ولې يې وکړل؟

۳. کار يې سم او منطقي و، که نه؟ دلیل مو څه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بحث وکړئ: تاسي به په ډلو کې د «پوهې» په اړه بحث وکړئ. هر څوک به په خپله ډله کې د لاندې پوښتنو په اړه خپل نظر څرګندوي. د بحث په پای کې به د ځينو ډلو استازي د خپلې ډلې د بحث نتيجه نورو ته ووايي.**

**د بحث پوښتنې:**

۱. پوهه څه ده؟

۲ . پوهه څنګه ترلاسه کولی شو؟

۳. خپله پوهه څنګه په مناسب ځای کې کارولی شو؟

**نومونه سره بېل کړئ: په لاندې چوکاټ کې د ذات او د معنا نومونه ګډوډ راغلي دي. تاسي يې سره بېل کړئ.**

**د ذات نوم:** هر شی چې مادي وي يعنې له مادې څخه جوړ شوی وي، نوم يې د ذات نوم دی، لکه کتاب، ونه، تيږه.

**د معنا نوم:** هر شی چې غيرمادي وي، نوم يې د معنا نوم دی، لکه: فکر، پوهه، مينه، اخلاق، سوله ...

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| اوسپنه | هوښياري | لرګی | مشکل | ذهن | مُلک |
| ستورې | کتابچه | علم | کولپ | سيالي | وزير |
| عقل | تجربه | کوتره | طريقه | کاغذ | خوښي |

**د ذات نوم**

**د معنا نوم**

**ورنۍ دنده:** نن مو له ټولګيوالو سره د پوهې په اړه بحث وکړ. په کتابچو کې مو وليکئ چې کې مو څه زده کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ووېشئ او ويې ليکئ: له خپلو ځنګلوريو ټولګيوالو سره لاندې کلمې پر برخو ووېشئ او په خپلو کتابچو کې يې وليکئ.**

| خلاصولو | خلاصـ ـولو |
|---|---|
| پرانيستلو | |
| اورېدلو | |
| پيلاوه | |
| بېلاوه | |

**فکر وکړئ: دلته د کيسې په اړه داسې پوښتنې لولئ چې ځوابونه يې په کيسه کې نشته. له ځنګلوريو ټولګيوالو سره مو د پوښتنو ځوابونه پيدا او په خپلو کتابچو کې يې وليکئ.**

۱. پاچا ولې وزير ټاکه؟

۲. پاچا ولې غوښتل چې وزير د حکيمانو له منځه وټاکي؟

۳. دريو نورو حکيمانو ولې د څلورم حکيم غوندې فکر ونه کړ؟

**ويې ارزوئ: د کيسې د کرکټرونو کارونه وارزوئ او په خپلو کتابچو کې د دې پوښتنو ځوابونه وليکئ.**

۱. د وزير د ټاکلو لپاره د پاچا کار ښه و؟

۲. د دريو نورو حکيمانو کار درته ښه ښکاري؟

**خپل نظر وليکئ: د کيسې کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ د کيسې تلوسه ښه ده؟ له دې کيسې څخه مو څه زده کړل؟ په کتابچو کې مو د کيسې په اړه خپل نظر وليکئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوهمه اونۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

فصل ۳ | اونۍ ۲ | درسي ساعت ۱

| | | |
|---|---|---|
| کـ - ـبر - جن | هوښـ - ـيا - ري | ښنگـ - ـلو - ري |
| غا - ړه - کۍ | و - مې - گـ - ـټـ - ـله | چکـ - ـچـ - ـکې |

حضور | افسوس | ښنگلورۍ | دربار

اټکل وکړئ: د کیسې عنوان او انځور ته وگورئ او اټکل وکړئ چې په کیسه کې به څه کېږي.

ولولئ: کیسه په ټیټ غږ ولولئ او د هرې برخې تر لوستلو وروسته يې په ذهن کې مجسم کړئ.

## پوهه او هوښياري

يو وخت يو ډېر پوه سړی و. د ده ډېر څه زده وو او ټولو خلکو يې درناوی کاوه، خو افسوس چې کبرجن و. يوه ورځ يې د سروزرو غاړه‌کۍ په غاړه کې واچوله او ښنگلورۍ پاچهي ته لاړ. د پاچا په دربار کې په هسکه غاړه ودرېد او اعلان يې وکړ چې که هر چا په پوښتنو کې مات کړم، دغه غاړه‌کۍ به ورکوم.

پاچا خپلو حکيمانو ته مخ واړاوه. ټولو وويل چې دغه سړی ډېر پوه دی. له ده سره که خبرو ته کېنو، ماته خورو، نو بهتره ده چې غلي پاته شو.

پاچا د دربار ټوکي ته وويل چې ورشه، د ښنگلورۍ مُلك حكيم ته ووايه چې دلته دې سيال نشته.

خو ټوکي د دې په ځای چې د پاچا پيغام ورسوي، پاچا ته يې وويل: زه تيار يم چې خبرو ته ورسره کېنم.

پاچا پوهېده چې د ده له ټوکي سره علم نشته، خو فکر يې وکړ چې د حکيم او ټوکي بحث ته به وخاندي، نو ټوکي ته يې وويل: سمه ده، دواړه راشئ.

حکيم او ټوکي د پاچا حضور ته ودرېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټوکي وویل: زه څلور پوښتنې کوم. که حکیم څلور واړو ته غلط ځوابونه راکړل، لوبه ده وګټله، که نه نو ما وګټله، د سرو زرو غاړه‌کۍ به راکوي.

حکیم ومنله او ټوکي لومړی پوښتنه وکړه:

- د کوم ملك يې؟

- د همدې ځای.

- څومره وخت کېږي چې په دې ښار کې اوسې؟

- درې کاله.

- څه کار کوې؟

- بزګر یم.

ټوکي وارخطا، وارخطا ور وکتل، ویې ویل: لکه چې ودې ګټله. پوښتنې ختمې شوې؟

حکیم ورته وویل: نه، یوه پوښتنه دې لا پاتې ده. که مې هغې ته هم غلط ځواب درکړ، ما وګټله.

او له دې خبرې سره سم، ټوکي د خوشحالۍ چکچکې وکړې، ویې ویل: ومې ګټله، رښتیا دې وویل.

حکیم په خواره خوله وویل: هو، ودې ګټله.

حکیم د سرو زرو غاړه‌کۍ ټوکي ته ورکړه. ده چې غرور يې مات شوی و، ټولو ته یې وویل: نور به هیڅ وخت ونه وایم چې زه تر نورو پوه یم.

او ټوکي وویل: علم ښه شی دی، خو هوښیاري لا بهتره ده.

[تصویر: د پاچاهي دربار، پاچا پر تخت ناست دی. مخې ته يې يو حکیم په لويه پګړۍ، اوږده کمیس او عینکو سره او یو ټوکي له لنډ کمیس، اوږدې خولۍ سره ولاړ دي. حکیم په ځړېدلو شونډو خپله د سرو زرو غاړه‌کۍ ټوکي ته ورکوي او ټوکي په ډکه خوله خندا ورته ګوري.]

**کورنۍ دنده:** تاسې خپله تجربه ولیکئ چې څنګه مو کومه ستونزه په هوښیارۍ سره حل کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ووېشئ او معنا کړئ:** د چوکاټ کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکئ. بیا له خپلو ښنګلوریو ټولګیوالو سره، هره کلمه د مثال په شان پر برخو (اصلي برخه او روستاړي) ووېشئ او معنا یې پیدا کړئ.

| کلمه | اصلي برخه ـ روستاړي | د کلمې معنا |
|---|---|---|
| خوشحالي | خوش ــ حال ـ ي | **خوش** = خوښ **حال** = مزاج **ـي** = د حالت روستاړی<br>**خوشحالي** = د خوښۍ حالت |
| هوښیاري | | |
| همکاري | | |
| بې کاري | | |
| بیماري | | |

**د کیسې چارټ:** د کیسې چارټ په خپلو کتابچو کې رسم کړئ. بیا له خپلو ښنګلوریو ټولګیوالو سره د کیسې پیل، منځ او پای پیدا او چارټ ډک کړئ.

| | پیل | منځ (د کیسې څوکه) | پای | |
|---|---|---|---|---|
| کرکټرونه | | | د ستونزې حل | |
| ځای – زمان | | | | |
| ستونزه | | | نتیجه/ پیغام | |

**ویې ارزوئ:** د کیسې د کرکټرونو په اړه فکر وکړئ. د هر کرکټر په اړه دغو پوښتنو ته ځواب ووایئ:

۱. څه یې وکړل؟

۲. ولې یې وکړل؟

۳. کار یې سم او منطقي و، که نه؟ دلیل مو څه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بحث وکړئ: تاسې به په ډلو کې د «تفکر» په اړه بحث وکړئ. هر څوک بـه پـه خپلـه ډلـه کـې د لاندې پوښتنو په اړه خپل نظر څرګندوي. د بحث په پای کې به د ځینو ډلو استازي د خپلې ډلې د بحث نتيجه نورو ته ووايي.**

**د بحث پوښتنې:**

۱. فکر څه شی دی؟

۲ . د لوستلو په وخت کې خپل فکر متن ته څنګه وراړوو؟

۳. له خپل ذهن څخه بد فکرونه څنګه وباسو؟

**کله چې خبرې کوو، چا ته باید ډېر ور نژدې نه شو او مناسبه فاصله ولرو!**

**نومونه سره بېل کـړئ: پـه لانـدې چوکـاټ کـې د ذات او د معنـا نومونـه ګـډوډ راغلـي دي. تاسې يې سره بېل کړئ.**

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| دربار | خوشحالي | ماته | مُلک | ځواب | رښتيا |
| غرور | غاړه‌کۍ | غاړه | پوښتنه | لاس | پاچا |
| کبر | سره زر | ټوکی | بحث | پيغام | فکر |

**لاندې جملې ولولئ او (.) او (،) په کې په مناسبو ځايونو کې وکاروئ.**

۱. حکيم وويل: نه، يوه پوښتنه دې لا پاتې ده .

۲. حکيم په خواره خوله وويل: هو _ ودې ګټله _

۳. ټوکي وويل: نه _ زه به يې مات کړم _

۴. پاچا وويل: نه _ هېڅوک د هغه سيال نه دی _

۵. ټوکي وويل: هو _ ستا ځواب سم دی _

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ووېشئ او ویې لیکئ:** له خپلو ځنګلوریو ټولګیوالو سره لاندې کلمې پر برخو ووېشئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

| ځنګلوری | ځنګ ـلوری |
|---|---|
| کبرجن | |
| خوشحالي | |
| سره زر | |
| غاړه‌کۍ | |

**فکر وکړئ:** دلته د کیسې په اړه داسې پوښتنې لولئ چې ځوابونه یې په کیسه کې نشته. له ځنګلوریو ټولګیوالو سره مو د پوښتنو ځوابونه پیدا او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

۱. حکیم د ځنګلوري پاچاهۍ دربار ته ولې تللی و؟

۲. حکیم په خپله غاړه‌کۍ ولې شرط ولګاوه؟

۳. په دې کیسه کې د چا تجربه زیاته وه؟

**ویې ارزوئ:** د کیسې د کرکټرونو کارونه وارزوئ او په خپلو کتابچو کې د دې پوښتنو ځوابونه ولیکئ.

۱. د پاچا د دربار حکیمانو ځانونه غلي کړل، تاسو ته دا کار ځنګه ښکاري؟

۲. د ټوکي چلند ستاسو په نظر ځنګه و؟

**خپل نظر ولیکئ:** د کیسې کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ د کیسې تلوسه ځنګه ده؟ له دې کیسې څخه مو څه زده کړل؟ په کتابچو کې مو د کیسې په اړه خپل نظر ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریمه اونۍ

## د درس هدفونه

**ګرانو زده‌کوونکو! تاسې به د دې درس تر پایه پورې وکولای شئ چې:**

۱. پر برخو د وېشلو له لارې، د ۴ داسې کلمو معنا پیدا کړئ چې د «ونکې» روستاړی لري؛

۲. په ډله‌ییز بحث کې د پوښتنو په اړه خپل نظر څرګند کړئ؛

۳. د ذات او معنا نوم‌ونه سره بېل کړئ؛

۴. د اوس مهال جملې په مطلق او جاري تېر مهال ته واړوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| فصل ۳ | اونۍ ۳ | درسي ساعت ۱ |
|---|---|---|

| | | |
|---|---|---|
| کاهـ - ـدا - نه | ستو - ما - نې | و - پـ - ـلـ - ـتهـ - ـله |
| وا - ړ - و - له | کر - ونـ - ـدې | شو - ـتـ - ـلو |

ذهن | کاهدانه | پلتهونکي | لاحول

اټکل وکړئ: د کیسې عنوان او انځور ته وګورئ او اټکل وکړئ چې په کیسه کې به څه کېږي.

ولولئ: کیسه په ټیټ غږ ولولئ او د هرې برخې تر لوستلو وروسته یې په ذهن کې مجسم کړئ.

## آرام ذهن

لمر په لوېدو و چې بزګر د شوتلو پنډه په شا له کروندې راستون شو. کاهداني ته ورننوت. دی چې سخت ستړی و، د شوتلو پنډه یې په تلوار سره ته خطا کړه. هغه تار چې ده د شوتلو ګېډۍ پرې تړلې وه، د ساعت په بند کې یې بند شو. د بزګر ساعت ولوېد او په کاهدانه کې ورک شو.

بزګر چې ستومانۍ په عذاب کړی و، سخت غوسه شو. بوسو ته یې لغته ورکړه خو بیا یې له ځان سره وویل چې شیطان ته لاحول ووایي او په آرام ذهن خپل ساعت ولټوي. ورته ټیټ شو. پروړه یې ډېره وپلټله خو ساعت یې ونه موند. ماشومانو چې د کاهدانې مخې ته یې لوبې کولې، بزګر ته وویل: اکا! ساعت دې موږ درته پیدا کړو؟

بزګر چې نور یې د پلټلو حوصله نه درلوده، وویل: هو، راپیدا یې کړئ.

هلکان کاهدانې ته ننوتل او ټوله پروړه یې په بل مخ واړوله، خو ساعت یې ونه موند. ټول بېرته راووتل.په دې وخت کې د بزګر لور راغله. هغې پلار ته د اوداسه لپاره اوبه راوړې وې. کله چې د پلار د ساعت له ورکېدو خبره شوه، ویې ویل: دادا! ته دا بدنۍ واخله، مخ لاس تازه کړه، ساعت به دې زه پیدا کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بزګر موسکی شو، ویې ویل: ښه ده لورې، ورځه. خو ګومان مې نه شي چې پیدا به یې کړې. ما او هلکانو ډېر ولټاوه، خو ته وا ځمکه چاوده شوه او دا په کې ننوت. اوس خو لا تیاره هم شوه.

لور یې نرۍ خندا وکړه او ویې ویل: دادا! مور مې ما څه بولي؟ هغه مې پلټونکې نجلۍ بولې.

له دې خبرې سره کاهدانې ته ورننوته. شېبه نیمه پس پلټونکې نجلۍ راووته او بزګر ته یې د هغه ساعت ورکړ .

بزګر ورته وویل: عجبه ده، دومره ژر! څنګه دې وموند؟

نجلۍ ورته وویل: زه په کاهدانه کې کراره کېناستم او په پوره چوپتیا کې مې غوږ ونیو چې د ساعت د ټک ټک ځای سهي کړم.

[تصویر: کلی، د کاهدانې مخې ته دوه غواګانې ولاړې دي. بزګر اودس کوي او یوې (۱۱- ۱۲ کلنې) نجلې ورته ساعت نیولی دی. د کاهدانې ور خلاص دی.]

**کورنۍ دنده:** تاسې په دې اړه خپله کیسه ولیکئ چې څنګه مو کومه ستونزه په هوښیارۍ او ارام ذهن سره حل کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| فصل ۳ | اونۍ ۳ | درسي ساعت ۲ |
|---|---|---|

**ووېشئ او معنا کړئ:** د چوکاټ کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکئ. بیا له خپلو ځنګلوریو ټولګیوالو سره، هره کلمه د مثال په شان پر برخو (اصلي برخه او روستاړي) ووېشئ او معنا یې پیدا کړئ.

| کلمه | اصلي برخه ـ روستاړی | د کلمې معنا |
|---|---|---|
| پلټونکې | پلټـ ـــ ـونکې | پلټـ (پلټنه) = لټون ـونکې = فاعلي روستاړی، ترسره کوونکې<br>پلټونکې = څوک چې پلټنه کوي |
| زده کوونکې | | |
| جوړوونکې | | |
| لوستونکې | | |
| لیکونکې | | |

**د کیسې چارټ:** د کیسې چارټ په خپلو کتابچو کې رسم کړئ. بیا له خپلو ځنګلوریو ټولګیوالو سره د کیسې پیل، منځ او پای پیدا او چارټ ډک کړئ.

| پیل | | منځ (د کیسې ځوکه) | پای | |
|---|---|---|---|---|
| کرکټرونه | | | د ستونزې حل | |
| ځای – زمان | | | | |
| ستونزه | | | نتیجه/ پیغام | |

**ویې ارزوئ:** د کیسې د کرکټرونو په اړه فکر وکړئ. د هر کرکټر په اړه دغو پوښتنو ته ځواب ووایئ:

۱. څه یې وکړل؟

۲. ولې یې وکړل؟

۳. کار یې سم او منطقي و، که نه؟ دلیل مو څه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بحث وکړئ:** تاسې به په ډلو کې د «پوښتنه» په اړه بحث وکړئ. هر څوک به په خپله ډله کې د لاندې پوښتنو په اړه خپل نظر ښکاره کړي. د بحث په پای کې به د ځینو ډلو استازي د خپلې ډلې د بحث نتیجه نورو ته ووايي.

**د بحث پوښتنې:**

۱. موږ پوښتنه ولې کوو؟

۲ . خپله پوښتنه څنګه باید وکړو؟

۳. له ځان څخه پوښتنه کولی شو؟ څنګه؟

**نومونه سره بېل کړئ:** په لاندې چوکاټ کې د ذات او د معنا نومونه ګډوډ راغلي دي. تاسې يې سره بېل کړئ.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| چوپتیا | څمکه | بدنی | ستوماني | ساعت | غوسه |
| کاهدانه | ګومان | بزګر | شببه | وخت | هلک |
| حوصله | تیاره | شیطاني | اودس | ستړيا | نجلۍ |

**تېر مهال ته يې واړوئ:** لاندې جملې په خپلو کتابچو کې ولیکئ او د بېلګې په شان هره جمله مطلق او جاري تېر مهال ته واړوئ.

| اوس مهال | مطلق تېر مهال | جاري تېر مهال |
|---|---|---|
| لمر لوېږي. | لمر ولوېد. | لمر لوېده. |
| بزګر غوسه دی. | | |
| شیطان ته لاحول وايي. | | |
| ما پلټونکي نجلۍ بولي. | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| فصل ۳ | اونۍ ۳ | درسي ساعت ۴ |
|---|---|---|

**وويښئ او ويې ليکئ:** له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره لاندې کلمې پر برخو وويشئ او په خپلو کتابچو کې يې وليکئ.

| ستوماني | ستومانـ ـی |
|---|---|
| کاهدانه | |
| پلټونکې | |
| هلکانو | |
| چوپتيا | |

**فکر وکړئ:** دلته د کيسې په اړه داسې پوښتنې لولئ چې ځوابونه يې په کيسه کې نشته. له څنګلوريو ټولګيوالو سره مو د پوښتنو ځوابونه پيدا او په خپلو کتابچو کې يې وليکئ.

۱. بزګر او هلکانو ولې ساعت پيدا نه کړای شو؟

۲. په دې کيسه کې هلکان مشران وو که نجلۍ مشره وه؟

۳. د بزګر مېرمنې ولې خپله لور پلټونکې نجلۍ بلله؟

**ويې ارزوئ:** د کيسې د کرکټرونو کارونه وارزوئ او په خپلو کتابچو کې د دې پوښتنو ځوابونه وليکئ.

۱. د بزګر کوم کارونه ناسم وو، ولې؟

۲. د هلکانو او نجلۍ کارونه څنګه ارزوئ؟

**خپل نظر وليکئ:** د کيسې کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ د کيسې تلوسه څنګه ده؟ له دې کيسې څخه مو څه زده کړل؟په کتابچو کې مو د کيسې په اړه خپل نظر وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځم ټولګی – څلورم فصل

## موضوع: ټولنیز ژوند

## ژانر: معلوماتي (مقایسي)



**انسان او ټولنه له یو بل سره متقابله رابطه لري.**



١. ټولنې څنګه جوړېږي؟

٢. انسانان ولې په ټولنو کې ژوند کوي؟

٣. انسان او ټولنه څنګه له یو بل سره رابطه لري؟

۴. که ټولنې نه وای، ژوند به څنګه و؟

۵. په ټولنه کې کومو شیانو ته باید پام وکړو؟



**هر شی له بل شي سره ځینې ورته‌والي او ځینې توپیرونه لري.**



١. د شیانو تر منځ ورته‌والي څنګه معلومولی شو؟

٢. د شیانو د توپیرونو وجه څه ده؟

٣. دوه شیان څنګه هم سره ورته وي او هم له یو بله توپیر لري؟

۴. که ټول شیان بېخي سره ورته وای، څه به پېښېدل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د فصل عمومي هدفونه

ګرانو زده‌کوونکو! تاسې به د دې فصل کې وکولای شئ چې:

۱. د متن په اړه وړاندوینه وکړئ.

۲. د دوو شیانو توپیرونه او ورته‌والي په ډیاګرام کې وښیئ.

۳. د متن په اړه استباطي پوښتنې ځواب کړئ.

۵. متن وارزوئ.

٦. د متن په اړه خپل نظر بیان کړئ.

## د لومړۍ اونۍ خاص هدفونه

ګرانو زده‌کوونکو! تاسې به د دې درس تر پایه پورې وکولای شئ چې:

۱. پر برخو د وېشلو له لارې، د ۴ داسې کلمو معنا پیدا کړئ چې د «یز» روستاړی لري؛

۲. په ډله‌ییز بحث کې د ټولنیز ژوند په اړه خپل نظر څرګند کړئ؛

۳. په جملو کې به د څو صفتونو سمه بڼه وکاروئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| شامـ – ـپانـ – ـزي – ګا – نې | ډولـ – ـفيـ – ـنان | ټو – لـ – ـنيز |
| نـ – ـظا – مو – نو | سا – عتـ – و – نو | څېـ – ـړونـ – ـکو |

ټولنيز ژوند | شامپانزي | شاهي نظام | داړه

**اټکل وکړئ:** لاندې څو جملې ليکل شوې دي. تاسې هره جمله ولولئ او فکر وکړئ چې سمه ده که ناسمه. بيا په پنسل سره د سمې جملې مخې ته (ص) او د غلطې جملې مخې تـه (غ) وليکـئ. بيـا مـتن ولولئ چې ستاسو وړاندوينه سمه وه که نه.

۱. ژوي له يو بل سره مينه او خواخوږي کوي.

۲. ځينې ژوي د خپل ټيپي ملګري د ژغورلو هڅه کوي.

۳. د فيلانو په ګله کې نر فيل د ګلې مشر وي.

۴. لېوان ټول عمر له مور او پلار سره تېروي.

۵. د زمريانو او نهنګانو کورنۍ سره ورته دي.

٦. د شامپانزيګانو مشر تر ټولو زوړ نر شامپانزي وي.

**ولولئ:** لاندې متن په ټيټ غږ ولولئ. د هر پراګراف تر لوستلو وروسته، يو ځل د هماغـه پراګراف په اړه د وړاندوينې جمله وګورئ. که مو وړاندوينه ناسـمه وه، مخـې تـه يـې چليپا وکـاږئ او کـه سمه وه، د جملې مخې ته د ( ✓ ) نښه وليکئ.

## د انسان او ژوو کورنۍ

ځينې خلک ګومان کـوي چـې يـوازې انسـانان ټـولنيز ژونـد لـري، خـو ځيـنـې ژوي هـم د انسـانانو غونډې کورنۍ لري. انسانان په کورنيو کې ژوند کوي چې د يو بل خيـال وسـاتي، د خپلـو بچيـو روزنـه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پالنه وکړي، او له یو بل سره مینه وکړي. شامپانزي‌ګانې چې د یو بل بدن ګروي، یوازې د صفا کولو لپاره نه وي، بلکې یو بل ته مینه هم ورکوي. همدارنګه زمرۍ یو بل په څټلو نازوي او زمري خپل سرونه سره موښي. په ۲۰۱۳ کال کې خلکو پنځه ډولفینان ولیدل چې لکه جاله سره جوخت روان وو. دوی په خپل سر یو بل زخمي ډولفین نیولی و چې ډوب نه شي.

زموږ په کورنیو کې د یوه مور او پلار اولادونه اوسېږي او هره کورنۍ یو مشر لري. د فیلانو په ګله کې میندې، خویندې، لوڼې او بچي یې وي. د ګلې تر ټولو مشره، د ګلې رهبره وي. کله چې هغه مړه شي، تر ټولو مشره لور یې د هغې ځای نیسي، لکه زموږ په شاهي نظامونو کې چې معمولاً تر پاچا وروسته د هغه مشر زوی پاچا کېږي.

د لېوانو داړه بیا د انسانانو د کورنۍ غوندې وي. مور، پلار او واړه بچیان یې یوه داړه وي. په هره داړه کې له ۵ تر ۱۱ پورې لېوان وي. د لېوانو بچي تر ځوانۍ پورې په داړه کې پاتې کېږي. بیا ځي او ځان ته جوړه پیدا کوي چې بله کورنۍ جوړه کړي.

د زمریو په ګله کې زمرۍ او بچي یې اوسېږي. په هره ګله کې معمولاً ۱۵ زمرۍ او واړه زمري وي. زمرۍ په خپله ګله کې پردۍ زمرۍ نه شي زغملی او که پردۍ زمرۍ وغواړي ګلې ته یې ورګډه شي، دوی یې شړي. د زمریو نر بچي چې ۲ – ۳ کلن شي، له ګلې څخه وځي.

یو ډول نهنګان هم په ډلو کې ګرځي. د هرې ډلې نهنګان د یوې مور بچیان وي. دوی هېڅکله تر یو څو ساعتونو زیات له یو بله نه لرې کېږي او ټول عمر د مور او پلار په خوا کې تېروي.

شامپانزي‌ګانې په لویو ډلو کې اوسېږي. دوی قبیلې، خېلونه او کورنۍ لري. د شامپانزي‌ګانو څو کورنۍ یو خېل جوړوي. په شامپانزي‌ګانو کې کورني اړیکي ډېر غښتلي دي. دوی تر ځوانۍ وروسته هم د مور مینه او پام غواړي. د خېل مشرـ تر ټولو غښتلی نر شامپانزي وي. د دوی نران له یو بل سره جنګېږي او هر څوک چې بر شو، هغه مشر کېږي. کېدای شي یو نر ډېر غښتلی نه وي، خو چالاکه وي او په چالاکۍ سره پر نورو نرانو بر شي. شامپانزي‌ګانې د ورځې له خوا په خوړو پسې خپرېږي او له نورو کورنیو او خېلونو سره راشه درشه کوي، خو د شپې بېرته راټولېږي او هر څوک په خپل خېل کې د ونو پر څانګو یو بل ته نژدې ویده کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

منابع:

1. https://askdruniverse.wsu.edu/2018/01/12/animals-live-groups
2. https://www.worldatlas.com/articles/what-animals-live-in-groups
3. https://www.onegreenplanet.org/animalsandnature/animal-species-with-strong-family-bonds
4. https://www.conservenature.org/learn_about_wildlife/chimpanzees/chimp_community

[تصویر: د صفحې په منځ کې د انسانانو د یوې کورنۍ عکس په بیضوي چوکاټ کې او چارچاپېره یې په نسبتاً وړو دایرو کې د شامپانزي‌گانو، زمریانو، لېوانو، او فیلانو د ډلو عسکونه]

**کورنۍ دنده:** په خپل چم گاونډ کې د مېږيو، مچيو، مرغيو، چرگانو، مرغانو، پسونو يا نورو ژوو ژوند ته ځير شئ. وگورئ چې دوی ډله‌ييز او ټولنيز ژوند لري، که جلا جلا اوسېږي. بيا د دوو يا دريو ژوو د ژوندانه توپيرونه او ورته‌والي په کتابچو کې وليکئ.

| فصل ۴ | اونۍ ۱ | درسي ساعت ۲ |
|---|---|---|


**وويشئ او معنا کړئ: د چوکاټ کلمې په خپلو کتابچو کې وليکئ. بيا له خپلو ځنگلوريو ټولگيوالو سره، هره کلمه د مثال په شان پر برخو (اصلي برخه او روستاړي) وويشئ او معنا يې پيدا کړئ.**

| کلمه | اصلي برخه ـ روستاړی | د کلمې معنا |
|---|---|---|
| **ټولنيز** | **ټولنه ــ يز** | **ټولنه** = اجتماع، ډله، سره یو ځای اوسېدونکي کسان **يز** = صفتي وروستاړی<br>**ټولنيز** = څه چې د ټولنې او ډلې په بڼه وي، يا په ټولنې پورې تړلی وي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| ډله‌ییز | | |
| وسپنیز | | |
| غړیز | | |
| لنډیز | | |

**د مقایسې ډیاګرام:** د مقایسې ډیاګرام په خپلو کتابچو کې رسم کړئ. د زمریانو او لېوانو د ډله‌ییز ژوند توپیرونه او ورته‌والي پیدا او په ډیاګرام کې یې ولیکئ.




**ویې ارزوئ:** د «انسان او ژوو کورنۍ» مقاله وارزوئ او دې پوښتنو ته ځواب ووایئ:


۱. کومې کلمې درته سختې او نا آشنا وې؟

۲. معلومات یې څومره په زړه پورې وو؟

۳. د کومې دعوې لپاره دلیل او ثبوت وړاندې شوی و؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کورنۍ دنده:** د انسانانو کورنۍ د کوترو له سېل سره مقایسه کړئ. بیا د مقایسې ډیاګرام په خپلو کتابچو کې رسم کړئ. په یاد مو وي چې د دواړو ورته شیان د دایرو په تېره بېره برخه کې او توپیرونه یې د دایرو په آزادو برخو کې ولیکئ.




فصل ۴ | اونۍ ۱ | درسي ساعت ۳

**بحث وکړئ: تاسې به په ډلو کې د «ټولنیز ژوند» په اړه بحث وکړئ. هر څوک به په خپله ډله کې د لاندې پوښتنو په اړه خپل نظر څرګندوي. د بحث په پای کې به د ځینو ډلو استازي د خپلې ډلې د بحث نتیجه نورو ته وواییي.**

د بحث پوښتنې:

۱. انسانان ولې په ټولنو کې ژوند کوي؟

۲ . که یو څوک په ځنګله کې یوازې سر واوسېږي، ژوند به یې څنګه وي؟

۳. فکر وکړئ چې یو کس په ټولنه کې ژوند کوي او بل کس یوازې، د دوی ژوند به کوم توپیرونه لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د صفتونو سمه بڼه وکاروئ:** د لاندې نومونو لپاره په لیندیو کې د راغلیو صفتونو سمه بڼه ولیکئ.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| سور ............... زمری | سره ............... زمري | سره ............... زمرۍ | سرې ............... کربښې | (سور) |
| ............... نهنگ | ............... نهنگان | ............... پاڼه | ............... پاڼې | (شين) |
| ............... ختکی | ............... ختکي | ............... هندوانه | ............... هندواڼې | (اوم) |
| ............... انار | ............... انارونه | ............... مالټه | ............... مالټې | (خوږ) |
| ............... ناک | ............... توتان | ............... مڼه | ............... مڼې | (پوخ) |

**کورنۍ دنده:** د مقایسې ډیاګرام په خپلو کتابچو کې رسم کړئ او بیا د متن د معلوماتو له مخې د فیلانو او شامپانزي ګانو ژوند سره مقایسه کړئ. په یاد مو وي چې د دواړو ورته ځانګړنې د دایرو په تېره برخه کې او توپیرونه یې د دایرو په آزادو برخو کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وویشئ او ویې لیکئ:** له خپلو ځنګلوریو ټولګیوالو سره لاندې کلمې پر برخو ووېشئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

| ټولګی | ټول  ګی |
|---|---|
| ټولنه | |
| ټولنیز | |
| ټولې | |
| ټولنپوه | |

**فکر وکړئ:** دلته داسې پوښتنې لولئ چې ځوابونه یې په متن کې نشته. له ځنګلوریو ټولګیوالو سره مو د پوښتنو ځوابونه پیدا او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

۱. فیلان او شامپانزي‌ګانې ولې د خپلې ډلې لپاره مشر/ مشره لري؟

۲. نهنګان له څو ساعته جلا سفر څخه وروسته، څنګه خپله کورنۍ بېرته پیدا کوي؟

۳. د زمریانو نر بچي چې ۲ -۳ کلن شي او له ګلې څخه وځي، بیا چېرته ځي؟

**ویې ارزوئ:** لوستل شوی متن وارزوئ او په خپلو کتابچو کې د دې پوښتنو ځوابونه ولیکئ.

۱. د متن جملې د وضاحت په لحاظ څنګه وې؟

۲. د متن کومې جملې رواني لوستل کېدې او د کومو جملو لوستل ګران وو؟

**خپل نظر ولیکئ:** د متن کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ په کتابچو کې مو د متن په اړه خپل نظر ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دوهمې اونۍ خاص هدفونه

گرانو زده‌کوونکو! تاسې به د دې درس تر پايه پورې وکولای شئ چې:

۱. پر برخو د وېشلو له لارې، د ۴ داسې کلمو معنا پيدا کړئ چې د «ځای» روستاړی لري؛

۲. په ډله‌ییز بحث کې د مېلې او چکر په اړه خپل نظر څرگند کړئ؛

۳. په جملو کې به د خو صفتونو سمه بڼه وکاروئ.

| فصل ۴ | اونۍ ۲ | درسي ساعت ۱ |
|---|---|---|

| | | |
|---|---|---|
| غـ - لـ - طېـ - ـږي | آ - را - مې - ـږي | فـ - ـعال - ـيـ - ـتو - نه |
| سيـ - ـمه - يېـ - ـزې | و - لسـ - ـوا - ـلې | ار - ـغنـ - ـداو |

| | | | |
|---|---|---|---|
| بانډار | مقاومت | معمولي | جهيل |

**اټکل وکړئ:** لاندې څو جملې ليکل شوې دي. تاسې هره جمله ولولئ او فکر وکړئ چې سمه ده که ناسمه. بيا په پنسل سره د سمې جملې مخې ته (ص) او د غلطې جملې مخې ته (غ) وليکئ. بيا متن ولولئ چې ستاسو وړاندوينه سمه وه که نه.

۱. مېله او چکر يوازې د ساعت تېرۍ لپاره دي او بله ګټه نه لري.

۲. ټولې مېلې يو رقم دي.

۳. مېله‌ځايونه يا طبيعي دي يا انسانانو جوړ کړي دي.

۴. ټول خلک د مېلې لپاره يوازې داسې ځاى خوښوي چې روانې اوبه په کې وي.

۵. بندونه د ځمکو د خړوبولو او د برېښنا د توليدولو لپاره جوړ شوي دي.

۶. په پارکونو کې يوازې ونې وي.

**ولولئ:** لاندې متن په ټيټ غږ ولولئ. د هر پراګراف تر لوستلو وروسته، يو ځل د هماغه پراګراف په اړه د وړاندوينې جمله وګورئ. که مو وړاندوينه ناسمه وه، مخې ته يې چليپا وکاږئ او که سمه وه، د جملې مخې ته د ( ✓ ) نښه وليکئ.

## مېله او چکر

مېله او چکر د انسان ذهن او بدن دواړو ته ګټه لري. په مېله او چکر کې د انسان پام غلطېږي، ذهن يې آرامېږي او ستوماني يې لرې کېږي. همدارنګه په مېله کې خلک ډېر ګرځي راګرځي، لوبې کوي، او نور فيزيکي فعاليتونه کوي چې د ورزش غوندې بدن ته ګټه لري. په مېلو او چکرونو کې ټوکې ټکالې، بانډار او ګپ شپ وي چې دا د انسان زړه خوشحالوي. فيزيکي فعاليت، خندا او خوشحالي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناروغیو په وړاندې د بدن مقاومت زیاتوي. همدارنګه د مېله ځایونو تازه هوا سږو، زړه، مغزو او د بدن نـورو برخو ته ګټوره ده.

ځینې مېلې عمومي مېلې دي چې خورا ډېر خلک په کې وي، مثلاً د نوروز مېله چـې د افغانسـتان ډېر زیات خلک له کورونو څخه راوځي، څوک مزار شریف ته ځي او څوک د نـورو ولایتونـو مېلـه‌ځایونو تـه ځي. ځینې مېلې بیا سیمه‌ییزې دي چې یوازې د یوې سیمې یعنې د یوې ولسوالۍ یـا ولایـت یـا د څـو څنګلوریو ولایتونو خلک ورځي. د پکتیا په زرمت کې د طالبانو یا د توتانو مېله، په جلال آباد کې د نارنج ګل مېله، په هرات کې د انګورو مېله، په پروان کې د ارغوان ګل مېله سیمه‌ییزې مېلې دي. د مېلـې بـل ډول معمولي مېلې دي چې هره جمعه یا په نورو رخصتیو کې ځینې کسان له خپلو کورنیو یا ملګـرو سره چکر ته راوځي.

مېله‌ځایونه یا طبیعي وي یا انسانانو پخپله جوړ کړي وي. طبیعي مېله‌ځایونـه پـه طبیعـت کـې تیـار وي. ځینې طبیعي مېله ځایونه د ولاړو یا روانـو اوبـو پـه وجـه مشـهور دي. پـه بامیـان کـې بنـد امیـر، پـه بدخشان کې د شیوا جهیل او په غزني کې د سرده بند د طبیعي ولاړو اوبو مېله‌ځایونه دي. د روانـو اوبـو مشهور مېله‌ځایونه د کونړ سیند، د پنجشیر او سالنګ سیندونه، پـه کنـدهار کـې د ارغنـداو سـیند او پـه هرات کې د هریرود سیندونه دي. ځینـې نـور طبیعـي مېله‌ځایونـه ځـنګلي وي، مـثلاً د پکتیـا، پکتیکـا، خوست، کونړ او نورستان ځنګلونه ښه مېله‌ځایونه دي. ځینې خلک بیا د غره چکر خوښوي او ځینې یـې ډاګ او صحرا خوښوي چې هېڅ غر و غوړ په کې نه وي.

هغه مېله‌ځایونه چې انسانانو جوړ کړي دي یا د اوبو لوی ډنډونه دي، یا باغونه او پارکونـه. پـه کابـل کې د قرغې او سروبي بندونه، په جلال آباد کې د درونټې بنـد، او پـه کنـدهار کـې د دالـې بنـد د خلکـو مېله ځایونه دي. دغه بندونه یا د اوبو د ایسارولو او د ځمکو د خړوبولو لپاره جوړ شوي دي، لکه د قرغـې او د دالې بند او یا برېښنا هم په کې تولیدېږي، لکه د سروبي او درونټې بندونه.

په ښارونو کې خلکو د مېلې او چکر لپاره پارکونه او باغونه جوړ کړي دي. په باغ کې ونې ډېرې، خـو چمن او میدان کم وي. په پارکونو کې بیا د لوبو میدانونه لکه د والیبال، فوټبـال، او کریکـټ میدانونـه او لوی لوی چمنونه هم وي. په ځینو پارکونو کې د ماشومانو د ساعت تېرۍ وسـایل لکـه ډولـۍ، څرخونـه، یخمالک، بایسکل، برېښنایي موټرونه او داسې نور شیان هم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

[تصویر: د مختلفو مېلهځایونو عکسونه، کله: د قرغې بند، د آریوب ځائيو ځنګلونه، بند امیر، د مزار شریف دشت شادیان]

**کورنۍ دنده:** مېله او چکر مو له خپلې کورنۍ سره خوښېږي که له خپلو ملګرو او همزولو سره؟ د مېلې دا دوه ډولونه سره مقایسه کړئ. په خپلو کتابچو کې د مقایسې ډیاګرام رسم کړئ او د دې مېلو ورته والي او توپیرونه وښیئ.


(c) ketabton.com: The Digital Library



**ووېشئ او معنا کړئ:** د چوکاټ کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکئ. بیا له خپلو ځنګلوریو ټولګیوالو سره، هره کلمه د مثال په شان پر برخو (اصلي برخه او روستاړي) ووېشئ او معنا یې پیدا کړئ.

| کلمه | اصلي برخه ـ روستاړي | د کلمې معنا |
|---|---|---|
| مېله‌ځای | مېله ــ ځای | **مېله** = د تفریح او چکر لپاره له خپلې کورنۍ یا ملګرو سره له کوره وتل **ځای** = مکاني روستاړی **مېله‌ځای** = هغه ځای چې خلک د مېلې لپاره ورځي |
| تمځای | | |
| څرځای | | |
| پناه‌ځای | | |
| پټېدنځای | | |

**د مقایسې ډیاګرام:** د مقایسې ډیاګرام په خپلو کتابچو کې رسم کړئ. د طبیعي او مصنوعي مېله‌ځایونو توپیرونه او ورته‌والي پیدا او په ډیاګرام کې یې ولیکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library


**ويې ارزوئ:** د «انسان او ژوو کورنۍ» مقاله وارزوئ او دې پوښتنو ته ځواب ووايئ:

۱. کومې کلمې درته سختې او نا آشنا وې؟

۲. معلومات يې څومره په زړه پورې وو؟

۳. د کومې دعوې لپاره دليل او ثبوت وړاندې شوی و؟

**کورنۍ دنده:** ستاسو کومې لوبې خوښېږي چې په مېلو کې يې وکړئ. د مقايسې د ډياگرام په کارولو سره، دوې هغه لوبې چې په مېلو کې يې کوئ، سره مقايسه کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library



**بحث وکړئ: تاسې به په ډلو کې د «مبلې او چکر» په اړه بحث وکړئ. هر څوک به په خپله ډله کې د لاندې پوښتنو په اړه خپل نظر څرګندوي. د بحث په پای کې به د ځینو ډلو استازي د خپلې ډلې د بحث نتیجه نورو ته وړاندې کړي.**

د بحث پوښتنې:

۱. له مبلې او چکر څخه ولې خوند اخلو؟

۲ . عمومي مبله ځایونه له شخصي مبله ځایونو څخه څه توپیرونه لري او په څه شي کې سره ورته دي؟

۳. په عمومي مبله ځایونو کې کوم کارونه مناسب دي او کوم کارونه مناسب نه دي؟

**د صفتونو سمه بڼه وکاروئ:** په کتابچو کې مو د لاندې نومونو لپاره په لیندیو کې د راغلیو صفتونو سمه بڼه ولیکئ.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| بوټی ............. تریخ | بوټي ............. تراخه | پاڼه ............. ترخه | پاڼې ............. ترخې | (تریخ) |
| تندی ............. | تندي ............. | ټنډه ............. | ټنډې ............. | (تریو) |
| کمیس ............. | کمیسونه ............. | لمن ............. | لمنې ............. | (اوږد) |
| پیتاوی ............. | پیتاوي ............. | هوا ............. | بړستنې ............. | (تود) |
| ویښته ............. | ویښتان ............. | شړۍ ............. | جامې ............. | (ځیږ) |

**کورنۍ دنده:** د مقایسې په ډیاګرام کې هغه کارونه چې په عمومي او شخصي- مبلهځایونو کې کولی شو، سره مقایسه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فصل ۴ | اونۍ ۲ | درسي ساعت ۴

**ووېشئ او ويې ليکئ: له خپلو ځنګلوريو ټولګيوالو سره لاندې کلمې پر برخو ووېشئ او په خپلو کتابچو کې يې وليکئ.**

| غلطېږي | غلط ېږي |
|---|---|
| آرامېږي | |
| کرارېږي | |
| توليدېږي | |
| لرې کېږي | |

**فکر وکړئ: دلته داسې پوښتنې لولئ چې ځوابونه يې په متن کې نشته. له ځنګلوريو ټولګيوالو سره مو د پوښتنو ځوابونه پيدا او په خپلو کتابچو کې يې وليکئ.**

۱. د ښارونو خلک د مېلې لپاره ولې کليوالو سيمو ته ځي؟

۲. په مېلو کې کوم خطرونه وي چې ځان بايد ترې وساتو؟

۳. مېلې ته چې ځو، کوم شيان بايد راسره واخلو؟

**ويې ارزوئ:** لوستل شوی متن وارزوئ او په خپلو کتابچو کې د دې پوښتنو ځوابونه وليکئ.

۱. د متن جملې د وضاحت په لحاظ څنګه وې؟

۲. د متن کومې جملې رواني لوستل کېدې او د کومو جملو لوستل ګران وو؟

**خپل نظر وليکئ: د متن کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ په کتابچو کې مو د متن په اړه خپل نظر وليکئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دریمې اونۍ خاص هدفونه

گرانو زده‌کوونکو! تاسې به د دې درس تر پایه پورې وکولای شئ چې:

۱. پر برخو د وېشلو له لارې، د ۴ داسې کلمو معنا پیدا کړئ چې د «تون» روستاړی لري؛

۲. په ډله‌ییز بحث کې د کلي او ښار په اړه خپل نظر څرگند کړئ؛

۳. په جملو کې به د خو صفتونو سمه بڼه وکاروئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| اد – سا – نا – نو | مس – تـ – ـريـ – ـتوب | اد – جيـ – ـنيـ – ـري |
| دو – کاد – ـدا – ـري | رسـ – ـتيو – را – نو – نه | مار – کېـ – ـټو – نه |

استوګنه | معمولاً | ککړتیا | هوټل

**اټکل وکړئ:** لاندې څو جملې ليکل شوې دي. تاسې هره جمله ولولئ او فکر وکړئ چې سمه ده کـه ناسمه. بیا په پنسل سره د سمې جملې مخې ته (ص) او د غلطې جملې مخې تـه (غ) وليکـئ. بيـا مـتن ولولئ چې ستاسو وړاندوينه سمه وه که نه.

۱. په ښارونو کې د هرې کوڅې ټول اوسېدونکي سره خپلوان وي.
۲. په کليو او ښارونو دواړو کې خلک يو شان دندې او کارونه لري.
۳. د کليو جوماتونه واړه وي خو د ښار جوماتونه لوی دي.
۴. په ښارونو کې کروندې او د مېوو باغونه ډېر دي.
۵. د ښارونو هوا ډېره ککړه وي ځکه چې هلته فابريکې، موټرې، او بخارۍ ډېرې دي.
٦. په کليو کې کثافات او خځلې ځکه کم دي چې اوسېدونکي يې د نظافت خيال ساتي.



**ولولئ:** لاندې متن په ټيټ غږ ولولئ. د هر پراګراف تر لوستلو وروسته، يو ځل د هماغـه پراګراف په اړه د وړاندوينې جمله وګورئ. که مو وړاندوينه ناسـمه وه، مخـې تـه يـې چليپا وکـاږئ او کـه سمه وه، د جملې مخې ته د ( ✓ ) نښه وليکئ.

## زموږ کلي او ښارونه

ښار او کلی دواړه د انسانانو د استوګنې سيمې دي. په دواړو کـې وګـړي لـه نـورو انسـانانو سره ګډ ژوند کوي. په ښارونو کې ډېر زيات خلک اوسېږي او کورونه په کـې واړه خـو ډېـر دي، خـو پـه کليـو کـې خلک او کورونه کم وي. د کلي کورونه د ښار تر کورونو لوی وي. د يوه کلي خلـک معمـولاً سره خپـل وي خو په ښارونو کې پردي خلک سره ګاونډيان وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کلي او ښار دواړو کې خلک کار و بار کوي. د ښار خلک مختلف کارونه کوي، لکه: دفتري کارونه، ډاکټري، انجینیري، تجارت، دوکانداري، مستريتوب، نجاري، ډرېوري، او ډېر نور کارونه. خو کلیوال معمولاً یا بزگر وي یا مالدار او نور کسبونه په کې کم وي. په ښارونو کې روغتونونه، کلینیکونه، فابریکې او کارخانې، هوټلونه، رسټورانونه او مارکېټونه شته چې ډېر خلک په کې کار کوي، خو په کلیو کې دا شیان نشته.

زموږ په ښارونو او کلیو دواړو کې دکانونه، ښوونځي، او جوماتونه شته. د کلي جومات وړوکی وي خو د ښار جوماتونه لوی او ډېر دي. په کلیو کې د څو کلیو لپاره یو ښوونځی وي، خو په ښار کې ښوونځي ډېر زیات دي. په ښارونو کې پوهنتونونه او د زده کړې مختلف کورسونه وي، خو په کلیو کې پوهنتون نشته. د ښار بازارونه ډېر لوی لوی وي او د هر شي دوکانونه په کې وي، خو په کلیو کې یوازې د پرچون واړه دوکانونه وي.

په ښار او کلي دواړو کې ونې او گلان وي. په ښارونو کې خلک په خپلو انگړونو کې ونې ږدي او گلان کري یا په گلدانیو کې گلان کري، خو په کلیو کې خلک د خپلو پټیو په شاوخوا کې ونې ږدي او په پټیو کې غنم، جوار، مې، رومیان، بانجان، کچالان، پیاز، بینډۍ او نور شیان کري. په کلیو کې وحشي بوټي او گلونه چې پخپله شنه کېږي، ډېر وي. ځینې کلیوال د مېوو باغونه لري چې انار، مڼې، انگور، مندتې، مالټې، بادام، غوزان او نورې مېوې کوي.

په ښارونو کې خځلې او کثافات ډېر او هوا یې ککړه وي. دا ځکه چې هلته په کم ځای کې ډېر خلک اوسېږي. د ښارونو هوا د موټرو، کارخانو، او بخاریو په لوگیو ککړېږي. په ښارونو کې گرد او دوړې هم زیات وي او د هوا د ککړتیا په وجه ناروغۍ په کې زیاتې دي. د کلیو هوا تازه او پاکه وي ځکه چې د موټرو تگ راتگ په کې کم وي، کارخانې په کې نشته او کورونه هم کم دي.

[تصویر: د صفحې په ښۍ خوا کې د کلي عکس او په چپه خوا کې یې د ښار تصویر]

**کورنۍ دنده:** د مقایسې ډیاگرام په کارولو سره د خپلې استوگنې سیمه له یوې بلې سیمې سره مقایسه کړئ.


(c) ketabton.com: The Digital Library



**ووېشئ او معنا کړئ: د چوکاټ کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکئ. بیا له خپلـو ځنګلوریـو ټولګیوالـو سره، هـره کلمه د مثال په شان پر برخو (اصلي برخه او روستاړي) ووېشئ او معنا یې پیدا کړئ.**

| کلمه | اصلي برخه ـ روستاړی | د کلمې معنا |
|---|---|---|
| روغتون | روغ ــ تون | روغ = جوړ، تون = ځای، مکاني وروستاړی<br>روغتون = هغه ځای چې ناروغان په کې رغېږي. |
| پوهنتون | | |
| میړتون | | |
| وسله‌تون | | |
| کتابتون | | |

**د مقایسې ډیاګرام:** د مقایسې ډیاګرام په خپلو کتابچو کې رسم کړئ. زموږ د کلیو او ښارونو توپیرونه او ورته‌والي پیدا او په ډیاګرام کې یې ولیکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library


**ويې ارزوئ:** د «انسان او ژوو کورنۍ» مقاله وارزوئ او دې پوښتنو ته ځواب ووايئ:

۱. کومې کلمې درته سختې او نا آشنا وې؟

۲. معلومات يې څومره په زړه پورې وو؟

۳. د کومې دعوې لپاره دليل او ثبوت وړاندې شوی و؟

**کورنۍ دنده:** د خپلې کورنۍ د مشرانو په مرسته، د کلي او ښار دودونه سره مقايسه کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

| فصل ۴ | اونۍ ۳ | درسي ساعت ۳ |
|---|---|---|

**بحث وکړئ: تاسې به په ډلو کې د «ټولنیز ژوند» په اړه بحث وکړئ. هر څوک به په خپله ډله کې د لاندې پوښتنو په اړه خپل نظر څرګندوي. د بحث په پای کې به د څینو ډلو استازي د خپلې ډلې د بحث نتیجه نورو ته ووایي.**

د بحث پوښتنې:

۱. ولې ځینې خلک په کلیو کې ژوند کوي، ځینې په ښارونو کې؟

۲ . که ټول خلک په کلیو کې ژوند وکړي یا ټول خلک په ښارونو کې واوسېږي، نو څه به وشي؟

۳. کلیوال ژوند له ښاري ژوند سره کوم توپیرونه لري او څه شی په دواړه کې یو شان دی؟

**د صفتونو سمه بڼه وکاروئ:** په کتابچو کې مو د لاندې نومونو لپاره په لیندیو کې د راغلیو صفتونو سمه بڼه ولیکئ.

| | | | |
|---|---|---|---|
| خپور کتاب | خپاره کتابونه | خپره کتابچه | خپري کتابچې (خپور) |
| ............ سړی | ............ سړي | ............ ښځه | ............ ښځې (سپور) |
| ............ ټوکر | ............ لاسونه | ............ ډوډۍ | ............ ګوتې (پوست) |
| ............ لرګی | ............ لرګي | ............ دړه | ............ دړې (وروست) |
| ............ بار | ............ بارونه | ............ پنډه | ............ پنډې (دروند) |

**کورنۍ دنده:** د خپلې کورنۍ د مشرانو په مرسته، د کلي او د ښار کورونه سره مقایسه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ووېشئ او ويې ليکئ: له خپلو ځنګلوريو ټولګيوالو سره لاندې کلمې پر برخو ووېشئ او په خپلو کتابچو کې يې وليکئ.**

| نجاري | نجار ي |
|---|---|
| ډرېوري | |
| دفتري | |
| ډاکټري | |
| زرګري | |

**فکر وکړئ: دلته داسې پوښتنې لولئ چې ځوابونه يې په متن کې نشته. له ځنګلوريو ټولګيوالو سره مو د پوښتنو ځوابونه پيدا او په خپلو کتابچو کې يې وليکئ.**

۱. د کلي خلک په کومو کارونو کې تکړه دي؟

۲. په ښارونو کې خلک ولې په مختلفو دندو او کارونو بوخت دي؟

۳. خلک ولې ښارونو ته مخه کوي؟

**ويې ارزوئ:** لوستل شوی متن وارزوئ او په خپلو کتابچو کې د دې پوښتنو ځوابونه وليکئ.

۱. د متن جملې د وضاحت په لحاظ څنګه وې؟

۲. د متن کومې جملې رواني لوستل کېدې او د کومو جملو لوستل ګران وو؟

**خپل نظر وليکئ: د متن کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ په کتابچو کې مو د متن په اړه خپل نظر وليکئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځم ټولګی – پنځم فصل

## موضوع: د بریالیتوب لارې

## ژانر: بیوګرافي



**هر څوک په یوه خاص ډګر کې بریالی کېدای شي.**



۱ .بریالیتوب ولې مهم دی؟

۲ .د بریالي کېدو لارې کومې دي؟

۳ .د بریالي کېدو لپاره څه شی په کار دی؟

۴ .د بریالي کېدو لپاره خپله وړتیا څنګه کشف کړو؟

۵. د بریالي کس ګټه چا ته رسېږي؟



**د بریالیو کسانو د ژوند کیسې له خوند او پنده ډکې دي.**



۱ .د بریالیو کسانو ژوند زموږ له ژونده څه توپیر لري؟

۲ .د بریالیو کسانو د ژوند کیسې ولې لولو؟

۳ .د بریالیو کسانو له کیسې څخه څه زده کولی شو؟

۴ .بریالي کسان څنګه بریالي شوي دي؟

۵. هر څوک بریالی کېدلی شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دې فصل عمومي هدفونه

**ګرانو زده‌کوونکو! تاسې به د دې فصل کې وکولای شئ چې:**

۱. د معرفي شوي کس له ژوند سره ذهني رابطه جوړه کړئ؛

۲. د معرفي شوي کس د ژوند په اړه معلومات په چارټ کې ترتیب کړئ؛

۳. د زماني ترتیب په مراعاتولو سره د خپلې کورنۍ د یوه غړي/ غړې د ژوند کیسه وکړئ؛

۴. د ضمیرونو سمه بڼه په جملو کې وکاروئ؛

۵. د کیسو په اړه استنباطي پوښتنې ځواب کړئ؛

۶. د معرفي شوي کس عملونه او خبرې وارزوئ؛

۷. د متن په اړه خپل نظر بیان کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| فصل ۵ | اونۍ ۱ | درسي ساعت ۱ |
|---|---|---|

| | | |
|---|---|---|
| ا - نا - هيـ - تا | زېـ - ږېـ - د - لې | شا - مـ - له |
| و - ړک - تو - به | نا - هيـ - لې | جو - ړ - و - لې |

ژباړونکې | ليکواله | ناهيلې | د کور مېرمن

**ولولئ او درياد يې کړئ:** لاندې متن ولولئ. د متن د هر پراګراف تر لوستو وروسته لـه ځـان سره فکر وکړئ چې «دا راته څه شی يادوي؟» دې ته ورته معلومات مو پخوا چېرته اورېدلي، ليدلي، يا لوستي وو؟

## ۲۴ کاله وروسته تعليم

اناهيتا روهي ۲۴ کاله له زده‌کړو لرې پاتې شوه، خو نـاهيلې نـه شـوه. اناهيتـا روهـي تکړه شـاعره، ليکواله او ژباړونکې ده. هغه د ۱۳۵۷ کال د ثور په ۲ نېټه په کابل کې زېږېدلې ده. پلرنی ټـاټوبی يـې د خوست ولايت د اسماعيل خېلو ولسوالي ده. پلار يې پوځي افسر او مور يې د کور مېرمن وه.

اناهيتا لا پنځه کلنه وه چې مشر ورور يې ښـوونځي تـه تلـه او دې بـه هـره ورځ ژړل چـې مـا هـم پـه مکتب کې شامله کړئ. کورنۍ يې فکر وکړ چې د ښوونځي اداره خو يې هسې هم نه مني، ځکـه چـې لا وړوکې ده، نو راځه يو ځل يې مکتب ته بوځه. د مکتب مديرې غوښـتل د دې غابښـونه وګـوري چـې د اوه کلنۍ غابښ يې لوېدلی دی که نه، خو اناهيتا ګوتې جګې کړې او ورته ويې ويل چې زه لا پنځه کلنه يم. مديره پوهه شوه چې دا نجلۍ ځيرکه ده او مکتب ويلی شي، نو شامله يې کړه.

له وړکتوبه يې له کيسو سره جوړه وه. هره شپه به مور يا پلار ته ټينګه شوه چـې کيسـه ورتـه ووايـې. مور به يې د «در بي بې» او «سوی او موی» ولسي کيسې ورته ويلې او پلار به يې د پيغمبرانو کيسې ورتـه کولې. په مکتب کې بيا د کتابتون کارت ورکړل شو. دا به وخت په وخت کتابتون تـه ورتلـه او کتابونـه بـه يې د لوستلو لپاره کور ته وړل. په پنځم ټولګي کې وه چې د کيسو ليکل يې پيل کړل. هغه داسـې چـې د دري ژبې ښوونکې به يې کورنۍ دنده ورکوله چې کيسه وليکي. دا معلمه د اناهيتا ډېره خوښه وه. خـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه خوندور وختونه ژر ختم شول. په وطن کې جنګونه سخت شول او د دوی کورنۍ کله یو ځای کله بل ځای کډه په شا تله راتله. اناهیتا په سختۍ سره تر یوولسم ټولګي پورې درس ووایه خو بیا واده شوه او جرمني ته ولاړه.

په جرمني کې د زده کړې موقع ورته نه وه برابره، نو په کور پاتې شوه. کله چې مور شوه او بچي یې لږ لوی شول، زامنو به ورته کیسې غوښتې او اناهیتا به له خپل ذهنه کیسې جوړولې او هغوی ته به یې ویلې. کله چې ماشومان یې په ښوونځي کې شامل شول، دې ورته د کتابتون کارت واخیست او کتابونه به یې ورته راوړل. اناهیتا له زامنو سره د مکتب په درسونو کې مرسته کوله او همداسې ورو ورو یې جرمني ژبه هم زده کړه. دې چې په جرمني ژبه د ماشومانو لپاره ښه ښه معلوماتي او د کیسو کتابونه ولیدل، فکر یې وکړ چې کاش دا ښکلي کتابونه په پښتو کې هم وای. هماغه وو چې د وطن د ماشومانو لپاره یې ډېر کتابونه پښتو ته وژباړل. پخپله یې هم ماشومانو ته ښې کیسې ولیکلې او یو کتاب یې د «زري کرکي» ادبي جایزه وګټله.

اناهیتا روهي تر ۲۴ کاله ځنډ وروسته په ۳۹ کلنۍ کې بېرته تعلیم پیل کړ. هغه چې له ماشومانو سره ډېره مینه لري، د ماشومانو د ښوونې او روزنې په برخه کې یې مسلکي زده کړې وکړې. د اناهیتا روهي لسګونه کتابونه او ژباړې په پښتو ژبه چاپ شوي دي.


[تصویر: د اناهیتا روهي د کتابونو عکسونه]

**کورنۍ دنده:** د کورنۍ یوه مشر/ مشرې لکه بابا، انا، مور، یا پلار ته کېنئ او ورته ووایئ چې د خپل ژوند کیسه درته وکړي. تاسې د هغه/ هغې د ژوند مهمې پېښې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د معلوماتو چارټ:** لاندي چارټ په خپلو کتابچو کې رسم کړئ. بیا د اناهیتا روهي ژوند لیک ولولئ او چارټ ډک کړئ.




**ولولئ او په ذهن کې یې مجسم کړئ:** د اناهیتا روهي کیسه ولولئ. د کیسې د هرې برخې تر لوستلو وروسته، تم شئ او څه مو چې لوستي دي، په ذهن کې یې داسې مجسم کړئ لکه په رښتیا چې یې وینئ.

**شنه پاڼه او سره مڼانه**

دا د هغه وخت کیسه ده چې ونو پاڼې نه درلودې او مرغیو به خپلې ځالې د جګو جګو غرونو په سر کې د تیږو او کرکنډو په منځ کې جوړولې. هغه وخت به هم د شپې له خوا آسمان شین و. ستورو به له یو بل سره پټ پټانی کاوه. کله کله به سپوږمۍ هم د دوی ننداره کوله. ځینو به ویل چې د سپوږمۍ په منځ کې د رڼا ښاپېرۍ ناسته ده. کله چې ښاپېرۍ خوشحاله وي، سپوږمۍ ګرده ښکاري او ډېره رڼا خپروي، خو کله چې خپه وي، بیا نو خواره او ډنګره ښکاري، او رڼا یې هم تته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه شپه د رڼا ښاپېرۍ ډېره خوشحاله وه او تکې سپينې وړانگې يې شيندلې. يوه وړه سره ممانه د تيږو له منځه راووته او له ځان سره يې وويل: زه به نن ښاپېرۍ ته ورشم او د خپلې ستونزې په اړه به ورسره وغږېږم، گوندې هغه را سره مرسته وکړي.

ممانې ورو ورو تگ پيل کړ او ډېر ځنډ وروسته د غره سر ته ورسېده. ساه يې نېولې وه په ستړي او ستومانه غږ يې د رڼا ښاپېرۍ ته وويل: تر ټولو ښکلې او سپينې ښاپېرۍ سلام!

ښاپېرۍ د سلام په اورېدو ټکنۍ شوه. خپل سپين شال يې سم کړ او ويې ويل: وعليکم السلام، زه دې يوازې غږ اورم، تا نه وينم. څوک يې او چېرته يې؟

وړې ممانې ځان د ښاپېرۍ وړانگو ته سم کړ او ويې ويل: دلته يم، د غره د لوړې څوکې پر سر.

ښاپېرۍ خپلې وړانگې د غره پر څوکې ورزياتې کړې. په خندا شوه، ويې ويل: ته خو دومره وړه يې چې ما هېڅ ونه ليدې. ښه څنگه تر دې ځايه راغلې او له ما څه غواړې؟

ممانې وويل: ما اورېدلې دي چې ته له هر چا سره مرسته کوې. زه په ډېره خوارۍ راغلم چې ته راسره مرسته وکړې. زما ستونزه همدا ده چې زه ډېره وړه يم. ټول پر ما ملنډې وهي. زه د هېچا نه خوښېږم. په دې لويه نړۍ کې زما دښمنان خورا زيات دي. تر ټولو لوی دښمن مې مرغۍ دي. زه غواړم د دوی په څېر وزرې ولرم او د خطر پر وخت له دوی څخه ځان وژغورم. دا زما سور رنگ د هېچا نه خوښېږي او زه هېڅ د اوسېدو ځای نه لرم. زما شا ته دغه پوښ ډېر تنکی دی او د تيږو تر منځ زر ماتيږي. نو زه ځکه تا ته راغلم چې ته راسره مرسته وکړې.

د رڼا ښاپېرۍ، چې ډېره مهربانه او زړه سوانده وه، په ځير ځير يې ممانې ته وکتل او په خپلو وړانگينو لاسونو کې يې ممانه له تيږو راپورته کړه. د شپې له تيارې څخه يې څو ټکي تور رنگ د ممانې په شا وڅڅاوه او ورته يې وويل: اوس نو ته دوه رنگه لرې هغه هم تور او سور او دا دوه رنگونه له تا سره ډېر ښکلي ښکاري.

بيا يې له خپلې رڼا څخه يو يو څاڅکی د ښکې په څېر د ممانې په شا ونښلاوه. بيا په خندا شوه او ويې ويل:

اوس ته وزرونه هم لرې. هر کله چې وغواړې الوتلی شې. دا چې ته ډېره وړه او نازکه يې، زه به ستا د اوسېدو لپاره يو نرم او پوست ځای برابر کړم. خو چېرته؟ دې ته بايد ښه فکر وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاپېرۍ په فکرونوکې ډوبه وه. آخر په ژړا شوه او ممانې ته یې وویل: زه نه پوهېږم چې ستا د اوسېدو لپاره دومره نرم او پوست ځای له کومه راپیدا کړم؟

خو کله چې د ښاپېرۍ د اوښکو څاڅکي په وچه ځمکه وڅڅېدل، ټولې ونې را شنې شوې. تنکۍ تنکۍ پاڼې یې په وچو څانګو رازرغونې شوې. ځمکه ښکلې شوه، ګلان راوغوړېدل، د ځمکې پر مخ ډېر بوټي راشنه شول.

د رڼا ښاپېرۍ همداسې په ژړا وه. نا څاپه یې ممانه له وړانګینو لاسونو وښویېده. ممانې په هوا کې ژر خپل وزرونه ورپول او د یوې جګې ونې په لوړه څانګه کې پر تکې شنې پاڼې کېناستله.

ښاپېرۍ چې ممانه د وزرونو او تورو خالونو سره په شنه پاڼه ولیده، ویې خندل او ویې ویل: دا دی ستا د اوسېدو لپاره مې نرم او پوست ځای هم را پیدا کړ.



ممانه چې پر نرمې پاڼې ولوېده او خپل ځان یې له لوېدو وروسته روغ رمټ ولید، ډېره خوشحاله شوه او له ښاپېرۍ څخه یې مننه وکړه او تر ننه پورې ټولې ممانې د ونو په شنو پاڼو کې اوسېږي.

پاڼې شنې دي، ممانه سره ده او خالونه یې تور دي. او دا درې رنګه؟ تور، سور او زرغون! دا خو د نړۍ تر ټولو ښکلي رنګونه دي! زموږ د هېواد بیرغ هم دا درې رنګه لري. ستا ورته پام دی؟

**کورنۍ دنده:** د خپلې کورنۍ د یوه مشر/ مشرې د ژوند پـه اړه معلومـات پـه چـارټ کـې ترتیـب کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فصل ۵ اونۍ ۱ درسي ساعت ۳

**وینا وکړئ:** د خپلې کورنۍ د یوه غړي د ژوند په اړه د زماني ترتیب په پام کې نیولو سره وینا وکړئ.

**ضمیرونه وکاروئ:** لاندې جملې ولولئ. هره بیاني جمله په سوالي جمله اوښتې ده. په خپلو کتابچو کې د هرې جملې د نوم پر ځای مناسب ضمیرونه وکاروئ.

۱. **د رنا ښاپېرۍ** ماڼې ته وکتل.

**چا** ماڼې ته وکتل؟

۲. **ماڼه** ډېره خوشحاله شوه.

......... ډېره خوشحاله شوه؟

۳. **ستورو** به له یو بل سره پټ پټونې کول.

........... به له یو بل سره پټ پټانی کاوه؟

۴. **تېول** پر ما ملنډې وهي.

......... پر ما ملنډې وهي؟

۵. د سپوږمۍ په منځ کې **د رنا ښاپېرۍ** ناسته ده.

........ د سپوږمۍ په منځ کې ناسته ده؟

**کورنۍ دنده:** د ماڼې د کیسې په اړه خپل نظر ولیکئ چې د کیسې کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وویشئ او ویې لیکئ:** له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره لاندې کلمې پر برخو وویشئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

| ناهیلی | نا  هیلی |
|---|---|
| ناروغ | |
| ناکس | |
| ناپوه | |
| نالایق | |

**فکر وکړئ:** دلته د اناهیتا روهي په اړه استنباطي پوښتنې لولئ چې ځواب یې په متن کې نشته. د پوښتنو ځوابونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

۱. اناهیتا روهي به له کتابتون څخه څه ډول کتابونه د لوستلو لپاره راوړل؟

۲. د دري مضمون معلمه ولې پر اناهیتا روهي ډېره ګرانه وه؟

۳. د جنګ په کلونو کې به اناهیتا په څه شي پسې ډېره خپه وه؟

**ویې ارزوئ:** د لومړي درسي ساعت متن وارزوئ او په خپلو کتابچو کې د لاندې پوښتنو ځوابونه ولیکئ.

۱. په ژوند لیک کې راغلي معلومات څومره واضح او په زړه پورې وو؟

۲. په متن کې څه شی کم دی؟ ستاسو په نظر، نور کوم معلومات باید په کې راغلي وای؟

**خپل نظر ولیکئ:** د کیسې کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ د کیسې تلوسه څنګه ده؟ له دې کیسې څخه مو څه زده کړل؟په کتابچو کې مو د کیسې په اړه خپل نظر ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| سمـ - ـبا - لـ - ـوي | مـ - ـډا - لو - نه | ا - يا - لـ - ـتو - نو |
| معـ - ـلو - لا - نو | نـ - ـړۍ - وا - لو | خوشـ - ـحا - لـ - ـوونـ - ـکې |

روزونکی | کېوال | پارا اولمپيک | پناه غوښتونکی

**ولولئ او درياد يې کړئ:** لاندې متن ولولئ. د متن د هر پراګراف تر لوستو وروسته لـه ځـان سره فکـر وکړئ چې «دا راته څه شی يادوي؟» دې ته ورته معلومات مو پخوا چېرته اورېدلي، ليدلي، يا لوستي وو؟

## بې لاسو اتل

«هر څه په شوق کېږي. هر شی چې د زړه له تله وغواړې، تر لاسه به يې کړې.» دا د عباس کريمي خبره ده. دی په ۱۳۷٦ کال کې په کابل کې وزېږېد. د زېږېدو په ورځ يې مور او پلار د دې پر ځای چې خوشحاله وي، سخت غمجن وو او ژړل يې، ځکه چې د ده دواړه لاسونه نـه وو. هغـوی حيـران وو چـې دا بې لاسو ماشوم چې لوی شي، خپل ژوند به څنګه سمبالوي. خو، هېچا ګومان نه کاوه چې يـو وخـت بـه همدغه عباس په لامبو وهلو کې ۳۱ مډالونه ګټي. [VOA – Ashna TV Dari] .

عباس کريمي ته په لومړيو کې ژوند ډېر سخت و، خو ورو ورو يـې دا زده کـړل چـې څنګـه لـه خپلـو پښو څخه د لاسونو پر ځای کار واخلي. د پښو په ګوتو يې د ډوډۍ خوړل او کالي اغوستل زده کـړل. بيـا ښوونځي ته ولاړ او ټول خلک يې حيران کړل، ځکه چې درسونه به يې ډېر ښه زده کـول. ده بـه پـه پښـه ډېر واضح ليک کاوه. [د دويچ وېلي وېب سايټ]

د عباس ورور، محمد کريمي، د لامبو په يوه خصوصي حوض کې شريـک و. عبـاس چـې حـوض تـه ولاړ، د لامبو وهلو تمرين يې پيل کړ. په لومړيو ورځو کې به يې د ژغورنې واسـکټ اغوسـت او پـه يـو متـر ژور حوض کې به يې لامبو وهله. څو ورځې وروسته يې بې واسکټه لامبو ووهله. دی وايي: «د ژوند تر ټولو خوشحالوونکي شېبه مي هماغه وه. کله مې چې په لومړي ځل له واسکټه پرته لامبو ووهلـه، داسـي مـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

احساس کړ چې آزاد یم.» ده چې لامبو وهله، د افغانستان د لامبو وهلو د ملي ټیم روزونکی قاسم حمیدي هم هلته و. هغه د دې صحنې په لیدو سره وویل چې زه به له ده څخه اتل جوړ کړم. هغه وایي: «عباس په ۱۵ ورځو کې تر روغو کسانو ښه لامبو وهل زده کړل.» [د دویچ وېلې وېب سایټ، له ذبیح الله شهزاد سره د عباس کریمي مرکه]

عباس کریمي د افغانستان د معلولانو په سیالیو کې د سرو زرو مډال وګاټه. بیا ایران او ورپسې ترکیې ته کډوال شو. په ترکیه کې یې په ۳ کلونو کې ۱۵ مډالونه وګټل. له هغه ځایه د پناه غوښتونکي په توګه د امریکا متحد ایالتونو ته ولاړ او هلته یې څلور نور مډالونه خپل کړل. په امریکا کې د ده روزونکی ښاغلی ډینس بېکر وایي: «د عباس کریمي لپاره نا ممکن نشته. هغه ورځ تر بلې تکړه کېږي او خپل هر هدف تر لاسه کوي.» [له طلوع نیوز او آشنا ټلویزیون سره د کریمي مرکې]

عباس په ۲۰۱٦ کال کې د معلولانو په نړۍوالو سیالیو کې د سپینو زرو مډال وګاټه. په ۲۰۱۹ کال کې یې په پارا اولمپیک سیالیو کې د ګډون جواز تر لاسه کړ چې دا ډېره لویه بریا ده.

عباس کریمي اوس خپلې ټولې چارې پخپله ترسره کوي او د هېچا مرستې ته اړ نه دی. کالي اغوستل، خوراک څښاک، لیکل او هر کار په پښو سره کوي او ان په پښو سره موټر چلوي. دی وایي: «مهمه نه ده چې زه اوس چېرې یم. زه چې هر چېرې یم، د خپل وطن د آبادۍ په اړه فکر کوم.»

مأخذ

https://p.dw.com/p/19whq :نویسنده حسین سیرت، کابل

Profile of Abbas Karimi, swim champion - VOA Ashna

په یوټیوب کې د طلوع نیوز پاڼه


له ورزشي خبریال ذبیح الله شهزاد سره د عباس کریمي مرکه

**کورنۍ دنده:** داسې وګڼې چې د عباس کریمي پر ځای تاسې یاست. په مسافرۍ کې ژوند کوئ. هره ورځ باید تمرین وکړئ چې په پارا اولمپیکي لوبو کې ښه وځلېږئ. له همداسې تصور سره خپلې کورنۍ ته یو لیک ولیکئ او خپلې ستونزې، خپلې هلې ځلې او خپل پلان ورسره شریک کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فصل ۵ اونۍ ۲ درسي ساعت ۲

**د معلوماتو چارټ:** لاندې چارټ په خپلو کتابچو کې رسم کړئ. بیا د عباس کریمي ژوند لیک ولولئ او چارټ ډک کړئ.




**وارزوئ:** د عباس کریمي خبرې او کړنې وارزوئ او د دې پوښتنو ځواب ووایئ:

۱. عباس کریمي وایي: «هر څه په شوق کېږي. هر شی چې د زړه له تله وغواړې، تر لاسه به یې کړې.» تاسو ته د دې خبرې ځنګه ښکاري؟

۲. د عباس کریمي دواړه لاسونه نه وو، خو بیا یې هم د لامبو د زده کولو نیت وکړ، دا کار یې منطقي و؟ دلیلونه مو ووایئ.

**کورنۍ دنده:** خپلې کورنۍ ته د عباس کریمي کیسه وکړئ او پوښتنه وکړئ چې دوی کوم بل څوک پېژني چې معلول و، خو د ژوند په چارو کې بریالی شو. د هغه/ هغې په اړه معلومات ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| فصل ۵ | اونۍ ۲ | درسي ساعت ۳ |
|---|---|---|

**وینا وکړئ:** د خپلې کورنۍ د یوه غړي د ژوند په اړه د زماني ترتیب په پام کې نیولو سره وینا وکړئ.

**ضمیرونه وکاروئ:** لاندې جملې ولولئ. هره بیاني جمله په سوالي جمله اوښتې ده. په خپلو کتابچو کې د هرې جملې د نوم پر ځای مناسب ضمیرونه وکاروئ.

۱. **عباس کریمي** اوس خپلې ټولې چارې پخپله ترسره کوي.

**هغه** اوس خپلې ټولې چارې پخپله ترسره کوي.

۲. **استاد يې** وويل: دی به اتل شي.

......... وويل: دی به اتل شي.

۳. **د عباس مور او پلار** غمجن وو.

............ غمجن وو.

۴. **د عباس مور** ژړل.

.......... ژړل.

۵. د **عباس او محمد** مور ډېره خوشحاله ده.

د ......... مور ډېره خوشحاله ده.

**کورنۍ دنده:** نن ستاسو ځینو ټولګیوالو د خپلې کورنۍ د غړو په اړه وینا وکړې. د چا د وینا کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه. په دې اړه څو جملې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ووېشئ او ویې لیکئ:** له خپلو څنگلوریو ټولگیوالو سره لاندې کلمې پر برخو وووېشئ او په خپلو کتابچو کې يې ولیکئ.

| کړوال | کړه وال |
|---|---|
| نړۍوال | |
| بېنوال | |
| ټولگیوال | |
| انډیوال | |

**فکر وکړئ:** دلته د عباس کریمي په اړه استنباطي پوښتنې لولئ چې ځواب يې په متن کې نشته. د پوښتنو ځوابونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

۱. څه شی د عباس کریمي د بري سبب شو؟

۲. عباس کریمي څنگه پوه شو چې په لامبو وهلو کې تکړه کېدای شي؟

۳. د لامبو وهلو روزونکي څنگه په ډاډه زړه وويل چې له عباس کریمي څخه به اتل جوړوي؟

**ريي ارزوئ:** د لومړي درسي ساعت متن وارزوئ او په خپلو کتابچو کې د لاندې پوښتنو ځوابونه ولیکئ.

۱. په ژوندلیک کې راغلي معلومات څومره واضح او په زړه پورې وو؟

۲. په متن کې څه شی کم دی؟ ستاسو په نظر، نور کوم معلومات باید په کې راغلي وای؟

۳. د عباس کریمي د ژوندلیک عنوان څنگه دی؟ که تاسې همدا متن ولیکئ، کوم عنوان به ورته ټاکئ؟

**خپل نظر ولیکئ:** د عباس کریمي د ژوندلیک کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ له دې کیسې څخه مو څه زده کړل؟په کتابچو کې مو د کیسې په اړه خپل نظر ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| کلیـ - ـنیـ - ـکو - نه | پرو - گرا - مو - نه | و - ړکـ - ـتو - نو - نه |
| انـ - ـتـ - خا - با - تو | او - لا - دو - نه | مضـ - ـمو - نو - نو |

لوړې زده کړې | پوهنځی | پروگرام | ولسي جرگه

**ولولئ او دریاد یې کړئ:** لاندي متن ولولئ. د متن د هر پراگراف تر لوستو وروسته لـه ځـان سره فکـر وکړئ چې «دا راته څه شی یادوي؟» دې ته ورته معلومات مو پخوا چېرته اورېدلي، لیدلي، یا لوستي وو؟

## د افغانستان لومړنۍ وزیره

کبرا نورزۍ لومړنۍ ښځه ده چې د افغانستان په حکومت کې وزیره شـوه. هغـه د روغتیـا د وزارت ډېـره بریـالۍ وزیره وه. مېرمن نورزۍ مختلفو ولایتونو ته ولاړه او په لرې پرتو سیمو کې یې کلینیکونه جوړ کـړل چـې د خلکـو علاج په آسانۍ سره وشي. نو خلک د مېرمن کبرا نورزۍ نوم په ښو یادوي او قدر یې کوي.

کبرا په ۱۳۱۱ کال کې په کابل کې وزیږېده. څلور خوینـدې او درې ورونـه یـې وو. د هغـې پـلار پوهېـده چـې تعلیم د نجونو او هلکانو لپاره گټور او ضروري دی. همدا وه چې ټول اولادونه یې په مکتب کې شامل کړل. کبرا ډېره هڅه کوله او درسونه یې ښه زده کول. کله چې له ملالـۍ لیسـې څخـه فارغـه شـوه، د نسـوان پـوهنځي د ساینس څانگې ته بریالۍ شوه. هغه له پوهنتون څخه په ممتازه درجـه فارغـه شـوه. ممتـازه درجـه هغـه چـا تـه ورکول کېده چې په درسونو کې به ډېر تکړه وو.

مېرمن نورزۍ د ملالۍ لیسې مدیره شوه. دې چې په ساینس کې لوړې زده کړې کړې وې، پوهېده چې څنگه د ښوونځیو شاگردانو ته د ساینسي مضمونونو زده کړه آسانه کړي. هغې پـه ملالـۍ لیسـه کـې د فیزیـک او کیمیـا لابراتوارونه جوړ کړل چې شاگردان عملي تجربې وکړي. د ښوونځي کتابتون ته یې ډېر نوي کتابونـه راوړل چـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زده‌کوونکي د مکتب پر کتابونو سربېره نور کتابونه هم ولولي او خپله پوهه او معلومات زيات کړي. کله چې مېرمن کبرا نورزۍ د ملالۍ ليسې مديره وه، دا مکتب د نجونو بهترينه ليسه شوه.

مېرمن نورزۍ وروسته د مېرمن ټولنې رييسه شوه. دا ټولنه د دې لپاره جوړه شوې وه چې افغان مېرمنو ته د تعليم او کار لاره هواره کړي او ستونزې يې حل کړي. بيا مېرمن نورزۍ د لا لوړو زده‌کړو لپاره د فرانسې سوربون پوهنتون ته ولاړه. بېرته چې راغله په کابل پوهنتون کې د «تدبيرِ منزل» د پوهنځي رييسه شوه.

مېرمن نورزۍ د محمد ظاهر شاه په پاچاهۍ کې د افغانستان د اساسي قانون په جوړولو کې برخه واخيسته. په ۱۳۴۴ کال کې د روغتيا وزيره شوه. هغه څلور کاله وزيره وه او په وزارت کې يې ډېر خدمتونه وکړل. وروسته يو ځل بيا د مېرمن ټولنې رييسه شوه. کله چې د مېرمن ټولنې رييسه وه، مېرمنو ته يې د ليک لوست پروګرامونه ډېر کړل، په کابل او نورو ولايتونو کې يې ورکتونونه او د نجونو لپاره مسلکي مکتبونه تأسيس کړل.

د کابل خلکو ته د مېرمن کبرا نورزۍ خدمتونه معلوم وو، نو هغه يې په ولسي جرګه کې خپله وکيله غوره کړه. مېرمن نورزۍ په ولسي جرګه کې هم خلکو ته خپل خدمتونه جاري وساتل. بيا چې په وطن کې جنګونه پيل شول او اکثره خلک نورو هېوادونو ته ولاړل، مېرمن کبرا همدلته په کابل کې پاتې شوه او په ۱۳۶۵ کال کې وفات شوه.

ماخذ: محترم عاليه پرونتا (خواهر مرحوم کبرا نورزی) و همسر ايشان محترم وحيد پرونتا، اسناد کتابخانه عامه کابل و «زن در افغانستان و جهان» مولف عبدالحميد مبارز، جنوری ۲۰۰۰.


https://8am.af/kobra-norozi-first-premier-afghanistan/

**کورنۍ دنده:** د خپلې کورنۍ د يوې مشرې يا يوه مشر کيسه واورئ چې مکتب يې په څو کلنۍ کې پيل کړ، څومره تعليم يې وکړ، کوم مضمون يې خوښ و، او خپل درسونه به يې څنګه زده کول. بيا همدغه معلومات وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| فصل ۵ | اونۍ ۳ | درسي ساعت ۲ |
|---|---|---|

**د معلوماتو چارټ:** لاندې چارټ په خپلو کتابچو کې رسم کړئ. بیا د اغلې کبرا نورزۍ ژوندلیک ولولئ او چارټ ډک کړئ.




**وارزوئ:** د مېرمن نورزۍ خبرې او کړنې وارزوئ او د دې پوښتنو ځواب ووایئ:

۱. مېرمن کبرا نورزۍ په ملالۍ لیسه کې لابراتوارونه جوړ کړل او کتابتون ته یې نوي کتابونه راوړل، دا کار یې تاسو ته څنګه ښکاري؟

۲. د جنګ په کلونو کې ډېر خلک له وطن څخه ولاړل، خو مېرمن نورزۍ په وطن کې پاتې شوه، دا کار یې څنګه ارزوئ؟

**کورنۍ دنده:** خپلې کورنۍ ته د مېرمن کبرا نورزۍ کیسه وکړئ او پوښتنه وکړئ چې دوی کومه بله مېرمن پېژني چې خلکو ته یې ښه خدمت کړی وي. د هغې په اړه معلومات ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وینا وکړئ:** د خپلې کورنۍ د یوه غړي د ژوند پـه اړه د زمـاني ترتیـب پـه پـام کـې نیولـو سره وینـا وکړئ.

**ضمیرونه وکاروئ:** لاندې جملې ولولئ. هره بیاني جمله په سوالي جمله اوښتې ده. پـه خپلـو کتـابچو کې د هرې جملې د نوم پر ځای مناسب ضمیرونه وکاروئ.

۱. **مېرمن کبرا نورزۍ** کلینیکونه جوړ کړل.

**هغې** کلینیکونه جوړ کړل.

۲. **کبرا** په کابل کې وزېږېده.

......... په کابل کې وزېږېده.

۳. **مېرمنو** ته یې د لیک لوست پروګرامونه زیات کړل.

........... ته یې د لیک لوست پروګرامونه زیات کړل.

۴. د **کبرا** پلار پوهېده چې تعلیم هلکانو او نجونو دواړو ته ګټور دی.

د ......... پلار پوهېده چې تعلیم هلکانو او نجونو دواړو ته ګټور دی.

۵. د کابل خلکو ته د **مېرمن کبرا** خدمتونه معلوم وو.

د کابل خلکو ته د ......... خدمتونه معلوم وو.

**کورنۍ دنده:** نن ستاسو ځینو ټولګیوالو د خپلې کـورنۍ د غـړو پـه اړه وینـا وکـړې. د چـا د وینـا کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه. په دې اړه څو جملې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وویېشئ او ویې لیکئ:** له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره لاندې کلمې پر برخو وویشئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

| نورزی | نور زی |
|---|---|
| بارکزی | |
| احمدزی | |
| پوپلزی | |
| اڅکزی | |

**فکر وکړئ:** دلته د اغلې کبرا نورزۍ په اړه استنباطي پوښتنې لولئ چې ځواب یې په متن کې نشته. د پوښتنو ځوابونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

۱. کله چې مېرمن کبرا نورزۍ د ملالۍ لیسې مدیره وه، دا لیسه ولې د نجونو بهترینه لیسه شوه؟

۲. مېرمن نورزۍ چې د روغتیا وزیره وه، ولې به یې ولایتونو ته سفرونه کول؟

۳. مېرمن نورزۍ ولې دوه وارې د مېرمنو ټولنې رییسه شوه؟

**ریې ارزوئ:** د لـومړي درسي سـاعت مـتن وارزوئ او پـه خپلـو کتـابچو کـې د لانـدې پوښـتنو ځوابونه ولیکئ.

۱. په ژوندلیک کې راغلي معلومات څومره واضح او په زړه پورې وو؟

۲. په متن کې څه شی کم دی؟ ستاسو په نظر، نور کوم معلومات باید په کې راغلي وای؟

۳. د عباس کریمي د ژوندلیک عنوان څنګه دی؟ که تاسې همدا متن ولیکئ، کوم عنوان به ورته ټاکئ؟

**خپل نظر ولیکئ:** د عباس کریمي د ژوندلیک کومه برخه مو خوښه شوه او ولـې مـو خوښـه شـوه؟ لـه دې کیسې څخه مو څه زده کړل؟په کتابچو کې مو د کیسې په اړه خپل نظر ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم ټولګی – شپږم فصل

## موضوع: مختلف موضوعات

## ژانر: شعر



**شعر زموږ فکر او احساس په تصویري، ښایسته او موزون ډول بیانوي.**



١ . د شعر ژبه له عادي ژبې سره څه توپير لري؟
٢ . د شعر او نثر توپيرونه کوم دي؟
٣ . د خپلو احساساتو بيان ولې مهم دی؟
۴ . د شعر تصويرونه څنګه راسپړلی شو؟
۵. د شعر په معنا څنګه پوهېدلی شو؟

## د درس هدفونه

**ګرانو زده‌کوونکو! تاسي به په دې درس کې:**

**١. شعرونه او ترانې په مناسب لحن او غږ سره ولولئ؛**
**٢. د شعر جوړښت او له نثر سره د شعر توپير توضيح کړئ؛**
**٣. د شعر وزن به معلوم کړئ؛**
**۴. د شعر هم‌قافيه کلمې به لست کړئ؛**
**۵. د شعر مفهوم به په خپله ژبه ولیکئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| فصل ٦ | اونۍ ١ | درسي ساعت ١ |
|---|---|---|

| | | |
|---|---|---|
| کـ - ـتا - ـبو - نه | غا - ښو - نه | میـنـ - ـځـ - ـمه |

راکښېنم | ناشتا | ترپا | مدار

**ولولئ او ځیر شئ:** لاندې شعر په لوړ غږ ولولئ او فکر وکړئ چې له نثر سره څه توپیر لري.

## سهار

چې راکښېنم سهار — خپل کالي کړم تیار
کړم په بکس کې په ځای — کتابونه، خودکار
توره دره، پنسل — پنسل پاك او پرکار
بیا مې مینځمه لاس — هم غاښونه کرار
که مې غټ وي نوکان — هغه اخلم هوار
بیا مې خورمه ناشتا — چې هر څه وي تیار
د مور لاس کړمه ښکل — بیا رهي شم په لار
نه په منډه، ترپا — سم په شمار، په مدار

وړان نیازی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بیتونه وپېژنئ:** د پورتني شعر هر بیت جلا جلا ولیکئ، لکه:

| | |
|---|---|
| **چــې راکښېـنـم سـهـار** | **خپل کالي کړم تیار** |

**شعر وتلئ:** د شعر د هرې مسرې څپې وشمارئ او وګورئ چې ټولې مسرې یې سره یو شان دي، که څپې یې کمې زیاتې دي، لکه:

| | |
|---|---|
| **چــې ـ را ـ کښـې ـ ـنـم ســ ـ ـهـار** (٦ څپې) | **خپل ـ کا ـ لي ـ کړم ـ تـ ـ ـیار** (٦څپې) |

**همقافیه کلمې پیدا کړئ:** په شعر کې هغه کلمې پیدا او په کتابچو کې یې ولیکئ چې د پای غږونه یې سره یو شان دي، لکه: **سهار**، **تیار** ...

**کورنۍ دنده:** د شعر مفهوم او مطلب په خپله ژبه ولیکئ، داسې چې د هر بیت پر ځای یې یوه جمله راغلې وي، لکه:

| | |
|---|---|
| **چــې راکښېـنـم سـهـار** | **خپل کالي کړم تیار** |
| **سهار چې راپاځم، خپل کالي تیاروم.** | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| فصل ٦ | اونۍ ١ | درسي ساعت ٢ |
|---|---|---|

| سـ - ـبـ - ـقو - نه | لمـ - ـد - وي | پنـ - ـډوسـ - ـکی |
|---|---|---|

تنۍ | پنډوسکۍ | چابکې | جینۍ

**ولولئ او ځير شئ:** لاندې شعر په لوړ غږ ولولئ او فکر وکړئ چې له نثر سره څه توپير لري.

## تورپيکۍ

زمـا لاس کې مرۍ — لیکې، لیکې مرغۍ
سبقونه مې یاد — ب بادام، ت تنۍ
شر، شرپې د باران — لمدوي توتکۍ
تن تنها د برېښنا — ما ته راکړه چترۍ
په لمن کې راوړم — تکه سپینه ږلۍ
سپین پنډوسکۍ د چا — د چابکې جینۍ
هغه څوک ده رښتیا — ها زموږ ګاونډۍ
د نوم ټکي يې اووه — ت و ر، پ، ي کۍ
تورپیکۍ، تورپیکۍ

ومان نیازی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بیتونه وپېژنئ:** د لوستل شوي شعر بیتونه په نښه کړئ او هر بیت یې جلا جلا ولیکئ، لکه:

**زمــا لاس کې مــری                    لیکې، لیکې مرغۍ**

**شعر وتلئ:** د شعر د هرې مسرې څپې وشمارئ او وګورئ چې ټولې مسرې یې سره یو شان دي، که څپې یې کمې زیاتې دي، لکه:

**ز ـ مــا ـ لاس ـ کـې ـ مـ ـ ـرى** (٦ څپې)          **لیـ ـ ـکې، لیـ ـ ـکې ـ مر ـ غۍ** (٦څپې)

**همقافیه کلمې پیدا کړئ:** په شعر کې هغه کلمې پیدا او په کتابچو کې یې ولیکئ چې د پای غږونه یې سره یو شان دي، لکه: **مری، مرغۍ ...**

**کورنۍ دنده:** د شعر مفهوم یا مطلب په خپله ژبه ولیکئ، داسې چې د هر بیت پر ځای یې یوه جمله راغلې وي. که په بیت کې فعلونه غورځېدلي وي، تاسې یې په جمله کې ولیکئ، لکه:

**زمــا لاس کې مــری                    لیکې، لیکې مرغۍ**

**زما په لاس کې مری دي او لیکې لیکې مرغۍ دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| فصل ٦ | اونۍ ۱ | درسي ساعت ۳ |
|---|---|---|

| | | |
|---|---|---|
| کند - ـهـا - رۍ | ښا - یسـ - ـته | ا - لو - چو |

پښې | سدرۍ | چرمه | لښتۍ

**ولولئ او ځیر شئ:** لاندې شعر په لوړ غږ ولولئ او فکر وکړئ چې لـه نـثر سره څـه تـوپیر لري.

## لښتۍ

زما کمیس خامکي — ستا کمیس د چرمو
زما څپلۍ تکې سرې — ستا پښې دې په پڼو
زما سدرۍ زر زرې — ستا ټیکرۍ د خالو
زما خولۍ کندهارۍ — ستا بنګړي په لاسو
ښایسته مو جامه — سیل ته ځو په میلو
زه به راوړم ګلان — ته لښتۍ د الوچو
ته لښتۍ د الوچو

ومان نیازی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بیتونه وپېژنئ:** د لوستلو شوي شعر بیتونه په نښه کړئ او هر بیت يې جلا جلا ولیکئ، لکه:

| | |
|---|---|
| **زمـا کمیــس خـامکي** | **ستا کمیــس د چرمـو** |

**شعر وتلئ:** د شعر د هرې مسرې څپې وشمارئ او وګورئ چې ټولې مسرې يې سره یو شان دي، که څپې يې کمې زیاتې دي، لکه:

| | |
|---|---|
| **زمـا ـ کـ ـ ـمیس ـ خـا ـ مـ ـ ـکي** (٦ څپې) | **ستا ـ کـ ـ ـمیس ـ د ـ چر ـ مـو** (٦څپې) |

**هم‌قافیه کلمې پیدا کړئ:** په شعر کې هغه کلمې پیدا او په کتابچو کې يې ولیکئ چې د پای غږونه يې سره یو شان دي، لکه: **چرمو**، **لاسو** ...

**کورنۍ دنده:** د شعر مفهوم په نثر ولیکئ، داسې چې د هر بیت پر ځای يې یوه جمله راغلې وي. که په بیت کې فعلونه غورځېدلي وي، تاسې يې په جمله کې ولیکئ، لکه:

| | |
|---|---|
| **زمـا کمیــس خـامکي** | **ستا کمیــس د چرمـو** |
| **زما کمیس خامکي دی او ستا کمیس د چرمو دی.** | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| فصل ٦ | اونۍ ١ | درسي ساعت ۴ |
|---|---|---|

| | | |
|---|---|---|
| کو - کو - پـ - ـښه | چونـ - ـګ - ـښه | جـ - ـجو - غه |

کوکوپښ | چندرۍ | ججوغه | شخه

**ولولئ او ځیر شئ:** لاندې شعر په لوړ غږ ولولئ او له فکر وکړئ چې له نثر سره څه توپیر لري.

## کوکوپښ

موږ ته راکړه دوې ښکې — کوکوپښه، پښه، پښه
سبا راشه په اتڼ — در واده به کړو چونګښه

***

موږ په کار نه دي مرۍ — رنګ دي ورك شي د روپۍ
ستا مو برګه چڼ خوښه — ته وهه خپلې چندرۍ

***

د اوبو غاړې ته راشه — کوکوپښه، پښه، پښه
شین خالی چونګښه یوسه — ستا ججوغه شخه پخه

ومان نیازی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د شعر بندونه وپېژنئ:** د لوستل شوي شعر بندونه په نښه کړئ او هر بند يې جلا جلا ولیکئ،

لکه:

| | |
|---|---|
| **موږ ته راکړه دوي بڼکي** | **کوکوپښه، پښه، پښه** |
| **سبا راشه په اتڼ** | **در واده به کړو چونګښه** |

**شعر وتلئ:** د شعر د هرې مسرې څپې وشمارئ او وګورئ چې ټولې مسرې يې سره يو شان دي، که څپې يې کمې زياتې دي، لکه:

| |
|---|
| **موږ - ته - را - کړه - دوي - بـ - ـڼ - ـکي** (۸ |

**همقافيه کلمې پيدا کړئ:** د شعر په هر بند کې هغه کلمې پيدا او په کتابچو کې يې وليکئ چې د پای غږونه يې سره يو شان دي، لکه: **پښه، چونګښه** ...

**کورنۍ دنده:** د شعر د هر بند مفهوم جلا جلا په نثر وليکئ، که په بيت کې فعل په خپل ځای کې نه وي راغلی، تاسې يې په خپل ځای يعنې د جملې په آخر کې وليکئ، لکه:

| | |
|---|---|
| **موږ ته راکړه دوي بڼکي** | **کوکوپښه، پښه، پښه** |
| **سبا راشه په اتڼ** | **در واده به کړو چونګښه** |

کوکوپښه! موږ ته دوي بڼکي راکړه. سبا په اتڼ راشه. موږ به چونګښه در واده کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوهمه اونۍ

## د درس هدفونه

گرانو زده‌کوونکو! تاسې به په دې درس کې:

۱. په مناسب لحن او غږ سره شعرونه  او ترانې ولولئ؛

۲. شعرونه د جوړښت په لحاظ سره بېل کړئ؛

۳. ځینې شیان له نورو شیانو سره تشبیه کړئ؛

۴. هم‌قافیې او هم‌وزنې کلمې په نښه کړئ؛

۵. د نومونو لپاره مناسب صفتونه انتخاب کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| فصل ٦ | اونۍ ٢ | درسي ساعت ١ |
|---|---|---|

| | | |
|---|---|---|
| مل - ګـ - ـرې | ما - شو - ما - نې | تېـ - ـرېـ - ـږي |

غومبر | ستايي | کوينه

**ولولئ او ځير شئ:** لاندې شعر په لوړ غږ ولولئ او فکر وکړئ چې دا شعر په جوړښت کې له هغو شعرونو سره، چې په تېره اونۍ کې مو ولوستل، څه توپير لري.

## دوې کوترې

هغه دوې کوترې ګوره — يوه سپينه، بله توره
سره دواړه دي ملګرې — په غومبر کوې خبرې
په يو بل باندې دي ګرانې — لکه خويندې ماشومانې
سره ناستې چې په بام وي — خولې يې خلاصې په سلام وي
ښې کيسې سره کوينه — ښې په مينه، مينه، مينه
د خوښۍ ترانې وايي — ښکلی ژوند وربادې ستايي
د دوی ښه تېرېږي ژوند — دوی له ژونده اخلي خوند
ملګرتيا او مينه ښه وي — ژوند پاک لکه ښيښه وي


پير محمد کاروان

(c) ketabton.com: The Digital Library

**تشبیه کړئ:** په لاندې جملو کې د «خویندې ماشومانې» او «ښیښه» پر ځای نورې داسې کلمې ولیکئ چې له «کوترو» او «پاک زړونو» سره ولګېږي.

| |
|---|
| **کوترې لکه خویندې ماشومانې دي.**<br>**زړونه پاک لکه ښیښه وي.** |

**صفتونه وکاروئ:** د لاندې چوکاټ د هر شي لپاره درې - درې صفتونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ:




**کورنۍ دنده:** د لاندې مثال غوندې، د شعر د هر بیت مطلب په خپله ژبه په جملو کې ولیکئ:

| |
|---|
| **هغه دوې کوترې ګوره یوه سپینه، بله توره**<br>**هغه دوې کوترې وګوره چې یوه یې سپینه او بله یې توره ده.** |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| فصل ٦ | اونۍ ٢ | درسي ساعت ٢ |
|---|---|---|

| | | |
|---|---|---|
| رنـ - ـګيـ - ـنو | ښکا - رېـ - ـږي | ښکا - ر - مه |

ځانګړې | غونچو | ورېدو | مزلي

**ولولئ او ځير شئ:** لاندې شعر په لوړ غږ ولولئ او فکر وکړئ چې د جوړښت پـه لحـاظ د لومړي درس له شعر سره څه توپير لري.

## د پسرلي غږ

**زه په پستو پستو ورمو ښکلی یم — یم پسرلی، په ونو شنو ښکلی یم**

**لکه تور، سور، زرغون بيرغ د وطن — د هر يو ګل په رنګينو ښکلی یم**

**هر يو موسم لري ځانګړې ښکلا — خو زه په خو رنګه رنګو ښکلی یم**

**اوړی او منی په ميوو دي خواږه — زه په غوټيو، په غونچو ښکلی یم**

**ژمی په سپينو واورو ښه ښکارېږي — زه د باران په ورېدو ښکلی یم**

**په ما کې شپه او ورځ مزلي کوه — د ښې هوا په لګېدو ښکلی یم**

**پاک او سوتره ښکارمه ګوره راته — لکه شاګرد په ښو جامو ښکلی یم**

پير محمد کاروان

(c) ketabton.com: The Digital Library

**صفتونه ولیکئ:** په خپلو کتابچو کې د لاندې کلمو لپاره دوه دوه مناسب صفتونه ولیکئ:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| نرمه | خوږه | خبره | ........... | .......... | سیند |
| ........... | .......... | انار | ........... | .......... | غرونه |
| ........... | .......... | جامې | ........... | .......... | پاڼې |
| ........... | .......... | ستورې | ........... | .......... | کتاب |
| ........... | .......... | آسمان | ........... | .......... | انسان |

**مناسب صفت پیدا کړئ:** په لاندې چوکاټ کې نومونه او صفتونه ګډوډ راغلي دي. تاسې دا کلمې په همدې رقم په خپلو کتابچو کې ولیکئ. بیا د هر نوم مناسب صفت پیدا او یې ورسره ونښلوئ.

| | |
|---|---|
| پستې | ونې |
| شنې | ګلان |
| رنګین | وږمې |

| | |
|---|---|
| سپینې | ښکلا |
| ځانګړې | کتاب |
| ښه | واورې |

**کورنۍ دنده:** پنځه شیان انتخاب کړئ. بیا دغه پنځه شیان په یو صفت کې له بل شي سره تشبیه کړئ. لکه:

| | | |
|---|---|---|
| **شی:** کاغذ | **صفت:** سپین | **کاغذ د واورې غوندې سپین دی.** |
| **شی:** دېوال | **صفت:** شین | **دا دېوال د پاڼې په شان شین دی.** |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| او – سېـ – ـږ – مه | کېـ – ـږ – مه | پېـ – ـژ – نۍ |

لشي | دارو | درمان

**ولولئ او ځیر شئ:** لاندې شعر په لوړ غږ ولولئ او فکر وکړئ چې په جوړښت کې د دې اونۍ د کوم درس له شعر سره ورته دی.

## کب

ما پېژنئ څه يمه؟ — نرم لکه زړه يمه
ژوند مې په اوبو کې دی — سيند کې، په ويالو کې دی
وچه کې مړ کېږمه — نه په کې اوسېږمه
غوښه مې پسته مسته — ډېره ده بدن ته ښه
غوښې که خوړې لرم — پام کوه لشې لرم
خلکو جوړ زما له ځان — تېل، غوړي، دارو، درمان

کب، ماهي نامه زما
واوره ترانه زما

پیر محمد کاروان

(c) ketabton.com: The Digital Library

**قافیه او ردیف پیدا کړئ:** د لاندې مثال په شان، په شعر کې هم‌قافیه کلمې او ردیفونه پیدا او په کتابچو کې یې ولیکئ:

**ما پېژنئ ښه یمه        نرم لکه زړه یمه**

**هم‌قافیه کلمې: ښه، زړه**

**ردیف: یمه**

**هم‌قافیه کلمې ولیکئ:** په لاندې چوکاټ کې څو کلمې راغلې دي. تاسې د هرې یوې لپاره پنځه – پنځه هم‌قافیه کلمې پیدا او په کتابچو کې یې ولیکئ:

| | |
|---|---|
| **ځان** | **خان، جهان، ودان، ګران، امان** |
| **ترانه** | ............، ............، ............، ............، ............ |
| **ښار** | ............، ............، ............، ............، ............ |
| **ځاله** | ............، ............، ............، ............، ............ |
| **مکۍ** | ............، ............، ............، ............، ............ |

**کورنۍ دنده:** پنځه شیان انتخاب او له پنځو نورو شیانو سره یې تشبیه کړئ. هره تشبیه یو ځل د جملې او بل ځل د عبارت په بڼه ولیکئ، لکه:

**دا شربت داسې خوږ دی لکه ګبین.**

**خوږ لکه ګبین شربت**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| فصل ٦ | اونۍ ١ | درسي ساعت ٣ |

| | | |
|---|---|---|
| ګ – ـلا – بو – نه | ور – بـ – ـشي | نـ – ـخېـ – ـږي |

ورا | رپېږي | ځراغان

**ولولئ او ځیر شئ:** لاندې شعر په لوړ غږ ولولئ او فکر وکړئ چې د جوړښت په لحاظ د دې اونۍ د نورو درسونو له شعرونو سره څه توپیر لري.

## د وريځو اوښان

راغلل د وريځو ‌ تور تور اوښان
بار يې په شا دی ‌ د سپين باران

***

که ګلابونه ‌ او که شړشم دي
خوښې وربشي ‌ خوشحال غنم دي
لکه اختر ته
وي ماشومان

***

نري شمال ته ‌ ونې نخېږي
د ځانګو شال شال ‌ يې شين رپېږي
د ورا د ښکليو
نجونو په شان
رنې اوبه به ‌ شي را روانې
د وطن دښتې ‌ به کړي ودانې
شي ځراغان به
افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پوره تشبیه ولیکئ:** په لاندې چوکاټ کې څو نیمګړې تشبیه‌ګانې راغلې دي. تاسې یې په بشپړو تشبیه‌ګانو واړوئ.

**د وریځو اوښان راغلل = وریځې لکه اوښان راغلل**

**د باران بار د وریځو په شا دی**

**د څانګو شال رپېږي**

**د باد شپېلۍ ښکلې نغمه غږوي**

**همقافیه کلمې ولیکئ:** په لاندې چوکاټ کې څو کلمې راغلې دي. تاسې د هرې یوې لپاره پنځه – پنځه همقافیه کلمې پیدا او په کتابچو کې یې ولیکئ:

| | |
|---|---|
| **مور** | **خور، کـور، ګـور، ورور، اور** |
| **ترانې** | ............، ............، ............، ............، ............ |
| **مچۍ** | ............، ............، ............، ............، ............ |
| **خندل** | ............، ............، ............، ............، ............ |
| **خندان** | ............، ............، ............، ............، ............ |

**کورنۍ دنده:** د شعر د هر بند مطلب په خپله ژبه په نثر ولیکئ، لکه:

**راغلل د وریـځو تور تور اوښان**
**بار یې په شا دی د سپین باران**

تورې وریځې لکه تور اوښان ورو ورو راغلې او سپین باران یې لکه بار په شا کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د درس هدفونه

گرانو زده‌کوونکو! تاسې به په دې درس کې:

۱. په مناسب لحن او غږ سره شعرونه او ترانې ولولئ؛

۲. شعرونه د جوړښت په لحاظ سره بېل کړئ؛

۳. ځینې شیان له نورو شیانو سره تشبیه کړئ؛

۴. هم‌قافیې او هم‌وزنې کلمې په نښه کړئ؛

۵. د نومونو لپاره مناسب صفتونه انتخاب کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| فصل ٦ | اونۍ ۳ | درسي ساعت ۱ |
|---|---|---|

| | | |
|---|---|---|
| شيـ - ـريـ - ـنه | بخـ - ـمـ - ـلي | ما - شيـ - ـني |

نازنینه | ګډۍ | مرېي

**ولولئ او ځیر شئ:** لاندې شعر په لوړ غږ ولولئ او ووایئ چې غزل دی که مثنوي.

## زما نانځکه

| | |
|---|---|
| ما ته مور راکړه نانځکه | ښایسته ښکلې نازکه |
| زما نانځکه نازنینه | په ما ګرانه ده شیرینه |
| ما یې نوم ایښی ګډۍ ده | ګډۍ نه ده، ښاپېرۍ ده |
| د ګډۍ سترګې مې شنې دي | هم په غاړه یې مرېي دي |
| شنه کالي یې بخملي دي | مور جوړ کړي ماشیني دي |
| زما ګډۍ زما ملګرې | ناسته څنګ کې مې تل غلې |
| شپې په کټ کې راسره وي | ښکلې څنګ کې مې ویده وي |

معصومه غزنی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**تشبیه پوره کړئ:** په لاندې چوکاټ کې ځینې شیان له ځینو نورو شیانو سره تشبیه شوي دي.

تاسې د نمونې غوندې، له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره په ګډه، د هرې تشبیه پوره بڼه ولیکئ.

**ګېډۍ نه ده، ښاپېرۍ ده = ګوډۍ د ښاپېرۍ غوندې ښایسته ده.**


**پسه نه دی، سم غوایی دی** = ..........................................................................

**سپوږمۍ نه ده، د تناره پاستی دی** = ..........................................................

**هلک نه دی، سور اور دی** = ..........................................................................

**ژبه نه ده، د ژرندې پل دی** = ..........................................................................

**صفتونه وکاروئ:** د لاندې چوکاټ د هر شي لپاره درې - درې صفتونه ولیکئ: [دا دی لومړی فعالیت شي]




**کورنۍ دنده:** د شعر مطلب په خپله ژبه په نثر ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| ما - شو - مان | پـ - ـتنـ - ـګان | غوښـ - ـتـ - ـنه |

| | | |
|---|---|---|
| فصل ٦ | اونۍ ٣ | درسي ساعت ٢ |

معیوب | یتیم | نظر | نوم او نښان

**ولولئ او ځیر شئ:** لاندې شعر په لوړ غږ ولولئ او ووایئ چې غزل دی که مثنوي.

## ماشومان

| | |
|---|---|
| مونږه ښکلي ماشومان یو | د وطن د بڼ ګلان یو |
| علم او پوهه مو غوښتنه | دا ډېوه، مونږ پتنګان یو |
| بې ګناه مو څه له وژنئ | ناخبر له دې جهان یو |
| لږ نظر را باندې وکړئ | خوک معیوب، خوک یتیمان یو |
| شپه او ورځ مو اوښکې څاڅي | تل د سولې په ارمان یو |
| لوږې تندې یو وهلي | ډېر بې وسه، ناتوان یو |
| مونږه پرېږدئ چې ژلمي شو | د دې خاورې نوم، نښان یو |

مینه توتاخېله

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مسرې جوړې کړئ:** په لاندې چوکاټ کې د شعر لومړۍ مسره لیکل شوې ده، خو دوهمه مسره یې نشته. تاسې له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره د دوهمې مسرې په ځای، نورې مسرې جوړې کړئ.

| | |
|---|---|
| مونږه ښکلي ماشومان یو | لکه ستوري د آسمان یو |
| مونږه ښکلي ماشومان یو | ........................................ |
| مونږه ښکلي ماشومان یو | ........................................ |

**پوره تشبیه ولیکئ:** په لاندې چوکاټ کې د تشبیه لنډې بڼې راغلې دي، تاسې یې پوره بڼې ولیکئ:

مونږ د وطن د بڼ ګلان یو = وطن لکه بڼ دی او مونږ لکه ګلان یو.

د ورزش د آسمان ستوري یو = ................................................

مونږ د علم د ډېوې پتنګان یو = ................................................

مونږ د ادب د کور څراغونه یو = ................................................

**کورنۍ دنده:** پنځه شیان انتخاب کړئ. بیا یې هر یو په یوه صفت کې له بل شي سره تشبیه کړئ. لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخ –

شی: قلم      صفت: نرى      قلم د ګوتې غوندې نرى دى.

شی: غمی      صفت: ځلېږي      غمی د ستوري په شان ځلېږي.

فصل ٦      اونۍ ٣      درسي ساعت ٣

بختور      شور      آب بازي

**ولولئ او ځیر شئ:** لاندې شعر په لوړ غږ ولولئ او ووایئ چې د جوړښت په لحاظ څه ډول شعر دی.

## اختر

| | |
|---|---|
| ســبا زمــوږ اخــتـر دی | اختـر مـو بخـتـور دی |
| پـلاره! راکـــړه اختري | زه پـرې اخلمه منګی |
| هـله، هـله! ځئ چې ځو | ښه په شور او په هو، هو |
| هـلئ! غږ کړئ مديني ته | ځو منګي سره چيني ته |
| هم به ډک کړو خپل منګي | هـم بـه وکـړو آب بازي |
| تــه یــې اچـوه پر ما | زه یـې اچـوم پـر تـا |

خومره خوند کوي نن دا
اوبـه يـخـې دي والله

نګينه اتمانزوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**قافیه او ردیف پیدا کړئ:** د لاندې مثال په شان، په شعر کې هم‌قافیه کلمې او ردیفونه پیدا او په کتابچو کې یې ولیکئ:

**سبا زمونږ اختر دی          اختر مو بختور دی**

**هم‌قافیه کلمې: اختر، بختور**

**ردیف: دی**

**هم‌قافیه کلمې ولیکئ:** په لاندې چوکاټ کې څو کلمې راغلې دي. تاسې د هرې یوې لپاره پنځه – پنځه هم‌قافیه کلمې پیدا او په کتابچو کې یې ولیکئ:

| | |
|---|---|
| **تا** | **ما، ستا، ورا، بابا، انا** |
| **مدینه** | ............، ............، ............، ............، ............ |
| **اختر** | ............، ............، ............، ............، ............ |
| **خوند** | ............، ............، ............، ............، ............ |
| **منګی** | ............، ............، ............، ............، ............ |

**کورنۍ دنده:** پنځه شیان انتخاب او له پنځو نورو شیانو سره یې تشبیه کړئ. هره تشبیه یو ځل پوره او بل ځل په لنډه بڼه په بڼه ولیکئ، لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا خبره داسې خوږه ده لکه شعر.

لکه شعر خوږه خبره

| | | |
|---|---|---|
| ښا – پېـ – | | ـب – ـکه |

| | | |
|---|---|---|
| فصل ٦ | اونۍ ۳ | درسي ساعت ۴ |

| | | |
|---|---|---|
| ښاپېرۍ | ناوکۍ | نانځکه |

**ولولئ او ځیر شئ:** لاندې شعر په لوړ غږ ولولئ او ووایئ چې د جوړښت په لحاظ د تېرې اونۍ له کوم له شعر سره یو شان دی.

## زه څوک؟

| | |
|---|---|
| زه وړه جینکۍ یمه<br>مور ته ناوکۍ یمه | پلار ته ښاپېرۍ یمه<br>ښکلې، ګلالۍ یمه |
| لوبې په خپل کور کوم<br>کار مې هم د مور کوم | پام په خپلې خور کوم<br>کله کله شور کوم |
| ښکلې مې نانځکه ده<br>منډو کې چابکه ده | ما نه هم نازکه ده<br>څکه رانه ورکه ده |
| درس مې زه د شپې وایم<br>شعر ښه په مزې وایم | ښکلې الف بې وایم<br>نورو ته کیسې وایم |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پوره تشبیه ولیکئ:** په لاندې چوکاټ کې څو لنډې تشبیه‌ګانې راغلې دي. تاسې يې په بشپړو تشبیه‌ګانو واړوئ.

**پلار ته ښاپېرۍ یمه = زه خپل پلار ته لکه ښاپېرۍ ښایسته یمه.**

**مور ته ناوکۍ یمه** = ..............................................................................

**وخت سره زر دی** = ..............................................................................

**پوهه رڼا ده** = ..........................................................................................

**هم‌قافیه کلمې ولیکئ:** په لاندې چوکاټ کې څو کلمې راغلې دي. تاسې د هرې یوې لپاره پنځه – پنځه هم‌قافیه کلمې پیدا او په کتابچو کې يې ولیکئ:

| | |
|---|---|
| **کور** | **شور، خور، مور، پور، تور** |
| **پام** | ............ ............ ............ ............ ............ |
| **کیسه** | ............ ............ ............ ............ ............ |
| **رڼا** | ............ ............ ............ ............ ............ |
| **زَر** | ............ ............ ............ ............ ............ |

**کورنۍ دنده:** د شعر د هر بند مطلب په خپله ژبه په نثر ولیکئ، لکه:

**زه وړه جینکۍ یمه     پلار ته ښاپېرۍ یمه**

**مور ته ناوکۍ یمه     ښکلې، ګلالۍ یمه**

زه وړه نجلۍ یم. زه خپل پلار ته د ښاپېرۍ غوندې ښایسته یم او مور ته مې د ناوکۍ په شان ښکلې او ګلالۍ ښکارم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم ټولګی – اوم فصل

## موضوع: وطنپالنه

## ژانر: خاطره



**هر څوک د شریکولو لپاره خپلې کیسې او خاطرې لري.**



۱ .خپله کیسه څنګه له نورو سره شریکولی شو؟
۲ .د نورو کیسې ولې راته مهمې دي؟
۳ .کومې کیسې مو د شریکولو دي؟
۴ . د خپلو خاطرو لیکل کومې ګټې لري؟

**د دې فصل هدفونه:**

**ګرانو زده کوونکو! تاسې به په دې فصل کې وکولای شئ چې:**

۱. د خاطرو له پېښو سره ذهني رابطه جوړه کړئ؛
۲. د خاطرې معلومات په چارټ کې ترتیب کړئ؛
۳. د زماني ترتیب په مراعاتولو سره خپلې خاطرې ووایئ؛
۴. د خاطرو په اړه استباطي پوښتنې ځواب کړئ؛
۵. د خاطرو د لیکونکو خبرې او عملونه وارزوئ؛
٦. د متن په اړه خپل نظر بیان کړئ؛
۷. ځینې متشابه کلمې او اوستربلونه به په جملو کې وکاروئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| فصل ۷ | اونۍ ۱ | درسي ساعت ۱ |
|---|---|---|
| ګران- بـ - یه | ګـ - ـنا - هو - نه | او - رېـ - ـد - ـلي |

پالنه | مسافر | نیکي | روزي

**ولولئ او درياد يې کړئ:** له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره لاندې متن ولولئ. د متن د هر پراګراف تر لوستو وروسته، له ځان سره فکر وکړئ چې «دا راته څه شی يادوي؟» دې ته ورته معلومات مو پخوا چېرته اورېدلي، ليدلي، يا لوستي وو؟

## مېلمه پالنه

بېګا ماښام چې له مسجد څخه راوتلو، د مسجد په کونج کې مو يو نا آشنا کس وليد. بابا مې ورسره روغبړ وکړ. زه د جومات له وره سره ولاړ وم. بابا مې راغی. زه تر بابا مخکې شوم. لکه مې يې ورته ورکړه او بوټونه مې يې مخې ته کېښودل.

له جوماته چې وتلو، بابا مې وويل: لمسيه! څه چې کور ته لاړ شو چې بيا بېرته نه شې راتلی، درباندې تياره کېږي. ته به بېرته راځې چې د مېلمه لپاره ډوډۍ وروړې!

ما ورته وويل: بابا هغه خو مسافر دی، بل ځوک دې ډوډۍ وروړي.

ويې ويل: لمسيه! د مېلمه پالنه د اسلام امر دی او زموږ دود دی. بله دا چې وايي د الله تعالی رسول ﷺ وفرمايل: کله چې الله تعالی اراده وکړي چې له يوې ټولنې سره نيکي وکړي، نو د هغې لپاره ډېره ګرانبيه ډالۍ ورلېږي. يو چا پوښتنه وکړه چې يا رسول الله! دا ډالۍ څه ده؟ ويې فرمايل: مېلمه. مېلمه له خپلې روزۍ سره راځي او چې ځي، د کورنۍ ګناهونه له ځان سره وړي.

ما وويل: ښومره ښه!

کور ته چې نږدې شوو، ومې ويل: بابا! خدای خبر چې مور به مې ښه شيان پاخه کړي وي، که نه؟

بابا مې وخندل او ويې ويل: اورېدلي دې نه دي چې وايي څه چې تيار، هغه د يار.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور ته چې ولاړو، مور مې په یوه کاسه کې ډوډۍ او په بله کې مستې واچولې. په یوه قاب کې یې سلاته تیاره کړه. وچه ډوډۍ یې په دسترخوان کې وپېچله. ورور مې دسترخوان او څراغ راواخیستل او ما د خوړو پتنوس. له کوره چې ووتو، تیاره زیاته شوې وه. تر جوماته پورې د څراغ رڼا ته په احتیاط ولاړو.

جومات ته چې ننوتو، مېلمه موسکی شو. ویې ویل: خیر یوسې! الله مو لوی سړي کړه.

په همدې وخت کې زما ټولګیوال اجمل هم جومات ته راننوت. په پتنوس کې یې د چایو چاینکه، پیالې او خواږه راوړي وو.

مېلمه ته مو وویل: ماما! ته دې ډوډۍ وخوره. موږ څو چې نا وخته کېږي.

ویې ویل: ځئ، الله مو مل شه!

بېرته چې راتلو، احمد ته مې د بابا خبرې وکړې او ومې ویل: زړه مې ډېر خوشحاله دی چې مېلمه ته مې ډوډۍ وړې ده. ځان را ته ښه ښکارېږي او په زړه کې مې تېرېږي چې خدای مې په دې کار خوښ دی.

احمد وویل: شریفه! ها بله ورځ مو ښوونکي ویلي وو چې خپلې ښې خاطرې ولیکئ. څنګه به وي چې همدا خاطره دې ولیکې.

کور ته چې ورسېدم، کتابچه مې راواخیسته او دا خاطره مې ولیکله.

[تصویر: یو کس چې لونګی یې په سره او ډوډۍ ته ناست او دسترخوان یې مخې ته ایښې وي. دولس کلن ماشوم ورته ډوډۍ په دسترخوان سمه وي]

**کورنۍ دنده:** د مېلمه‌پالنې خپله په زړه پورې خاطره ولیکئ او په بل ساعت کې یې له ټولګیوالو سره شریکه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د معلوماتو چارټ:** لاندي چارټ په خپلو کتابچو کې رسم کړئ. بیا متن له سره ولولئ او له خپلو ټولګیوالو سره په مشورې، د شریف د خاطرې معلومات په کې ولیکئ.

| | |
|---|---|
| **څوک/ چا** | |
| **څه مهال** | |
| **چیرې** | |
| **څه** | |
| **ولې** | |

**وارزوئ او ووایئ:** د شریف او بابا یې خبرې او کړنې وارزوئ او د دې پوښتنو ځواب ووایئ:

۱. د مېلمه پالنې په اړه د شریف د بابا خبرې درته څنګه ښکاري؟

۲. شریف ویل چې مسافر ته دې بل څوک ډوډۍ وروړي. دا خبره یې څنګه بولئ؟

۳. شریف چې له جوماته راووت، احمد ته یې خپل احساس بیان کړ. دا کار څنګه دی؟

**کورنۍ دنده:** د چا کره چې تللي یئ، مېلمهپالنې یې خوند درکړی دی؟ په دې اړه خپله خاطره ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فصل ۷     اونۍ ۱     درسي ساعت ۳

**وينا وکړئ:** د مېلمه‌پالنې په اړه خپلې خاطرې ټولګيوالو ته مو ووايئ.

**مناسب وستربلونه وکاروئ:** لاندې جملې ولولئ او په کتابچو کې يې وليکئ. جملو ته په مخامخ چوکاټ کې څو وستربلونه راغلي دي. تاسې د هرې جملې تش ځای په مناسبو کلمو سره ډک کړئ.

چې د مېلمه ........................ ډوډۍ وروړې!

تر جوماته ................ د خراغ رڼا ته په احتياط ولاړو.

مېلمه د ګران‌بيې ډالۍ ................ وي.

تر ماښامه ................ په جومات کې وو.

د مېلمه ................ مې مستې يوړې.

مستې د واورې ................ سپينې وې.

غونډې

لپاره

پورې

**کورنۍ دنده:** نن مو د مېلمه‌پالنې په اړه د خپلو څو ټولګيوالو خاطرې واورېدې. کور ته چې ولاړئ، فکر وکړئ چې د چا خاطره مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه. بيا يې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ووېشئ او وېي ليکئ:** له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره لاندې کلمې پر برخو ووېشئ او په خپلو کتابچو کې يې وليکئ.

| مېلمه‌پالنه | مېلمه   پالنه |
|---|---|
| دسترخوان | |
| ګران‌بيه | |
| ګناهونه | |
| خوشحاله | |

**فکر وکړئ:** دلته د شريف د خاطرې په اړه استنباطي پوښتنې لولئ. له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره په مشورې، د پوښتنو ځوابونه پيدا کړئ او په خپلو کتابچو کې يې وليکئ.

۱. شريف مشر دی که هغه ورور يې چې خراغ يې نيولی و؟

۲. شريف به خپله ليکلې خاطره لومړی چا ته لوستلې وي؟

۳. که شريف بل ځل په جومات کې مېلمه ووينې او بابا يې ورسره نه وي، دی به څه وکړي؟

**وارزوئ او وليکئ:** د لومړي درسي ساعت متن وارزوئ او په خپلو کتابچو کې د دې پوښتنو ځوابونه وليکئ.

۱. په خاطره کې راغلي معلومات څومره واضح او په زړه پورې وو؟

۲. په خاطره کې څه شی کم دی؟ ستاسو په نظر، نور کوم معلومات بايد په کې راغلي وای؟

**خپل نظر وليکئ:** د شريف د خاطرې په اړه خپل نظر وليکئ چې څنګه وه؟ د خاطرې کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ له دې خاطرې څخه مو څه زده کړل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

فصل ۷ | اونۍ ۲ | درسي ساعت ۱

| | | |
|---|---|---|
| رخـ - ـصـ - ـتـ - ـیو | الـ - ـما - ر - یو | ځـ - ـرېـ - ـد - لې |
| لـ - ـګېـ - ـد - لی | غو - ړېـ - ـد - لې | مـ - ـجـ - ـسـ - ـمې |

شیشکونه | موزیم | اثر | کیندن کاري

**ولولئ او درياد يې کړئ:** له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره لاندې متن ولولئ. د متن د هر پراګراف تر لوستو وروسته، له ځان سره فکر وکړئ چې «دا راته څه شی يادوي؟» دې ته ورته معلومات مو پخوا چېرته اورېدلي، ليدلي، يا لوستي وو؟

## ملي موزيم

د اوړي په رخصتيو کې يوه ورځ مور او پلار مې ملي موزيم ته بوتلو. د موزيم په لومړي پوړ کې اوږد دهلېز و چې د ليندۍ په شان ډېر شيشکونه يې لرل. په شيشه‌يي الماريو کې کولالي لوښي ايښي وو، منګي، دېګونه، چاتۍ. ځيني يې ښخي روغ و او ځيني يې په سر يا غاړه کې مات. ما به د هر اثر په اړه ليکل شوي معلومات لوستل، خو ورور مې همداسې سرسري ورته کتل او تېرېده. ما لا د دوو الماريو آثار نه وو کتلي چې ورور مې د دهلېز بل سر ته رسېدلی و. هغه بېرته راغی. شونډې يې ځړېدلې وې. ويې ويل: هسې موزيم ته راغلم. دا نو څه رقم موزيم دی. داسې لوښي خو په هر ځای کې شته.

ما ورته وويل: کبيره! دا او هغه لوښي توپير لري. دا د ډېرو پخوا وختونو دي. ګوره! د هر اثر په څنګ کې د هغه په اړه معلومات ليکل شوي دي. که دا معلومات ولولې، بيا به يې په قدر پوه شې.

هلته يوه مېرمن ولاړه وه. زما د خبرو په اورېدو سره موسکۍ شوه. ويې ويل: آفرين هوښيارې نجلۍ! زه شکريه نومېږم، د موزيم لارښوده يم او که څوک وغواړي د آثارو په اړه معلومات ورکوم.

ما وويل: زه زرغونه يم او دا مې کبير ورور دی. زه په پنځم ټولګي کې يم او ورور مې په شپږم کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېرمن شکرېې وويل: ډېر ښه! غواړئ چې زه درته معلومات درکړم؟

ورور مې غلی و. ما وويل: ولې نه.

ورور مې له لاسه ونيو او د يوه دېگ خوا ته ورغلو. لوی تور ډېرين دېگ و چې پر مخ يې د قرآن کريم آيتونه کيندل شوي وو.

مېرمن شکرېې وويل: دا دېگ د کندهار په يوه مدرسه کې و. وگورئ چې د قرآن شريف آيتونه په څومره ښکلي خط په کې کيندل شوي. تاسې فکر وکړئ چې دا کار څومره دقت غواړي. هغه چا چې دا کيندن کاري يې کړې ده، که څټک ورنه لږ دې خوا ها خوا لگېدلی وای، يا يې په څټک لږه زياته ضربه ورکړې وای، نو ټوله ډېره به ماته شوې وای.

ومې ليدل چې د کبير څېره غوړېدلې ده او د لاربښودې خبرو ته يې غوږ نيولی دی. لاربښودې راته داسې مجسمې وښودې چې څلور – پنځه زره کاله پخوانۍ وې. تورې، ټوپک، چړې، غشي - ليندۍ، زغرې، د سپينو زرو، مسو او سرو زرو گاڼې، له تيږو، گچ او وسپنې جوړې شوې مجسمې او ډېر نور شيان مو وليدل.

مېرمن شکرېې وويل: اوس به په دوهم پوړ کې د نورستان آثار وگورو.

کبير وويل: زرغونې! د پنځم ټولگي په پښتو کتاب کې د نورستان په اړه معلومات شته. ستا په ياد دي چې د نورستان د خلکو لاسي صنايع څه دي؟

ما وويل: هو، هغوی له وړيو څخه جامې، ټغر، کوټ، پتلون او نور شيان اوبدي.

کبير وويل: او له لرگيو څخه زينتي شان جوړوي.

لاربښودې وويل: آفرين! راځئ چې ويې گورو.

هلته مو ښکلې لرگينې مجسمې، وړينې چپنې، د وزې له پوستکي جوړ شوي کوټونه، لرگين صندوقونه، ښايسته مېزونه، څوکۍ، او داسې دروازې او کړکۍ وليدې چې ښکلي شکلونه او گلونه پرې کيندل شوي وو.

بيا مو په دريم پوړ کې د طلا تپې خزانه وليده. د سرو زرو ډېرې ښکلې گاڼې وې، غاړکۍ، امېلونه، کمربندونه، بنگړي او ډېر نور طلايي شيان. مېرمن شکرېې وويل چې دا خزانه په جوزجان کې موندل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې ده. دغه ګاڼې يو ويشت زره ټوټې وې او دوه زره کاله پخوا په اوو قبرونو کې له مړو سره ښخې شوې وې.

په موزيم کې مو ډېر عجيب او ښايسته شيان وليدل او د خپل هېواد په اړه مو ډېر معلومات پيدا کړل.

کله چې له موزيم څخه وتلو، ما، کبير، مور او پلار مې له مېرمن شکريې څخه مننه وکړه او ما او کبير ورسره عکسونه واخيستل.

کبير ته مې وويل: لالا! اوس به څه وايې؟ اوس هم په راتلو پښېمانه يې؟

هغه موسکی شو، ويې ويل: اوس به ووايم چې ژوندۍ دې وي زما هوښياره خورکۍ.

ټولو وخندل او موږ د کور خوا ته روان شوو.

[تصوير: د ملي موزيم عکسونه]

**کورنۍ دنده:** خپله يوه په زړه پورې خاطره وليکئ، مثلاً که موزيم يا کوم تاريخي ځای ته يا مېلې ته تللي يئ، يا بله داسې خاطره مو چې فکر کوئ نورو ته به په زړه پورې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د معلوماتو چارټ:** لاندې چارټ په خپلو کتابچو کې رسم کړئ. بيا متن له سره ولولئ او له خپلو ښنګلوريو ټولګيوالو سره په مشورې، د زرغونې د خاطرې معلومات په کې وليکئ.

| | |
|---|---|
| **څوک/ چا** | |
| **څه مهال** | |
| **چيرې** | |
| **څه** | |
| **ولې** | |

**وارزوئ او ووايئ:** د زرغونې او کبير خبرې او کړنې وارزوئ او د دې پوښتنو ځواب ووايئ:

۱. کبير په موزيم کې د لوښو په ليدلو سره، وويل چې دا رقم لوښي خو په هر ځای کې دي. ستاسو په نظر دا قضاوت يې څنګه و؟

۲. زرغونې هڅه وکړه چې د خپل ورور نظر بدل کړي چې د موزيم د آثارو له کتلو څخه خوند واخلي، دا کار يې څنګه ارزوئ؟

۳. کله چې د موزيم لارښودې ځان معرفي کړ، زرغونې هم ځان او خپل ورور ورو‌پيژندل. دا کار تاسو ته څنګه ښکاري؟

۴. کبير د خاطرې په آخر کې ولې وويل «ژوندۍ دې وي زما هوښياره خورکۍ»؟

**کورنۍ دنده:** د خپلې کورنۍ يوه مشر/ مشرې ته ووايئ چې ستاسو د کوچنيتوب يوه جالبه خاطره ووايي او تاسې هغه خاطره وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وينا وکړئ:** هغه خاطرې چې تاسو د خپل کوچنيتوب په اړه د کورنۍ له مشرانو څخه اورېدلې دي، ټولګيوالو ته مو ووايئ.

**مشابه کلمې وکاروئ:** لاندې جملې ولولئ او په کتابچو کې يې وليکئ. جملو ته په مخامخ چوکاټ کې ځينې مشابه کلمې راغلې دي. تاسې د هرې جملې تش ځای په مناسبو کلمو سره ډک کړئ.

**مشابه کلمې هغه کلمې دي چې بڼه يې يوه ده خو معناګانې يې بېلې**

| |
|---|
| تورې |
| غوټه |
| سره |

**لامبوزن په اوبو کې ........................ وهي.**

**هغه ................ چې په لاس خلاصېږي، په غاښ به يې ولې خلاصوو؟**

**................ زر له مرو ................ په قبرونو کې ښخ وو.**

**د غنمو وده زياتوي ................**

**................ ورېځې راغلې او باران په ورېدو شو.**

**په موزيم کې ................ ، زغرې، ټوپک او نور جنګي وسايل وو.**

**کورنۍ دنده:** نن مو د خپلو څو ټولګيوالو د کوچنيتوب په اړه خاطرې واورېدې. کور ته چې ولاړئ، فکر وکړئ چې د چا خاطره مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه. بيا يې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وویېشئ او ویې لیکئ:** له خپلو ټولګیوالو سره لاندې کلمې پر برخو وویېشئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

| ښینبه‌یي | ښینبه یي |
|---|---|
| طلایي | |
| ډبرین | |
| لرګین | |
| وړین | |

**فکر وکړئ:** دلته د زرغوني د خاطرې په اړه استنباطي پوښتنې لولئ. له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره په مشورې، د پوښتنو ځوابونه پیدا کړئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

۱. په ملي موزیم کې د افغانستان د کومو ولایتونو آثار ننداري ته اېښودل شوي دي؟

۲. په موزیمونو کې څه ډول آثار اېښودل کېږي؟

۳. د ملي موزیم ودانۍ څو پوړیزه ده؟

**وارزوئ او ولیکئ:** د لومړي درسي ساعت متن وارزوئ او په خپلو کتابچو کې د دې پوښتنو ځوابونه ولیکئ.

۱. په خاطره کې راغلي معلومات څومره واضح او په زړه پوري وو؟

۲. په خاطره کې څه شی کم دی؟ ستاسو په نظر، نور کوم معلومات باید په کې راغلي وای؟

**خپل نظر ولیکئ:** د زرغوني د خاطرې په اړه خپل نظر ولیکئ چې څنګه وه؟ د خاطرې کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ له دې خاطرې څخه مو څه زده کړل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

| فصل ۷ | اونۍ ۳ | درسي ساعت ۱ |
|---|---|---|

| | | |
|---|---|---|
| اجـ - تـ - ـماعـ - ـيا - تو | شا - ګر - دا - نې | دنګ - ـوا - لي |
| هـ - ـريـ - ـرود | نيـ - ـشا - پور | بـ - ـنا - رس |

څلی | کوفي خط | علمي سَير | اته ګوټيز

**ولولئ او درياد يې کړئ:** له خپلو ځنګلوريو ټولګيوالو سره لاندې متن ولولئ. د متن د هر پراګراف تر لوستو وروسته، له ځان سره فکر وکړئ چې «دا راته څه شی يادوي؟» دې ته ورته معلومات مو پخوا چېرته اورېدلي، ليدلي، يا لوستي وو؟

## د جام څلی

درې ورځې مخکې، د تفريح په ساعت کې د اجتماعياتو ښوونکې راباندې غږ کړ: شريفې! دلته راشه. چې ورغلم، يوه ورقه يې راکړه چې مور او پلار ته يې وښيم. وارخطا شوم چې هسې نه زما شکايت يې کړی وي. خو چې ومې ولوسته، ډېره خوشحاله شوم. ليکلي يې وو چې د ښوونځي اداره غواړي چې د ثور په لسمه نېټه د پنځم الف ټولګي شاګردانې د علمي سَير لپاره د جام څلي ته بوځي. ټولګي ته چې ولاړم، ومې ليدل چې د هر چا په لاس کې همداسې کاغذ دی او ټولې ټولګيوالې مې له خوشحالۍ ټوپونه وهي.

نن سهار وختي بس موټر ته وختلو. بس څه کم يو ساعت په سمه کې روان و، بيا غرونو ته ورسېدو او د غرونو په منځ کې مو دوه ساعته مزل وکړ. چا د سړک په خوا کې سيند ته اشاره کوله او خپلې ځنګلورې ټولګيوالې ته يې څه ويل، چا د غرونو د دنګوالي په باره کې خبرې کولې او چا د نورو شيانو اړه. وروسته چې ښه ډېر مزل مو وکړ، ورو ورو ټولې نجونې غلې شوې. خوب راغلی و، نژدې وو چې سترګې مې سره ورشي چې له لومړيو چوکيو نه ناره پورته شوه: د جام څلی! وګورئ! څومره دنګ دی!

(c) ketabton.com: The Digital Library

په رښتیا چې ډېر دنګ و. ما په یوه کتاب کې لوستي وو چې دا مینار شاوخوا ٦٥ متره لوړ دی، خو نه پوهېدم چې ٦٥ متره به دومره لوړ ښکاري. لږ وروسته موټر ودرېد او موږ ورنه کوزې شوو.

د جام ځلی په داسې ځای کې جوړ و چې شاوخوا ته یې غرونه وو. له دوو خواوو څخه یو لوی او بل وړوکی سیند راغلي او دلته سره یوځای شوي وو. ښوونکې مو وویل: ستړې مه شئ! راځئ چې مخونه مو ومینځو چې خوب مو والوځي.

د وړوکي سیند په غاړه کېناستو. موږ چې مخونه مینځل، ښوونکې وویل: دا د جام سیند دی او د هغه بل سیند نوم به تاسې وواییئ.

موږ لوی سیند ته وکتل او ومو ویل چې نه پوهېږو.

ښوونکې وویل: د سلما بند پر کوم سیند جوړ شوی؟

ټولو وویل: هریرود!

ښوونکې وویل: آفرین! ښه نو، دا ځلی د جام مینار نومېږي او ۹۰۰ کاله پخوا د سلطان غیاث الدین غوري په امر جوړ شوی دی. د هغه پاچاهي د ایران له نیشاپور څخه د هندوستان تر بنارس پورې وه او دا سیمه یې پایتخت و. اوس نو تاسې ځلي ته په ځیر وګورئ. که مو پوښتنه درلوده، رانه ویې پوښتئ.

د جام ځلی ډېر ښکلی و. په بېخ کې اته ګوټیز و خو بیا وروسته ګرد شوی و او څو پوړونه یې لرل. د مینار هر پوړ تر لاندني پوړ نری و. پر دېوالونو یې له خښتو نه ښکلي هندسي شکلونه جوړ شوي وو. په پاسنۍ برخه کې یې په نیلي رنګ څه لیکل شوي وو، خو خط یې بل رقم و. پوښتنه مې وکړه چې څه یې لیکلي دي؟ ښوونکې مو وویل چې دا په کوفي خط د شهادت کلمه او د قرآن کریم آیتونه دي.

د مینار تر کتلو وروسته مو له کوره راوړي خواړه را وایستل. چا اېشېدلې هګۍ راوړې وې، چا چیپس، چا د چرګ سره کړې غوښه. هر چا خپل خواړه پر دسترخوان اېښي وو او ټولو په ګډه وخوړل. بیا بس ته پورته شوو، دعا مو وکړه او بېرته د هرات خوا ته روانې شوو.

[تصویر: د جام مینار عکس]

**کورنۍ دنده:** خپله یوه په زړه پورې خاطره ولیکئ، مثلاً که مو کومه پخوانۍ کلا لیدلې وي یا مو چېرته سفر کړی وي، یا بله داسې خاطره مو چې فکر کوئ نورو ته به په زړه پورې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فصل ۷ | اونۍ ۳ | درسي ساعت ۲

**د معلوماتو چارټ:** لاندې چارټ په خپلو کتابچو کې رسم کړئ. بیا له خپلو ټولګیوالو سره په مشوره د متن معلومات په کې ولیکئ.

| | |
|---|---|
| **څوک/ چا** | |
| **څه مهال** | |
| **چېرې** | |
| **څه** | |
| **ولې** | |

**وارزوئ او ووایئ:** د ښوونکي او شاګردانو خبرې او عملونه وارزوئ او د دې پوښتنو ځواب ووایئ:

۱. شاګردانو په لاره کې د سیند او غرونو په اړه خبرې کولې، دا کار یې درته څنګه ښکاري؟

۲. د سیند په اوبو د مخونو مینځل څنګه کار دی؟

۳. شاګردانو خپل خواړه به ګډه وخوړل، دا کار یې څنګه ارزوئ؟

**کورنۍ دنده:** د خپل ښوونځي په اړه خپله جالبه خاطره ولیکئ. په یاد مو وي چې په خاطره کې مو دې پوښتنو ته ځواب ووایئ: څوک/ چا، څه مهال، چېرې، څه یې وکړل، ولې وکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**فصل ۷     اونۍ ۳     درسي ساعت ۳**

**وینا وکړئ:** د ښوونکي/ ښوونکې په لارښوونه، خپلې په زړه پورې خاطرې ټولګیوالو ته مو ووایئ.

**تش ځایونه ډک کړئ:** لاندې جملې ولولئ او په کتابچو کې یې ولیکئ. جملو ته په مخامخ چوکاټ کې ځینې کلمې راغلې دي. تاسې د هرې جملې په تش ځای کې مناسبه کلمه ولیکئ.

تر هراته ........................ درې ساعته لاره وه.

تر اوبو ................. سپین کبان ښکارېدل.

د جام مینار تر کتلو ................ مو ډوډۍ وخوړه.

تر بوسو ...............اوبه تېرې.

تر ماښامه .............. مو لوبې کولې.

تر تا ................ د فرشتې وار دی.

لاندې

پورې

وروسته

**کورنۍ دنده:** نن مو د خپلو څو ټولګیوالو خاطرې واورېدې. کور ته چې ولاړئ، فکر وکړئ چې د چا خاطره مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه. بیا یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ووېشئ او ویې لیکئ:** له خپلو ټولګیوالو سره لاندې کلمې پر برخو ووېشئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

| اته ګوټیز | اته ګوټ یز |
|---|---|
| وسپنیز | |
| بندیز | |
| سیمه‌ییز | |
| ډله‌ییز | |

**فکر وکړئ:** دلته د متن په اړه استنباطي پوښتنې لولئ. له خپلو ټولګیوالو سره په مشوره، د پوښتنو ځوابونه پیدا کړئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

۱. دا خاطره چا لیکلې وه؟

۲. ولې یوازې د پنځم الف ټولګي شاګردانې علمي سیر ته بوول شوې؟

۳. ځلي د څه شي لپاره جوړېږي؟

**وارزوئ او ولیکئ:** د لومړي درسي ساعت متن وارزوئ او په خپلو کتابچو کې د دې پوښتنو ځوابونه ولیکئ.

۱. په خاطره کې راغلي معلومات څومره واضح او په زړه پورې وو؟

۲. په خاطره کې څه شی کم دی؟ ستاسو په نظر، نور کوم معلومات باید په کې راغلي وای؟

**خپل نظر ولیکئ:** د متن په اړه خپل نظر ولیکئ چې څنګه و؟ د خاطرې کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ له دې خاطرې څخه مو څه زده کړل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځم ټولګی - اتم فصل

## موضوع: پوهه

## ژانر: روايتي (حکايت)



**پوهه او فکر ژوند آسانه کوي.**



۱. فکر او پوهه له يو بل سره څه رابطه لري؟

۲. پوهه او فکر ژوند څنګه آسانوي؟

۳. د پوهې سرچينې کومې دي؟

۴. خپل فکر څنګه روزلی شو؟

۵. د انسان پوهه په څه شي زياتېږي؟



**حکايتونه د ژوند هينداري دي.**



۱ .په حکايتونو کې څه وينو؟

۲ .حکايتونه زموږ ژوند څنګه رانښيي؟

۳ .له حکايتونو څخه څه شی زده کولی شو؟

۴. خلک ولې حکايتونه جوړوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دې فصل عمومي هدفونه

گرانو زده‌کوونکو! تاسې به د دې فصل کې وکولای شئ چې:

۱. د عنوان او انځور له مخې د کيسو په اړه وړاندوينه وکړئ.

۲. توضيح کړئ چې د کيسو صحنې مو په ذهن کې څنګه مجسمې کړې.

۳. د کيسې د چارټ په ډکولو سره د کيسو پيل، منځ، او پای تشخيص کړئ.

۴. د کيسو په اړه استباطي پوښتنې ځواب کړئ.

۵. د کيسې د کرکټرونو عملونه وارزوئ.

۶. د کيسو په اړه خپل نظر بيان کړئ.

## لومړی اونی

### د درس هدفونه

گرانو زده‌کوونکو! تاسې به د دې درس تر پايه پورې وکولای شئ چې:

۱. پر برخو د وېشلو له لارې، د ۴ داسې کلمو معنا پيدا کړئ چې د «وونکې» مختاړی لري؛

۲. په ډله‌ييز بحث کې د ځورېدلو په اړه خپل نظر څرګند کړئ؛

۳. د عددونو اوښتې بڼه وليکئ؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

| فصل ۸ | اونۍ ۱ | درسي ساعت ۱ |
|---|---|---|

| | | |
|---|---|---|
| و - غـ - څېـ - ـده | واو - ر - و - له | شا - گر - دا - نو |
| پښېـ - ـما - ني | ستو - ما - نـ - ـوونـ - ـکې | تک - ـرا - ر - وئ |

| سبق | کونجاړه | ستومانوونکې | پښېمانه |
|---|---|---|---|

اټکل وکړئ: د کیسې عنوان او انځور ته وگورئ او اټکل وکړئ چې په کیسه کې به څه کېږي.

ولولئ: کیسه په ټیټ غږ ولولئ او د هرې برخې تر لوستلو وروسته یې په ذهن کې مجسم کړئ.

## ترخې خبرې

د یوه کلي څو شاگردان به هره ورځ حکیم ته کېناستل چې د ژوند سبقونه ورنه زده کړي. یوه ورځ حکیم پوښتنه ترې وکړه چې تر ټولو ښه خواړه کوم دي؟

یو شاگرد، چې زلمی نومېده، د پوښتنې په وخت کې په بل چورت کې و. د هغوی غوا ناروغه وه او ټول فکر یې د خپلې غوا خوا ته و. هغه فکر وکړ چې حکیم د غواگانو لپاره د ښو خوړو پوښتنه کوي، نو وار له واره یې وویل: کونجاړه.

ټول شاگردان کټ کټ په خندا شول. خندا یې پسې وغځېده او اوږده شوه.

زلمی زهیر شو. رنگ یې سور واوښت. حکیم شاگردان غلي کړل.

دا خبره تېره شوه خو شاگردانو به هره ورځ په لاره کې زلمی ځوراوه. یوه به یې بل نه پوښتنه وکړه چې نن دې څه خوړلي دي. هغه به ویل چې تر ټولو ښه خواړه. بیا به ټولو ویل «کونجاړه، کونجاړه» او وبه یې خندل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زلمی ډېر ځورېده. هغه څو ځله خپلو ملګرو ته وویل چې ستاسو دا خبرې ما ځوروي، خو ګټه یې ونه کړه. زلمي خپل استاد ته شکایت وکړه. حکیم ورته وویل چې ته یې غم مه کوه، زه به یې پوه کړم.

بله ورځ حکیم خپلو شاګردانو ته وینا کوله. د وینا په منځ کې یې یوه ټوکه وکړه. شاګردانو په کټ کټ وخندل. حکیم ټوکه تکرار کړه. دا ځل د خندا آواز یو څه کم شو. حکیم ټوکه بیا بیا واورولـه او خبره دې ته ورسېده چې نور څوک ورته موسېدل هم نه.

دغه وخت حکیم وویل: که د یوې ټوکې بیا بیا اورول، خلـک سـتومانه کـوي، د ژونـد د غمجنـو او ترخو خاطرو بیا بیا ویل به څومره ستومانوونکي وي! خبرې که خوږې هم وي، مـه یـې تکـراروئ او ترخې خبرې خو ان په هغه یو ځل ویلو نه ارزي!

د زلمي ټولګیوالو یو بل ته سره وکتل. د ټولو په مخونو کې د پښېمانۍ نښې ښکاره شوې. ټـول لـه خپلو ترخو خبرو پښېمانه وو. له هغه وروسته هېڅـا زلمـي تـه هغـه خـبره ونـه کـړه او د دوی خـوږه ملګرتیا ډېر کلونه روانه وه.

[تصویر: تر یوې ونې لاندې څو زلمکي هلکان (۱۰-۱۱ کلن) ناست دي او یو په عمر پوخ سړی له سپینې پګړۍ او کمیس پرتوګ سره د هغوی مخ ته ولاړ دی، درس ورکوي.]

**کورنۍ دنده:** خپله هغه خاطره ولیکئ چې تاسې یې ځورولي یئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وویشئ او معنا کړئ:** د چوکاټ کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکئ. بیا له خپلو ځنګلوریو ټولګیوالو سره، هره کلمه د مثال په شان پر برخو (اصلي برخه او روستاړي) وویشئ او معنا یې پیدا کړئ.

| کلمه | اصلي برخه ـ روستاړی | د کلمې معنا |
|---|---|---|
| ستومانوونکې | ستومان ـــ وونکې | **ستومان** = ستړی **وونکې** = فاعلي وروستاړی<br>**ستومانوونکې** = هغه شی یا کس چې څوک ستړی کوي. |
| خوشحالوونکې | | |
| بیانوونکې | | |
| ویجاړوونکې | | |
| تماموونکې | | |

**د کیسې چارټ:** د کیسې چارټ په خپلو کتابچو کې رسم کړئ. بیا له خپلو ځنګلوریو ټولګیوالو سره د کیسې پیل، منځ او پای پیدا او چارټ ډک کړئ.

| پیل | | منځ (د کیسې ځوکه) | پای | |
|---|---|---|---|---|
| کرکټرونه | | | د ستونزې حل | |
| ځای – زمان | | | | |
| ستونزه | | | نتیجه/ پیغام | |

**ویې ارزوئ:** د کیسې د کرکټرونو په اړه فکر وکړئ. د هر کرکټر په اړه دغو پوښتنو ته ځواب ووایئ:

۱. څه یې وکړل؟

۲. ولې یې وکړل؟

۳. کار یې سم او منطقي و، که نه؟ دلیل مو څه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

| فصل ۸ | اونۍ ۱ | درسي ساعت ۳ |
|---|---|---|

**بحث وکړئ: تاسې به په ډلو کې د «ځوربدلو» په اړه بحث وکړئ. هر څوک به په خپله ډله کې د لاندې پوښتنو په اړه خپل نظر څرګندوي. د بحث په پای کې به د ځینو ډلو استازي د خپلې ډلې د بحث نتیجه نورو ته ووایي.**

**د بحث پوښتنې:**

۱. مور ولې ځورېږو؟

۲ . کوم شیان او څه ډول خبرې مو ځوروي؟

۳. که مو څوک ځوروي، څه باید وکړو؟

**عبارتونه واړوئ: لاندې عبارتونه ولولئ او بیا مو په کتابچو کې د هر یوه اوښتې بڼه ولیکئ.**

| یوه ورځ | د یوې ورځې | دوه ورځې | په دوو ورځو کې |
|---|---|---|---|
| یو ماښام | د ........ ماښام | درې شپې | تر ........ شپو پورې |
| پنځه ډوډۍ | د ........ ډوډیو لپاره | درې کوترې | د ........ کوترو |
| یوه خبره | تر ........ خبرې پورې | څلور ماشومان | د ........ ماشومانو |
| اوه پوښتونه | له ........ پوښتونو | لس ګزې | د ........ ګزې |
| شل کاله | تر ........ کلونو | یوه پېرۍ | له ........ پېرۍ |

**ورنۍ دنده:** څه شی تاسې ځوروي؟ په دې اړه څو جملې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ووېشئ او ويې ليکئ: له خپلو ټولګيوالو سره لاندې کلمې پر برخو ووېشئ او په خپلو کتابچو کې يې وليکئ.**

| ځورول | ځور ول |
|---|---|
| اورول | |
| ويلو | |
| خوړلو | |
| خندلو | |

**فکر وکړئ: دلته د کيسې په اړه داسې پوښتنې لولئ چې ځوابونه يې په کيسه کې نشته. له ټولګيوالو سره مو د پوښتنو ځوابونه پيدا او په خپلو کتابچو کې يې وليکئ.**

۱. د زلمي ټولګيوالو د کونجاړې خبره ولې بيا بيا تکراروله؟

۲. حکيم شاګردانو ته ولې په ښکاره ونه ويل چې نور زلمی مه ځوروئ؟

۳. د زلمي او ټولګيوالو ملګرتيا ولې ډېر کلونه روانه وه؟

**ويې ارزوئ: د کيسې د کرکټرونو کارونه وارزوئ او په خپلو کتابچو کې د دې پوښتنو ځوابونه وليکئ.**

۱. د زلمي د ټولګيوالو سلوک څنګه بولئ؟

۲. د ټولګيوالو د سلوک په مقابل کې د زلمي چلند څنګه و؟

**خپل نظر وليکئ: د کيسې کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ د کيسې تلوسه څنګه ده؟ له دې کيسې څخه مو څه زده کړل؟په کتابچو کې مو د کيسې په اړه خپل نظر وليکئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهمه اونۍ

## د درس هدفونه

گرانو زده‌کوونکو! تاسې به د دې درس تر پایه پورې وکولای شئ چې:

۱. پر برخو د وېشلو له لارې، د ۴ داسې کلمو معنا پیدا کړئ چې د «وونکې» مختاړی لري؛

۲. په ډله‌ییز بحث کې د ځورېدلو په اړه خپل نظر څرګند کړئ؛

۳. د عددونو اوښتې بڼه ولیکئ؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| را - ټو - لو - لې | بـ - چو - نو | الـ - و - تـ - لې |
| وژ - غو - رل | ولـ - وېـ - دل | را - و - ایسـ - تل |

نیکي | وبهېده | وپوښتله | متل

**اټکل وکړئ:** د کیسې عنوان او انځور ته وګورئ او اټکل وکړئ چې په کیسه کې به څه کېږي.

**ولولئ:** کیسه په ټیټ غږ ولولئ او د هرې برخې تر لوستلو وروسته یې په ذهن کې مجسم کړئ.

## نیکي سیند هم نه وړي

وایي چې د یوې کوترې ځاله د یوه داسې کمر په غاړه وه چې په بېخ کې یې سیند بهېده. کوترې به تمامه ورځ د خپلو بچونو لپاره دانې مانې راټولولې. بچونې یې په ګېډه نسه ماړه وو. کوترې به هر وخت د خوړو څو دانې سیند ته اچولې. د کوترې بچونې چې لږ لوی شول، د مور دې عادت ته حیران شول. یوه ورځ یې له مور څخه د دې کار وجه وپوښتله. هغې په ځواب کې ورته وویل: بچو! یوازې ځان ساتل او مړول ضرور نه دي، بلکې نیکي کول هم ضروري دي. د کوترې بچونې په دې فکر کې وو چې له اوبو سره نیکي کول نو څه معنا لري. مور مو چې سیند ته دانې اچوي، اوبه یې وړي نو ګټه به یې څه وي؟

له دې خبرو څو ورځې وروسته، چې کوتره په ځاله کې نه وه، یو مار د دوی ځالې ته را پورته شو. د کوترې بچونو د الوتلو کوښښ وکړ، خو الوتل یې سم نه وو زده. دوی ټول په سیند کې ولوېدل. د سیند کبانو د مهربانۍ کوترې بچې وپېژندل او په بېړه یې د هغوی مرسته وکړه. کبانو د کوترې بچې د سیند غاړې ته راوایستل او له لاهو کېدو یې وژغورل.

ماښام، چې کوترې دوی د سیند په غاړه وموندل، پوښتنه یې وکړه چې کیسه څه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بچونو يې کيسه وکړه چې مار زموږ ځالې ته پورته شو او موږ سيند ته ولوېدو. نژدې وه چې په اوبو کې لاهو شو، خو کبانو وژغورلو.

کوترې د کبانو مننه وکړه. بيا يې خپل بچوني يو يو را واخيست او ځالې ته يې پورته کړل.

يوه بچوني يې وويل: مورې! زه اوس پوه شوم چې نيکي سيند هم نه وړي.

کوترې وويل: آفرين!

له هغه وخته راهيسې دا خبره متل شو. اوس هر څوک، چې ښه کوي، همدا متل تېروي چې نيکي سيند هم نه وړي.

[تصوير: په ونه کې کوتره د ځالې څنگ ته دانه يا خواړه يې په خوله کې وي، ترې لاندې سيند وي او په سيند کې ماهيان ښکاري]

**کورنۍ دنده:** خپله داسې خاطره وليکئ چې له چا سره مو ښه کړې وي او بل وخت هغه له تاسو سره نيکي کړې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| فصل ۸ | اونۍ ۲ | درسي ساعت ۲ |
|---|---|---|

**وویشئ او معنا کړئ:** د چوکاټ کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکئ. بیا له خپلو ښنګلوریو ټولګیوالو سره، هره کلمه د مثال په شان پر برخو (مختاړي او اصلي برخه) وویشئ او معنا یې پیدا کړئ.

| کلمه | مختاړی ـ اصلي برخه | د کلمې معنا |
|---|---|---|
| وپېژندل | و ــ پېژندل | و = د تېر مهال فاعلي مختاړی **پېژندل** = سهي کول<br>**وپېژندل** = سهي یې کړل |
| ولوېدل | | |
| وایستل | | |
| وژغورل | | |
| ومونډل | | |

**د کیسې چارټ:** د کیسې چارټ په خپلو کتابچو کې رسم کړئ. بیا له خپلو ښنګلوریو ټولګیوالو سره د کیسې پیل، منځ او پای پیدا او چارټ ډک کړئ.

| پیل | | منځ (د کیسې خوکه) | پای | |
|---|---|---|---|---|
| کرکټرونه | | | د ستونزې حل | |
| ځای – زمان | | | | |
| ستونزه | | | نتیجه/ پیغام | |

**ویې ارزوئ:** د کیسې د کرکټرونو په اړه فکر وکړئ. د هر کرکټر په اړه دغو پوښتنو تـه ځـواب ووایئ:

۱. څه یې وکړل؟

۲. ولې یې وکړل؟

۳. کار یې سم او منطقي و، که نه؟ دلیل مو څه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

| فصل ۸ | اونۍ ۲ | درسي ساعت ۳ |
|---|---|---|

**بحث وکړئ: تاسې به په ډلو کې د «نیکۍ» په اړه بحث وکړئ. هر څوک به په خپله ډله کې د لاندې پوښتنو په اړه خپل نظر څرګندوي. د بحث په پای کې به د ځینو ډلو استازي د خپلې ډلې د بحث نتیجه نورو ته ووايي.**

**د بحث پوښتنې:**

۱. کوم کارونه په نیکۍ کې حسابېږي؟

۲ . نیکي کول ولې مهم دي؟

۳. له ځان سره نیکي کولی شو؟

**نومونه سره بېل کړئ: په لاندې چوکاټ کې د ذات او د معنا نومونه ګډوډ راغلي دي. تاسې يې سره بېل کړئ.**

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| دربار | خوشحالي | ماته | مُلک | ځواب | رښتيا |
| غرور | غاړه‌کۍ | غاړه | پوښتنه | لاس | پاچا |
| کبر | سره زر | ټوکي | بحث | پيغام | فکر |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وویېشئ او ویې لیکئ:** له خپلو ځنګلوریو ټولګیوالو سره لاندي کلمې پر برخو وویېشئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

| الوتل | الوتـ ـل |
|---|---|
| ټولول | |
| تېرول | |
| مړول | |
| پوښتل | |

**فکر وکړئ:** دلته د کیسې په اړه داسې پوښتنې لولئ چې ځوابونه یې په کیسه کې نشته. له ځنګلوریو ټولګیوالو سره مو د پوښتنو ځوابونه پیدا او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

۱. د کوترې بچونې چې سیند ته ولوېدل، مار چېرته ولاړ؟

۲. که کوترې سیند ته داني نه اچولای، کبانو به د هغې بچونې ژغورل؟

۳. خلک په خبرو کې ولې متلونه وایي؟

**ویې ارزوئ:** د کیسې د کرکټرونو کارونه وارزوئ او په خپلو کتابچو کې د دې پوښتنو ځوابونه ولیکئ.

۱. د کوترې کوم کار سم و، کوم ناسم؟

۲. د کبانو کار څنګه و؟

**خپل نظر ولیکئ:** د کیسې کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ د کیسې تلوسه څنګه ده؟ له دې کیسې څخه مو څه زده کړل؟په کتابچو کې مو د کیسې په اړه خپل نظر ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دريمه اونۍ

## د درس هدفونه

گرانو زده‌کوونکو! تاسې به د دې درس تر پایه پورې وکولای شئ چې:

۱. پر برخو د وېشلو له لارې، د ۴ داسې کلمو معنا پیدا کړئ چې د «ونکې» روستاړی لري؛

۲. په ډله‌ییز بحث کې د پوښتنو په اړه خپل نظر څرګند کړئ؛

۳. د ذات او معنا نومونه سره بېل کړئ؛

۴. د اوس مهال جملې په مطلق او جاري تېر مهال ته واړوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| فصل ۸ | اونۍ ۳ | درسي ساعت ۱ |
|---|---|---|

| | | |
|---|---|---|
| خر - څـ - ـوونـ - ـکی | نا - ییـ - ـتوب | جو - ړ - و - لو |
| عـ - ـجیـ - به | و - د - ر - و - له | ور - و - غوښت |

| لوحه | انعام | وفا | اعدام |
|---|---|---|---|

اټکل وکړئ: د کیسې عنوان او انځور ته وګورئ او اټکل وکړئ چې په کیسه کې به څه کېږي.



ولولئ: کیسه په ټیټ غږ ولولئ او د هرې برخې تر لوستلو وروسته یې په ذهن کې مجسم کړئ.

په پخوا زمانو کې یوه حکیم په ښار کې د خبرو دوکان جوړ کړی و. یوه ورځ پاچا ښار ته په چکر تللی و. د حکیم د دوکان لوحې ته یې وکتل چې پرې لیکلي وو «د خبرو خرڅوونکی». پاچا دوکان ته ننوت. حکیم ودرېد او درناوی یې وکړ.

پاچا وویل: ستا کار و بار راته عجیبه غوندې ښکاري. خبرې نو څوک اخلي چې ته یې خرڅوې؟

حکیم ځواب ورکړ: هوښیاران یې اخلي، صاحبه!

پاچا پوه شو چې د حکیم مطلب څه دی، نو ورته ویې ویل: پر ما هم یوه خبره خرڅه کړه.

حکیم د سرو زرو پر یوې وړې لوحې ولیکل: د خبرو سر واوره، خو د پای په اړه یې فکر وکړه.

پاچا د خبرې او د سرو زرو د لوحې پیسې ورکړې. لوحه یې یووړه او د خپل مېز له پاسه یې ودروله.

بله ورځ د پاچا وزیر د دربار نایي وروغوښت. ورو یې ورته وویل: تر کله به دا نایيتوب کوې؟ له ما سره ملګری شه چې وزیر دې کړم او مشرتوب دربارندې وکړم. خو چې لږ څه ځیرکتوب وکړې.

نایي پوښتنه وکړه: هغه څنګه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

وزیر ځواب ورکړ: زه به یې درته ووایم. دا وار چې د پاچا ږیره او ویښتان سموې، پاچا مړ کړه. پاچا چې مړ شو، زه به پاچا شم او تا به خپل وزیر کړم.

نایي په زړه کې ګوړې ماتولې او د وزیر کېدو خوبونه یې لیدل. څو ورځې وروسته، پاچا د ویښتانو او ږیرې جوړولو ته وروغوښت. نایي د پاچا د ویښتانو په جوړولو لګیا و او فکر یې کاوه چې پاچا څنګه مړ کړي. په همدې وخت کې یې د سرو زرو لوحې ته پام شو چې پرې لیکلي وو: د خبرو سر واوره، خو د پای په اړه یې فکر وکړه.

نایي، چې ځیرک انسان و، له ځانه سره یې فکر وکړ چې ښه نو، وزیر چې له خپل پاچا سره وفا نه کوي، له ما سره به څه وفا وکړي. که زه پاچا ووژنم، هغه به پاچایي ونیسي- او خلک به د پاچا د قاتل پوښتنه وکړي. نو دی به خلکو ته ما وښيي او ما به اعدام کړي چې راز یې پټ پاتې شي.

پاچا ورباندې غږ وکړ: په کوم چورت کې ډوب شوی یې؟ ولې خپل کار نه کوې؟

نایي پاچا ته ټوله کیسه وکړه. پاچا وزیر بندي کړ او نایي ته یې ښه انعام ورکړ. بیا یې د خبرو خرڅوونکی حکیم را وغوښت. حکیم ته یې وویل: ستا یوې خبرې زما ژوند وژغوره. سر له ننه به ته زما وزیر یې.

[تصویر: د زاړه ښار انځور. پاچا د یوه دوکان مخې ته ولاړ دی چې پر لوحه یې لیکل شوي دي «د خبرو خرڅوونکی» پاچا لوحې ته په حیرانۍ سره ګوري.]

**کورنۍ دنده:** له تاسو سره کله داسې شوي دي چې چا درته کومه خبره کړې وي او تاسو یې د پای په اړه فکر کړی وي؟ په دې اړه خپله خاطره ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| فصل ۸ | اونۍ ۳ | درسي ساعت ۲ |
|---|---|---|

**ووېشئ او معنا کړئ:** د چوکاټ کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکئ. بیا له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره، هره کلمه د مثال په شان پر برخو (اصلي برخه او روستاړي) ووېشئ او معنا یې پیدا کړئ.

| کلمه | اصلي برخه ـ روستاړی | د کلمې معنا |
|---|---|---|
| نایيتوب | نايي ـــ توب | **نايي** = سلمان **توب** = نوم جوړوونکی وروستاړی<br>**نایيتوب** = سلماني، نايي ګري. |
| خوندیتوب | | |
| ځیرکتوب | | |
| شومتوب | | |
| مشرتوب | | |

**د کیسې چارټ:** د کیسې چارټ په خپلو کتابچو کې رسم کړئ. بیا له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره د کیسې پیل، منځ او پای پیدا او چارټ ډک کړئ.

| پیل | | منځ (د کیسې څوکه) | پای | |
|---|---|---|---|---|
| کرکټرونه | | | د ستونزې حل | |
| ځای – زمان | | | | |
| ستونزه | | | نتیجه/ پیغام | |

**ویې ارزوئ:** د کیسې د کرکټرونو په اړه فکر وکړئ. د هر کرکټر په اړه دغو پوښتنو ته ځواب ووایئ:

۱. څه یې وکړل؟

۲. ولې یې وکړل؟

۳. کار یې سم او منطقي و، که نه؟ دلیل مو څه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بحث وکړئ:** تاسې به په ډلو کې د «ځیرکۍ» په اړه بحث وکړئ. هر څوک به په خپله ډله کې د لاندې پوښتنو په اړه خپل نظر څرګندوي. د بحث په پای کې به د ځینو ډلو استازي د خپلې ډلې د بحث نتیجه نورو ته ووايي.

**د بحث پوښتنې:**

۱. ځیرکي څه ده؟

۲ . ځیرکي څه ګټې لري؟

۳. خپله ځیرکي څنګه زیاتولی شو؟

**د فعلونو سمه بڼه وکاروئ:** لاندې جملې ولولئ او بیا مو په کتابچو کې د هرې جملې په تش ځای کې په لیندیو کې د راغلیو فعلونو مناسبه بڼه ولیکئ.

۱. نايي که هوښیاري نه وای کړې، وزیر به هغه هم واژه. (نه وای کړې – نه وی کړې)

۲. پاچا که د حکیم خبره ............. ، د وزیر په پلان نه خبرېده. (نه اخیستلې- نه وای اخیستلې)

۳. وزیر که له پاچا سره وفاداري ............... ، نه به بندي کېده. (کړې وای – کړې وی)

۴. نايي ................. شو چې د وزیر خبره ومني. (کولای - کولی)

۵. حکیم ................. شو چې هره خبره یې په اخیستلو ارزي. (ویلی - ویلای)

۶. که د حکیم خبره نه وای، پاچا به د وزیر له پلانه نه شو ............... . (خبرېدلی - خبرېدلای)

**کورنۍ دنده:** تاسو د ځیرکۍ کومه ګټه په خپله لیدلې ده؟ په دې اړه خپله تجربه ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووېشئ او ویې لیکئ: له خپلو ځنګلوریو ټولګیوالو سره لاندې کلمې پر برخو ووېشئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

| خرڅوونکی | خرڅ وونکی |
|---|---|
| جوړوونکی | |
| لیکونکی | |
| لوستونکی | |
| ښوونکی | |

فکر وکړئ: دلته د کیسې په اړه داسې پوښتنې لولئ چې ځوابونه یې په کیسه کې نشته. له ځنګلوریو ټولګیوالو سره مو د پوښتنو ځوابونه پیدا او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

۱. وزیر ولې د پاچا د وژلو لپاره نایي وټاکه؟

۲. پاچا نایي ته ولې انعام ورکړ؟

۳. په دې کیسه کې تر ټولو هوښیار کس څوک و؟

ویې ارزوئ: د کیسې د کرکټرونو کارونه وارزوئ او په خپلو کتابچو کې د دې پوښتنو ځوابونه ولیکئ.

۱. د وزیر پلان تاسو ته څنګه ښکاري؟

۲. د پاچا چلن څنګه وو؟

خپل نظر ولیکئ: د کیسې کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ د کیسې تلوسه څنګه ده؟ له دې کیسې څخه مو څه زده کړل؟په کتابچو کې مو د کیسې په اړه خپل نظر ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم ټولګی – نهم فصل

## موضوع: د علم او تکنالوژۍ نړۍ

## ژانر: معلوماتي( توضیحي)



**انسان د علم او ټکنالوژۍ په مرسته سپوږمۍ، ستوري او سیارې راسپړي.**



۱. سپوږمۍ، ستوري او سیارې څنګه راسپړل کېږي؟
۲. انسان ولې غواړي چې ستوري او سیارې وپېژني؟
۳. د ستورو او سیارو راسپړل څه ګټې لري؟
۴. ټکنالوژي د ستورو او سیارو په راسپړلو کې څه مرسته کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د فصل عمومي هدفونه

گرانو زده‌کوونکو! تاسې به په دې فصل کې وکولای شئ چې:

۱. د متن په اړه وړاندوینه وکړئ.

۲. د متن عمده ټکي او جزئیات په ډیاگرام کې وښیئ.

۳. د متن په اړه استباطي پوښتنې ځواب کړئ.

۵. متن وارزوئ.

٦. د متن په اړه خپل نظر بیان کړئ.

## د لومړۍ اونۍ خاص هدفونه

گرانو زده‌کوونکو! تاسې به د دې درس تر پایه پورې وکولای شئ چې:

۱. پر برخو د وېشلو له لارې، د ۴ داسې کلمو معنا پیدا کړئ چې د «مزلی یا پوهان» روستاړی لري؛

۲. سپوږمۍ ته د سفر په اړه وینا وکړئ؛

۳. د فعل مناسبه بڼه به په جملو کې وکاروئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| فصل ۹ | اونۍ ۱ | درسي ساعت ۱ |
|---|---|---|

| | | |
|---|---|---|
| تـ ـلسـ ـکوپ | اتو ـ موسـ ـفـ ـیر | انـ ـسا ـ نا ـ نو |
| پېـ ـژنـ ـدونـ ـکي | میـ ـلـ ـیو ـ نو ـ نه | معـ ـلو ـ مېـ ـږي |

| اتوموسفیر | قُطر | ستورمزلی | فضایي بېړۍ |
|---|---|---|---|

**فعالیت:** لاندې څو جملې لیکل شوې دي. تاسې هره جمله ولولئ او فکر وکړئ چې سمه ده که ناسمه. بیا په پنسل سره د سمې جملې مخې ته (ص) او د غلطې جملې مخې ته (غ) ولیکئ. بیا متن ولولئ چې ستاسو وړاندوینه سمه وه که نه.

۱. سپوږمۍ د یوې سیارې د مدار په شاوخوا کې حرکت کوي.

۲. انسان سپوږمۍ ته ختلی شي.

۳. په سپوږمۍ کې د څښلو اوبه او آکسیجن شته.

۴. سپوږمۍ له ځمکې سره د یوه غټ شي د ټکر له امله پیدا شوې ده.


۵. د سپوږمۍ تیاره ځایونه د سپوږمۍ سمندرونه دي.

٦. د سپوږمۍ ظاهري بڼه تغییر کوي.

**ولولئ:** لاندې متن په ټیټ غږ ولولئ. د هر پراګراف تر لوستلو وروسته، یو ځل د هماغه پراګراف په اړه د وړاندوینې جمله وګورئ. که مو وړاندوینه ناسمه وه، مخې ته یې چلیپا وکاږئ او کـه سـمه وه، د جملـې مخې ته د ( ✓ ) نښه ولیکئ.

## سپوږمۍ ته سفر

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپوږمۍ د ځمکې قمر دی. قمر هغه ګردی فضایي جسم دی چې د یوې سیارې په شاوخوا کې ګرځي. سپوږمۍ هره میاشت یو ځل د ځمکې ګرد چاپېره تاوېږي او د ځمکې تر ټولو نږدې ګاونډۍ ده. د ټِلِسکوپ په مرسته سپوږمۍ واضحه لیدلی شو. د سپوږمۍ قطر د ځمکې تر قطر څلور واری لنډ دی.

سپوږمۍ څنګه پیدا شوې ده؟ زیاتره ستورپوهان په دې نظر دي چې میلیونونه کاله مخکې یو غټ آسماني شی له ځمکې سره ټکر شو. د دې ټکر له امله د ځمکې او د دې شي ټوټې د فضا خوا ته ولاړې. دغه ټوټې د وخت په تېرېدو سره، یو ځای شوې او سپوږمۍ یې جوړه کړه. همدا دلیل دی چې د سپوږمۍ د سطحې ځینې ډبرې د ځمکې له ډبرو بدلې دي.

انسان سپوږمۍ ته ختلی شي؟ تر اوسه پورې دولس تنه ستورمزلي سپوږمۍ ته ختلي دي. لومړني ستورمزلي اډوین آلډرین او نیل آرمسټرانګ وو چې په ۱۹۶۹ میلادي کال سپوږمۍ ته ولاړل. آرمسټرانګ لومړنی ستور مزلی و چې پر سپوږمۍ یې قدم کېښود او له آلډرین سره درې ساعته پر سپوږمۍ وګرځېد. له دې وروسته نورې فضایي بېړۍ هم سپوږمۍ ته ولېږل شوې. په سپوږمۍ کې هوا، د څښلو اوبه او آکسیجن نشته، نو ستورمزلي چې هلته ځي آکسیجن او اوبه باید ورسره یوسي.

په سپوږمۍ کې سمندرونه شته؟ که مو پام شوی وي، په سپوږمۍ کې ځینې ځایونه روښانه ښکاري او ځینې ځایونه تیاره. پخواني ستورپوهان په دې باور وو چې کېدای شي د سپوږمۍ تیاره ځایونه سمندرونه وي. دوی دا ځایونه «ماریا» بللي وو. ماریا په لاتیني ژبه کې سمندر ته وایي. اوس معلومه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې ده چې دا تياره برخې لويې دښتې دي، خو تر اوسه پورې هم د سپوږمۍ د سمندرونو په نامه مشهورې دي.

د سپوږمۍ ظاهري بڼه ولې تغيير کوي؟ کله چې سپوږمۍ ته گورو، داسې ښکاري چې د سپوږمۍ بڼه تغيير کوي، ځکه چې موږ يوازې د سپوږمۍ هغه برخه وينو چې لمر روښانه کړې وي. د مياشتې په سر کې د سپوږمۍ تياره خوا ځمکې ته مخامخ وي، نو موږ يې په سترگو نه وينو. کله چې سپوږمۍ د ځمکې چاپيره گرځي، د لمر وړانگو ته ورو ورو برابرېږي. په لومړي سر کې د سپوږمۍ د څنډې پر يوې وړې برخې لمر لگېږي او موږ يې د لور په بڼه وينو. دې حالت ته هلال وايي. د هرې شپې په تېرېدو سره د سپوږمۍ لا زياته برخه روښانه کېږي او دا حالت تر هغه وخته پورې دوام کوي چې ټوله سپوږمۍ د دايرې غوندې روښانه شي. دې حالت ته د څوار لسمې سپوږمۍ وايي. وروسته سپوږمۍ داسې حرکت کوي چې ورو ورو د لمر له وړانگو څخه پټېږي او د سپوږمۍ څنډه تياره کېږي. دا تياره برخه وار په وار سره زياتېږي، تر هغې پورې چې يو مخ تياره شي. په دې وخت کې بله مياشت پيلېږي او دغه بهير له سره تکرارېږي.

منابع: دايره المعارف پرسش ها و پاسخ ها ـ مترجم: مجيد عميق

**نوشته شده توسط:** Hedayatullah Zaheb **ژباړه: عبدالهادي مومند**

**کورنۍ دنده:** که تاسې د سپوږمۍ په اړه نور معلومات لرئ، ويې ليکئ يا د کورنۍ له بل غړي څخه مرسته وغواړئ او په بل درسي ساعت کې يې له خپلو ټولگيوالو سره شريک کړئ.


(c) ketabton.com: The Digital Library



**ووېشۍ او معنا کړئ:** د چوکاټ کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکئ. بیا له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره، هره کلمه د مثال په شان پر برخو (اصلي برخه او روستاړي) ووېشئ او معنا یې پیدا کړئ.

| کلمه | اصلي برخه ـ روستاړی | د کلمې معنا |
|---|---|---|
| ستورمزلی | ستور ـ مزلی | ستور = ستوری، مزلی = مزل کوونکی، سفر کوونکی<br>ستور مزلی: هغه څوک چې فضا ته سفر کوي. |
| غرمزلی | | |
| ځمکپوهان | | |
| ستورپوهان | | |
| ژبپوهان | | |

**د معلوماتو جال:** د معلوماتو جال په خپلو کتابچو کې رسم کړئ. بیا د جال هره برخه د متن د معلوماتو له مخې ډکه کړئ.




**وارزوئ:** د سپوږمۍ په اړه متن وارزوئ او دې پوښتنو ته ځواب ووایئ:

۱. په متن کې کومې کلمې درته سختې او نا آشنا وې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲. معلومات يې څومره په زړه پورې وو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

| فصل ۹ | اونۍ ۱ | درسي ساعت ۳ |
|---|---|---|

**وينا:** ستاسو څو تنه ټولګيوال به سپوږمۍ ته د سفر په اړه ويناوې وکړي. تاسې به د هغوی خبرو ته غوږ نيسئ، د وينا مهم ټکي به يې ليکئ او که مو پوښتنې درلودې، د وينا په پای کې به يې پوښتئ.

**د فعل مناسبې بڼې وکاروئ:** لاندې جملې ولولئ او په خپلو کتابچو کې يې وليکئ. بيا د هرې جملې تش ځای په لينديو کې د راغليو فعلونو په مناسبه بڼه ډک کړئ.

۱. آرمسټرانګ لومړنی ستورمزلی و چې سپوږمۍ ته ختلی دی. — **ختلی ـ ختلای**

۲. که سپوږمۍ د ځمکې چاپېره حرکت نه ......، هره شپه به مو ډېره تياره وه. — **کولای ـ کوي**

۳. که په سپوږمۍ کې سمندرونه ........، ستورمزلي به په بېړۍ کې په کې ګرځېدل. — **وای ـ وي**

۴. که په سپوږمۍ کې آکسيجن ...... ستورمزلو به ډېر وخت په کې تېرولای. — **وي ـ وای**

۵. که هغه غټ شی له ځمکې سره نه ......... سپوږمۍ به نه وه. — **ټکرېدای – ټکر شوی**

**کورنۍ دنده:** نن تاسو د خپلو څو ټولګيوالو ويناوې واورېدې. د دوی په ويناوو کې کوم ټکي درته نوي او په زړه پورې وو. په دې اړه څو جملې وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ووېشئ او ويې ليکئ:** له خپلو ټنګلوريو ټولګيوالو سره لاندې کلمې پر برخو ووېشئ او په خپلو کتابچو کې يې وليکئ.

| فضايي | فضا ـ يي |
|---|---|
| ظاهري | |
| معلومېږي | |
| برابرېږي | |
| سمندرونه | |
| ميليونونه | |

**فکر وکړئ:** دلته د کيسې په اړه داسې پوښتنې لولئ چې ځوابونه يې په کيسه کې نشته. له ټنګلوريو ټولګيوالو سره مو د پوښتنو ځوابونه پيدا او په خپلو کتابچو کې يې وليکئ.

۱. ستورمزلي سپوږمۍ ته ولې خېژي؟

۲. سپوږمۍ له ځمکې سره څه توپير لري؟

۳. له سپوږمۍ څخه به ځمکه څنګه ښکاري؟

**ويې ارزوئ:** د کيسې د کرکټرونو کارونه وارزوئ او په خپلو کتابچو کې د دې پوښتنو ځوابونه وليکئ.

۱. د متن جملې د وضاحت په لحاظ څنګه وې؟

۲. د متن کومې جملې رواني لوستل کېدې او د کومو جملو لوستل ګران وو؟

**خپل نظر وليکئ:** د متن کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ له دې متن څخه مو څه زده کړل؟په کتابچو کې مو د کيسې په اړه خپل نظر وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دوهمې اونۍ خاص هدفونه

گرانو زده‌کوونکو! تاسې به د دې درس تر پایه پورې وکولای شئ چې:

۱. پر برخو د وېشلو له لارې، د ۴ داسې کلمو معنا پیدا کړئ چې د «یز» روستاړی لري؛

۲. د کمپیوټر په اړه وینا وکړئ؛

۳. د فعل مناسبه بڼه به په جملو کې وکاروئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| مُــحاـسِــبه | هېــوا ـ دو ـ نه | کــتا ـ بو ـ نه |
| سو ـ دا ـ گــرۍ | کا ـ ر ـ وون ـ ـکي | مصــرَ ـ فَــو ـ له |

اختراع | هارډ وير | ښوونيز | پروګرام

**اټکل وکړئ:** لاندې څو جملې ليکل شوې دي. تاسې هره جمله ولولئ او فکر وکړئ چې سمه ده که ناسمه. بيا په پنسل سره د سمې جملې مخې ته (ص) او د غلطې جملې مخې ته (غ) وليکئ. بيا متن ولولئ چې ستاسو وړاندوينه سمه وه که نه.

۱. کمپيوټر پر محاسبو سربېره د ژوند په نورو برخو کې ډېر نه کارول کېږي.

۲. له کمپيوټر څخه د کتابونو په چاپ کې ګټه اخيستل کېږي.

۳. پخواني او اوسني کمپيوټرونه هېڅ توپير نه لري.

۴. کمپيوټر برېښنايي (الکترونيکي) ماشين دی.

۵. کمپيوټر له څلورو برخو څخه جوړ شوی دی.

٦. د کمپيوټر ډېره مهمه برخه سيپيو (CPU) ده.

**ولولئ:** لاندې متن په ټيټ غږ ولولئ. د هر پراګراف تر لوستلو وروسته، يو ځل د هماغه پراګراف په اړه د وړاندوينې جمله وګورئ. که مو وړاندوينه ناسمه وه، مخې ته يې چليپا وکاږئ او که سمه وه، د جملې مخې ته د ( ✓ ) نښه وليکئ

## کمپيوټر

کمپيوټر يو برېښنايي (الکترونيکي) ماشين دی چې په لږ وخت کې ډېر کارونه سم ترسره کوي. کمپيوټر د کمپيوټ (compute) له کلمې څخه اخيستل شوی دی چې معنا يې شمېرنه يا محاسبه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا نوم ځمکه ورته ټاکل شوی دی چې په لومړیو کې کمپیوټر یوازې د محاسبو لپاره کارول کېده. کمپیوټر په ۱۹۴۰ کال کې اختراع شوی دی. لومړني کمپیوټرونه ډېر غټ وو، دومره غټ چې ایله په لویه کوټه کې ځایېدل او همدا شان ډېر درانه وو. هغو کمپیوټرونو ډېره برېښنا مصرفوله، کار یې پڅ او حافظه یې ډېره کمه وه. هغه کمپیوټرونه ژر تودېدل او په بیه ډېر گران وو. هاغه مهال کمپیوټرونه یوازې په پوځي او څېړنیزو کارونو کې کارول کېدل. وروسته پوهانو ډېره خواري وکړه چې دا ستونزې لرې کړي او اوس یې داسې کمپیوټرونو جوړ کړي دي چې ډېر کوچني او سپک دي، بیه یې ټیټه او کار یې ډېر ښه دی. اوسني کمپیوټرونه برېښنا ډېره کمه مصرفوي، ژر نه تودېږي، حافظه یې ډېره زیاته ده او ډېر چټک کار کوي.

کمپیوټر له دوو برخو څخه جوړ دی: ۱) سافټ ویر؛ ۲) هارډ ویر. سافټ ویر په سترگو لیدلی شئ، خو لمس کولی یې نه شئ. د کمپیوټر ټول پروگرامونه د کمپیوټر سافټ ویرونه دي لکه: وینډوز، آفیس او نور. هارډ ویر د کمپیوټر پرزې دي چې لمس کولی یې شئ، لکه: مانیتور، سي پي یو، موس، کیبورډ او داسې نور. کاروونکي معلومات د کیبورډ او موس له لارې کمپیوټر ته ورکوي. په کمپیوټر کې دا معلومات زېرمه کېږي او بیا دا معلومات بدلولی رابدلولی شو. سي پي یو (CPU) د کمپیوټر ډېره مهمه برخه ده چې د کمپیوټر ټول کارونه کنټرولوي. بله برخه یې تلویزیون ته ورته پرده (مانیتور) ده. هر کار چې په کمپیوټر ترسره کېږي، پر مونیتور یې وینو.

نن سبا کمپیوټر په ښوونه او رزونه، طب او انجینیرۍ، سوداگرۍ، هنرونو، فابریکو، دفتري کارونو او د ژوند په ډېر نورو برخو کې کارول کېږي. درسي کتابونه او نور ښوونیز مواد په کمپیوټرونو کې جوړېږي. ډاکټران د ناروغانو د تشخیصولو لپاره کمپیوټري وسایل کاروي. انجینیران د ودانیو، سړکونو او پلونو نقشې په کمپیوټر جوړوي. سوداگران د خپلې سوداگرۍ معلومات په کمپیوټرونو کې ساتي. له کمپیوټر څخه د خطاطۍ، رسامۍ، موسیقۍ، فلم جوړولو او نورو هنرونو لپاره کار اخیستل کېږي. د فابریکو ماشینونه په کمپیوټرونو کنټرولېږي. په دفترونو کې اسناد، مکتوبونه، او نور معلومات په کمپیوټرونو لیکل کېږي او ساتل کېږي. په ډېرو هېوادونو کې د پیسو راکړه ورکړه په کمپیوټر ترسره کېږي. د برېښنا، اوبو، گازو او نور بیلونه د کمپیوټر په وسیله پرې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډه دا چې کمپیوټر کارونه ډېر آسانه کړي دي. کمپیوټر چټک کار کوي، کار يې سم وي، په لږ ځای کې خورا ډېر معلومات زېرمه کوي او نن سبا په ډېرو چارو کې کمپیوټرونه کارول کېږي.

[تصویر: د کمپیوتر عکس سره له نورو اجزاوو سره را وړل شي. )

Mine coins - make money: http://bit.ly/money_crypto[

ـ د لسم ټولګي د کمپیوټر درسي کتاب چاپ کال ۱۳۹۸

**کورنۍ دنده:** تاسې د کمپیوټر په اړه نور کوم معلومات لرئ؟ په دې اړه يو پراګراف ولیکئ.


(c) ketabton.com: The Digital Library



**وویښئ او معنا کړئ:** د چوکاټ کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکئ. بیا له خپلو ځنګلوریو ټولګیوالو سره، هره کلمه د مثال په شان پر برخو (اصلي برخه او روستاړي) وویشئ او معنا یې پیدا کړئ.

| کلمه | اصلي برخه ـ روستاړی | د کلمې معنا |
|---|---|---|
| خېړنیز | خېړن ــــ یز | **خېړنه** = د نامعلومو شیانو د معلومولو هڅه، **یز** = صفتي روستاړی<br>**خېړنیز** = څه چې په خېړنې پورې اړه ولري. |
| ښوونیز | | |
| روزنیز | | |
| کرنیز | | |
| پوهنیز | | |

**د معلوماتو جال:** د معلوماتو جال په خپلو کتابچو کې رسم کړئ. بیا د جال هره برخه د متن د معلوماتو له مخې ډکه کړئ.




**وارزوئ:** د «کمپیوټر» متن وارزوئ او دې پوښتنو ته ځواب ووایئ:

۱. په متن کې کومې کلمې درته سختې او نا آشنا وې؟

۲. معلومات یې څومره په زړه پورې وو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وینا:** ستاسو څو تنه ټولګیوال به د کمپیوټر په اړه وینا وکړي. تاسې به د هغوی خبرو ته غوږ نیسئ، د وینا مهم ټکي به یې لیکئ او که مو پوښتنې درلودې، د وینا په پای کې به یې پوښتئ.

**د فعل مناسبه بڼه وکاروئ:** لاندې جملې ولولئ او بیا مو په کتابچو کې د هرې جملې په تش ځای کې په لیندیو کې د راغلیو فعلونو مناسبه بڼه ولیکئ.

| | |
|---|---|
| ۱. کمپیوټر یو برېښنایي وسیله ده چې معلومات ساتلی شي. | ساتلی ـ ساتلای |
| ۲. کمپیوټر ډېر کار په لږ وخت کې سرته ........ شي. | رسولی ـ رسولای |
| ۳. په کمپیوټر کې کتابونه او ویډیوګانې ساتلی او ....... شو. | کتلی ـ کتلای |
| ۴. سافټ ویر لمس....... نه شو. | کولای ـ کولی |
| ۵. هارډ ویر هغه پرزې دي چې په سترګو یې .......... شو. | لیدلی ـ لیدلای |

**کورنۍ دنده:** نن تاسو د خپلو څو ټولګیوالو ویناوې واورېدې. د دوی په ویناوو کې کوم ټکي درته نوي او په زړه پورې وو. په دې اړه څو جملې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وویېشئ او ولیکئ:** د ښوونکي/ ښوونکې په لارښوونه لاندې کلمې په خپلو کتابچو کې پر برخو وویېشئ او ویې لیکئ.

| کاروونکي | کار - وونکي |
|---|---|
| برېښنايي | |
| کارول | |
| سافټویر | |
| هارډویر | |

**فکر وکړئ:** دلته څو استنباطي پوښتنې لولئ چې ځواب يې په متن کې نشته. پوښتنې په خپلو کتابچو کې ولیکئ او ځوابونه يې د ښوونکي/ ښوونکې په لارښوونه ولیکئ.

۱. پخوا چې کمپیوټر نه و، د ښوونځیو او دفترونو کارونه په څه شي ترسره کېدل؟

۲. که کمپیوټر نه وای، کومې ستونزې به مو درلودلای؟

۳. شل کاله وروسته به څنګه کمپیوټرونه جوړ شي؟

**ویې ارزوئ:** د دې اونۍ متن وارزوئ او په خپلو کتابچو کې د دې پوښتنو ځوابونه ولیکئ.

۱. د متن جملې د وضاحت په لحاظ څنګه وې؟

۲. د متن کومې جملې رواني لوستل کېدې او د کومو جملو لوستل ګران وو؟

**خپل نظر ولیکئ:** د متن کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟له دې متن څخه مو څه زده کړل؟په کتابچو کې مو د کیسې په اړه خپل نظر ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د درېیمې اونۍ خاص هدفونه

گرانو زده‌کوونکو! تاسې به د دې درس تر پایه پورې وکولای شئ چې:

۱. پر برخو د وېشلو له لارې، د ۴ داسې کلمو معنا پیدا کړئ چې د «ور» روستاړی لري؛

۲. د خپلې سیمې د مېوو دانو په اړه وینا وکړئ؛

۳. د فعل مناسبه بڼه به په جملو کې وکاروئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| فصل ۹ | اونۍ ۳ | درسي ساعت ۱ |
|---|---|---|

| | | |
|---|---|---|
| نعـــمــتو ـنه | عبـــدالــو ـکیل | مـــطا ـلـــعه |
| ویـــټا ـمیـــنو ـنه | حـــجـــرا ـتو | هضـــمـــو ـلی |

| اشتها | ویټامینونه | ذهني کارونه | تقویه |
|---|---|---|---|

**اټکل وکړئ:** لاندې څو جملې لیکل شوې دي. تاسې هره جمله ولولئ او فکر وکړئ چې سمه ده که ناسمه. بیا په پنسل سره د سمې جملې مخې ته (ص) او د غلطې جملې مخې ته (غ) ولیکئ. بیا متن ولولئ چې ستاسو وړاندوینه سمه وه که نه.

۱. څوک چې ذهني کارونه کوي، مڼه دې ډېره خوري.

۲. د مڼې پوستکی ګټه نه لري.

۳. د مڼې خوړل د مسواک وهلو هومره ګټه لري.

۴. ډاکټر عبدالوکیل د مڼو نیالګي له بهره راوړل.

۵. مڼه مو ډېر وخت موړ نه ساتي.

**ولولئ:** لاندې متن په ټیټ غږ ولولئ. د هر پراګراف تر لوستلو وروسته، یو ځل د هماغه پراګراف په اړه د وړاندوینې جمله وګورئ. که مو وړاندوینه ناسمه وه، مخې ته یې چلیپا وکاږئ او که سمه وه، د جملې مخې ته د ( ✓ ) نښه ولیکئ

## د مڼو ګټې

مڼه د الله ج په هغو نعمتونو کې ده چې بدن ته ډېرې ګټې لري. مڼه ماغزه آراموي او انسان ته د خوښۍ احساس ورکوي. څوک چې ذهني کارونه کوي، مڼه ورته ډېره ښه ده. د مڼې خوړل خولې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

غاښونو ته هم ګټه لري. د يوې منې خوړل د غاښونو لپاره د مسواک وهلو هومره ګټور دي. منه اشتها ډېروي او نس ناستی له منځه وړي. خامه منه بايد ونه خورو، ځکه چې دماغ او حافظه کمزوري کوي.

تاسو به پوښتنه وکړئ چې منه سپينه کړو که يې له پوستکي سره وخورو؟ د منې په پوستکي کې څو ډوله ويټامينونه او فلانويد شته. فلانويد په نورو مېوو کې دومره نشته لکه څومره چې د منې په پوستکي کې دي، ځکه خو د منې پوستکی د درملو په شان ګټور دی. د منې پوستکی د زوکام او ځينو نورو ناروغيو په وړاندې بدن تقويه کوي او مقاومت يې زياتوي. نو ښه ده چې منه له پوستکي سره وخورو.

يوه وړه تجربه: که وږی يا وږې يې، يو دانه چاکليټ وخوره او وخت درسره قيد کړه چې څومره وخت وروسته بيا د لوږې احساس کوې. بل ځل چې وږی/ وږې شوې، يوه منه وخوره او د لومړي ځل په څېر وخت ته پام وکړه. په درېيم ځل چې وږی شوې، د منې جوس وڅښه او وخت ته وګوره چې څومره وخت وروسته بيا د لوږې احساس کوې.

دا به درته ښکاره شي چې د چاکليټو له خوړلو څو شېبې وروسته بيا هم وږی کېږې. د جوس له څښلو څخه پوره شل دقيقې وروسته او د منې په خوړلو سره به پوره يو ساعت وروسته د لوږې احساس وکړې. سره له دې چې د چاکليټ، جوس او منې کالوري (انرژي) تقريباً په يوه اندازه ده، خو د منې ګټې ډېرې دي. نو غوره به دا وي چې هغه خواړه وخورو چې ګټه يې ډېره وي، لکه منه او نورې مېوې او ترکاری.

منې د پيسو د پيدا کولو لپاره هم ښې دي. ډاکټر عبدالوکيل چې د کرنې وزير و، د منو اقتصادي ګټې ورته ښې معلومې وې. هغه د منو د مختلفو ډولونو نيالګي له بهره راوړل او په خلکو يې وويشل چې باغونه جوړ کړي. اوس مهال د ميدان وردګو او لوګر اکثره وګړي د منو ښه باغونه لري او هر کال زرګونه ټنه منې ترلاسه کوي. د ډېرو کورنيو ژوند د منو په خرڅلاو چلېږي.

نو منه سربېره پر دې چې خوندوره مېوه ده، د انسان د صحت له پاره ډېره ګټوره هم ده. په منو کې داسې مواد او ويټامينونه شته چې د درملو په شان ګټور دي، ځکه خو ځينې خلک وايي «چې منه وي، ډاکټر ته اړتيا نشته.» همدارنګه منې په ښه بيه خرڅېږي او د بڼوالو ژوند پرې جوړ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

https://yaraan.com/apple-and-its-benefits/

کابل ټکی کام ۱۳۹٦ سلواغه ۱۴ فرید افغان/ https://kabull.com/?p=49028

مدینه ساپی https://afghanwatan.com/?p=12301

**کورنۍ دنده:** د خپلې کورنۍ په مرسته د مڼو څو نورې ګټې ولیکئ.


(c) ketabton.com: The Digital Library



**ووېشئ او معنا کړئ:** د چوکاټ کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکئ. بیا له خپلو څنګلوريو ټولګیوالو سره، هره کلمه د مثال په شان پر برخو (اصلي برخه او روستاړي) ووېشئ او معنا یې پیدا کړئ.

| کلمه | اصلي برخه ـ روستاړی | د کلمې معنا |
|---|---|---|
| ګټور | ګټه ـــ ور | **ګټه** = فایده، **ور** = صفتي روستاړی<br>**ګټور** = څه چې ګټه ولري. |
| خوندور | | |
| هېوور | | |
| زړور | | |
| برېتور | | |

**د معلوماتو جال:** د معلوماتو جال په خپلو کتابچو کې رسم کړئ. بیا د جال هره برخه د متن د معلوماتو له مخې ډکه کړئ.




**وارزوئ:** د « کمپیوټر» متن وارزوئ او دې پوښتنو ته ځواب ووایئ:

۱. په متن کې کومې کلمې درته سختې او نا آشنا وې؟

۲. معلومات یې څومره په زړه پورې وو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وينا:** ستاسو څو تنه ټولګيوال به د خپلې سيمې د مېوو - دانو په اړه ويناوې وکړي. تاسې به د هغوی خبرو ته غوږ نيسئ، د وينا مهم ټکي به يې ليکئ او که مو پوښتنې درلودې، د وينا په پای کې به يې پوښتئ.

**د فعل مناسبه بڼه وکاروئ:** لاندې جملې ولولئ او بيا مو په کتابچو کې د هرې جملې په تش ځای کې په ليندیو کې د راغليو فعلونو مناسبه بڼه وليکئ.

| | |
|---|---|
| ۱. د يوې منې خوړل دومره ګټه لري، لکه مسواک مو چې....... وي. | کارولای ـ کارولی |
| ۲. که د منې پوستکی ......... شئ، نو له پوستکي سره يې وخورئ. | هضمولی ــ هضمولای |
| ۳. د منې خوړل خولې او غاښونو ته هم زياته ګټه....... | لري ـ لرلای شي |
| ۴. مڼه د ناروغيو په مقابل کې وجود تقويه ........ شي. | کولای ـ کولی |
| ۵. د منې خوراک د مخ ګونځې ........ شي | ختمولی ـ ختمولای |

**کورنۍ دنده:** نن تاسو د خپلو څو ټولګيوالو ويناوې واورېدې. د دوی په ويناوو کې کوم ټکي درته نوي او په زړه پورې وو. په دې اړه څو جملې وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**فصل ۹ — اونۍ ۳ — درسي ساعت ۴**

**ووېشئ او ولیکئ:** د ښوونکي/ ښوونکې په لارښوونه لاندې کلمې په خپلو کتابچو کې پر برخو ووېشئ او وې لیکئ.

| ویټامینونه | ویتامین ـ ونه |
|---|---|
| باغونه | |
| کارونه | |
| غاښونه | |
| ډولونه | |

**فکر وکړئ:** دلته څو استنباطي پوښتنې لولئ چې ځواب يې په متن کې نشته. پوښتنې په خپلو کتابچو کې ولیکئ او ځوابونه یې د ښوونکي/ ښوونکې په لارښوونه ولیکئ.

۱. د مېو ګټې څنګه معلومېږي؟

۲. ډاکټران ولې ناروغانو ته وايي چې مېوې ډېرې خورئ؟

۳. مخکې له هغې چې ډاکټر وکیل خلکو ته مېو نیالګي ورکړي، خلکو څه کړل؟

**ويې ارزوئ:** د دې اونۍ متن وارزوئ او په خپلو کتابچو کې د دې پوښتنو ځوابونه ولیکئ.

۱. د متن جملې د وضاحت په لحاظ څنګه وې؟

۲. د متن کومې جملې رواني لوستل کېدې او د کومو جملو لوستل ګران وو؟

**خپل نظر ولیکئ:** د متن کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ له دې متن څخه مو څه زده کړل؟په کتابچو کې مو د کیسې په اړه خپل نظر ولیکئ.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**